د پوهني وزارت

د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د
روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تألیف لوی ریاست

# د ښوونکي کتاب
# د تفسیــــر شریــف
# د تدریس لارښود

## یوولسم ټولگی




Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۹۲ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پوهنې وزارت**
د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د
روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# د ښوونکي کتاب

# د تفسیر د تدریس لارښود

# یوولسم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۲ هـــ. ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لیکوالان:**

- سخي جان "احمدزی"
- ګل آقا "شایق"

**علمي او مسلکي ایډیټ:**

- شیر علي همت

**د ژبې ایډیټ:**

- محمد قدوس زکوخیل

**دیني ، سیاسي او فرهنګي کمیټه:**

- محمد آصف کوچی

**د څارنې کمیټه:**

- دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین
- دکتور شیر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې مسؤول
- د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس.

**طرح او ډیزاین:**

- حمید الله غفاری
- محمد مصعب نائل

**د چاپ د سمون چارې:** محمد کبیر حقمل د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو رئیس

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی     دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې     هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی     د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو     د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، ګوجر دي     پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي     هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي     لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به     لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مودی رهبر     وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د پوهنې د وزير پيغام

## گرانو استادانو او ښوونکو،

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختيا او پرمختگ بنسټ جوړوي. تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکي دي چې د علمي پرمختگ او ټولنې د اړتياوو له مخې چمتوکيږي. څرگنده ده چې علمي پرمختگ او ټولنيزې اړتياوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعليمي نصاب هم د وخت له غوښتنوسره سم علمي او رغنده پراختيا ومومي. البته نه ښايي چې تعليمي نصاب د سياسي بدلونونو او د اشخاصو د نظريو او هيلو تابع شي.

د ښوونکی د لارښود دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې بنسټ چمتو اوترتيب شوی دی. د تدريس د نويو ميتودونو له مخې فعاليتونه او معلوماتي مواد په کې ورزيات شوي دي چې په ډاډ سره به د زده‌کړې په بهير کې د زده‌کوونکو د فعال ساتلو لپاره گټور او اغېزمن وي.

هيله من يم د دې کتاب منځپانگه، چې د فعالې زده‌کړې د ميتودونو د کارولو له لارې تاليف او چمتو شوې، ستاسو درنو استادانو د گټې وړ وگرځي. له فرصت څخه په استفادې د زده‌کوونکو له ميندو او پلرونو څخه غوښتنه کيږي چې د خپلو لوڼو او زامنو په باکيفيته ښوونه او روزنه کې پرله پسې مرسته وکړي څو په دې توگه د پوهنې د نظام موخې او هيلې ترسره شي او ځوان نسل او هېواد ته ښې پايلې او برياوې ور په برخه کړي.

زموږ گران استادان او ښوونکي د تعليمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او دروند مسئوليت لري.

د پوهنې وزارت تل زيار کاږي چې د پوهنې تعليمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دين له بنسټونو او ارزښتونو، د ټولنې د څرگندو اړتياوو، ملي گټو او وطنپالنې له روحيې او د ساينس او تکنالوژۍ له نوو علمي معيارونو سره سم پراختيا ومومي.

ددې سترې ملي موخې د تر لاسه کولو لپاره د هېواد له ټولو علمي شخصيتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له ميندو او پلرونو څخه هيله لرم چې د خپلو نظريو او رغنده گټورو وړانديزونو له لا ر ې زموږ له مؤلفانو سره د درسي او د ښوونکي د لارښود دکتابونو په لا ښه تاليف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه، چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتيب کې يې برخه اخيستې او همدارنگه له ملي او نړيوالو درنو موسسو او نورو ملگرو هېوادونو څخه، چې د نوي تعليمي نصاب په چمتو کولو او تدوين او د درسي او د ښوونکي د لارښود کتابونو په چاپ او وېش کې يې مادي يا معنوي مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم او د لا نورو مرستو هيله يې لرم.

ومن الله التوفيق

فاروق وردک

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سرليکونه

سرليک ............................................................................................................مخ

په کائناتو کې د الله جل جلاله د وجود او وحدانيت دلايل ........................................................۱

په کائناتو کې د الله جل جلاله دوجود او وحدانيت دلايل ........................................................۵

ه قرآن کريم کې د انسان د پيدايښت پړاوونه. ...........................................................۷

د بنی آدم وقار او درنښت ..................................................................................۱۱

ايت الکرسي د قرآن کريم لوړه څوکه. ......................................................................۱۴

ځمکه د انسان د ګټې لپاره ..................................................................................۱۸

د الله جل جلاله سره مينه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم په پيروی کې ده. .....................................۲۲

اسلام بشپړ او هر اړخيز دين دي. ...........................................................................۲۶

لمونځ تل پاتې او نه شليدونکې فريضه ده. .................................................................۳۰

د ظلم د مخنيوي لپاره د جهاد اجازه.......................................................................۳۶

روژه او ګټې يې ...............................................................................................۴۰

حج د مؤمنانو د نړيوال يو والي ځرګندوی ....................................................................۴۴

د خلکو سره نيکی او ښېګنه...................................................................................۴۸

د حلالې روزی خوړل او له حرامو ډډه کول ....................................................................۵۳

د الله جل جلاله په لار کې انفاق(مال لګول) ...................................................................۵۸

په قرآن کريم کې انساني مساوات (برابروالی)....................................................................۶۳

د الله جل جلاله د خاصو بندګانو صفتونه .......................................................................۶۶

د ټولنې په تهذيب کې د مؤمنانو ونډه ...........................................................................۷۰

په اسلام کې د معيوبو او فقيرو مؤمنانو مرتبه ...................................................................۷۵

د مؤمنانو يو والي. ................................................................................................۷۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لومړي لوست**

## سرلیک: په کائناتو کې د الله جل جلاله د وجود او وحدانیت دلایل

**مخ:** ۱ـ۴

**وخت:** درې درسي ساعتونه

**موخې: زده کوونکي باید:**

۱ـ د بقرې د سورت(۱۶۴)آیت په ښه شان تلاوت کړي.

۲ـ د درسي کتاب د لومړۍ برخې د ژباړې او تفسیر په هکله د الله تعالی د وحدانیت او الوهیت په دلیلونو معلومات تر لاسه کړي.

۳ـ د ځمکو او اسمانونو پیدایښت او د شپو او ورځو بدلون، په سمندر کې د کښتیو تګ راتګ د تکویني آیتونو له نظره او د ساینس او تکنالوژي علومو له نظره تحلیل او تجزیه کړای شي.

۴ـ د لوست د لومړۍ برخې پیغام دوستانو ته ولوستلی شي.

**د ښوونکي لپاره اضافي معلومات:**

**په کایناتو کې د الله د وجود او وحدانیت دلایل**

په قرآن کریم کې زیات آیتونه په صراحت سره ددې خبرې وضاحت کوي چې دا ټول کائنات د الله تعالی په وجود او وحدانیت او دده په عظمت او قدرت او دا چې یوازې دده عبادت او بندګي وشي او باید یوازې دغه ذات د کائناتو واکمن او حاکم وګڼل شي. د بېلګې په توګه په لاندې توګه بیانیږي:

ځمکه او آسمانونه او په هغو کې مخلوقات او ټول کائنات صرف د لوبو او ساعت تیرۍ لپاره نه دي پیدا کړای شوي، بلکې دا کار د لوړ حکمت په اساس سرته رسیدلی دی، لکه چې الله ﷻ فرمایي: "رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذا بَاطِلاً" یعنې ای زموږه ربه! تا دا هر څه عبث او بابیزه نه دي پیدا کړي. او بل ځای الله ﷻ فرمایي "وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاءَ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لَاعِبِينَ" یعنې موږ آسمان او ځمکه او هغه څه چې د آسمان او ځمکې په منځ کې دي د لوبو په توګه نه دي پیدا کړي. یا د الله ﷻ دا وینا:" أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ " نو آیا تاسې دا انګیرلې ده چې موږ تاسې همداسې عبث او بې فائدې پیدا کړي یاست او تاسې به بیرته زموږ لوري ته راستانه نه شئ.

هو! الله ﷻ دا ټول کائنات د حق او د الله تعالی د وحدانیت پیژندنې پر بنسټ پیدا کړي دي او یوازې د خپل ذاتي حق په اساس ورباندې حکومت کوي او یوازې همدا پیداکوونکي په کائناتو کې د حکمرانۍ حق لري، لکه چې الله ﷻ فرمایي "قُلْ إِنَّ الأَمْرَ كُلَّهُ لِلَّهِ" یعني ورته ووایه چې ټول (سیاسي) امر او حکم د یوه الله ﷻ دی، بل ځای الله ﷻ فرمایي "إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ" یعني الله ﷻ مطلق حاکم دی، پوره واکمن دی، څه یې چې خوښه وي حکم کوي. او یو شاعر هم وایي:

برگ سبز درختان از نظر هوشیار     هر ورقش دفتریست معرفت کردگار

(c) ketabton.com: The Digital Library

د الله تعالی وجود او یووالی په مختلفو لاملونو ثابت دی. یعنی الله یو دی ځکه په مخلوقاتو کې یې مثل او سیال نشته او نه څوک ورسره برابریدلای شی نو باید یو ورته ووایو.

همدارنګه الله یو دی دعبادت په حقداریٔ کې یعنی له ده څخه پرته بل څوک د عبادت حقدار نشته.الله یو او واحد دی په ازلي او ابدی کیدلو سره یعنی الله هغه وخت هم موجود ؤ چې کله هیڅ شی موجود نه ؤ اوهغه وخت به هم وي چې کله هیڅ شی موجود پاتې نه شی، نو ددې حقدار دی چې واحد ورته وویل شي.

همدارنګه الله یو دی یعنی هیڅ تقسیم او تجزیه نه قبلوي، له اندامونو پاک دی. لنډه دا چې د الله په حقیقي کیدلو باندې تکویني علامې او دلیلونه شتون لري چې په هغې باندې هر سړی پوهیږي هغه دا چې د ځمکې او آسمان پیدا کول، د شپې او ورځې بدلیدل رابدلیدل د هغه د بشپړ قدرت او توحید روښانه دلیلونه دي او په دغه کارکې بله هستي هیڅ ډول برخه نه لري.

همدارنګه د اوبو په سر د کښتیو تلل را تلل د الله د قدرت یوه بله نښه ده.

یعنی اوبه داسې یو بهیدونکی جوهر دی چې سره له نرمۍ او بهیدلو ددې د پاسه په لکونو منه کښتۍ چې په کې په خروارونو څیزونه هم بار وي تر لرې لرې هیوادونو پورې ځي راځي. اوبیا ددې کښتیو د تللو لپاره د هواګانو لګیدل او بیا د الله په قدرت د هواګانو مخه بدلول دا ټول ددې خبرې دلیل دی چې ددې شیانو پیدا کوونکی او چلوونکی یو لوی عالم او حکمت والا ذات دی.

همدارنګه د آسمان څخه اوبه ښاځکي ښاځکي را تویول چې چا ته نقصان ونه رسوي، که چیرې دا اوبه د سیلاب په شان را نازلیدلای، نو انسانان، ښاروي او نور سامانونه به نه وو پاتې شوي، بیا د اوریدلو نه وروسته دا اوبه په ځمکه باندې محفوظ ساتل د انسان د وس خبره نده. که چیرې دا ویل شوي وای چې هر سړی دې د خپل ځان لپاره د ضرورت وړ اوبه جمع او ذخیره کړي نو د ساتلو لپاره به یې څه انتظام کاوه اوکه یې انتظام کړی وای نو له خرابیدو څخه به یې څرنګه بچ ساتلې ؟ الله دا ټول انتظامونه په خپله کړي دي.

نو ځکه الله پاک فرمایي :( فَأَسْكَنَّاهُ فِي الْأَرْضِ وَإِنَّا عَلَى ذَهَابٍ بِهِ لَقَادِرُونَ ). یعنی مونږ اوبه په ځمکه کې حصارې کړې او یقیناً زمونږ دا قدرت هم شته چې د باران اوبه وبهوو او ختمې یې کړو.

خو الله د ځمکې د اوسیدنکو انسانانو او حیواناتو لپاره اوبه چیرته د حوضونو په بڼه کې جمع کړې او چیرته یې د غرونو د خورو شوو رګونو په ذریعه دځمکې داخل ته رسولې اوبیا یې په ټوله ځمکه کې یو داسې انتظام کړی چې کوم سړی یې چیرته غواړي نو ځمکه را کني او اوبه راوباسي. او ددې اوبو یوه لویه ذخیره یې د واورو په شکل په غرونو باندې واچوله چې د خرابیدونه هم محفوظ ده هغه په آرام آرام سره ویلې کیږي او د ځمکې د ننه د قدرتي پیپونو په ذریعه ټولې دنیا ته رسیږي.

همدارنګه د آسمان په دومره وسیع او اوچت او بې له ستنې پیداکولو کې او د ځمکې په دومره پراخ او مظبوط جوړولو کې اوله ځمکې څخه د اوبو په را ایستلو او راپورته کولو او بهولوکې او د شپې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځې په بدلولو، لنډلو او اوږدولو کې او بیا د باران د اوبو سره د ځمکې په مخ د ډول ډول نباتـاتو او ګیاوو په را زرغونولو کې ټـو مخلوقات ورځنې ګټه واخلي او خپـل ژونـد پـرې هوسا تیـر کـړي اوهمدارنګه د اسمان او ځمکې ترمنځ د وریځو په درولو کـې پـه دې ټولـو او نـورو شـیانو کـې د الله تعالی د وجود او وحدانیت او دده په قدرت او حکمت او رحمت باندې هغه چالره لوی لوی دلایل او شواهد شته چې د عقل او فکر خاوندان وي.

د لوست د تدریس لارې: د سیالۍ له لارې، تشریحي، پوښتنې او ځوابونه.
د لوست مرستندویه توکي: کتاب، تخته، تباشیر، تخته پاک...

| وخت | فعالیتونه |
|---|---|
| ۵دقیقې | ښاغلي ښوونکی ټولګي ته د د اخلیدو پر مهال تل پاتې تحفه چې عبارت له « السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته » څخه ده زده کوونکو تـه وړانـدې کـړي، بیا پـه الله جـل جلاله له ثناء او په پیغمبر صلی الله علیه وسلم لـه درود ویلـو وروسته د هـر یـوه زده کوونکي سره د زړه له کومې روغبړ وکړي او د نوي تعلیمی کا ل پـه رارسـیدلو سـره زده کوونکو ته د لسم ټولګي څخه یوولسم ټولګي ته د بریالیتوب مبارکي وایي. |
| ۲۵ دقیقې | ښاغلي ښوونکی لومړی خپـل نـوم او تخلـص پـه تختـه لیکـي چې زده کـوونکي یـې وپیژني او بیا له زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې هر یو په خپـل وار خپـل ځـان ور وپیژني.<br>ښاغلي ښوونکی دې دلسم ټولګي د تفسیر شریف په لوستونو یو ځغلنده نظر اچـوي او د یوولسم ټولګي د تفسیر شریف فهرست په لنډ ډول زده کوونکو ته وړاندې کوي.<br>ښاغلی ښوونکی د أعوذ بالله من شیطان الرجیم او بسم الله الـرحمن الـرحیم پـه لوسـتلو سره د البقرې سورت (۱۶۴)آیت په ښکلي او لوړ اواز د تجوید په پام کـې نیولـو سـره تلاوت کوي وروسته له دریوتنو زده کوونکو څخه غواړي چې پـه خپـل وار نومـوړی آیت تلاوت کړي. |
| ۵دقیقې | **د لوست لنډیز**:<br>د بقرې سورت (۲۸۶) آیتونه لري او په مدینه منوره کې نازل شوی دی د نزول شمیره یې (۸۷) او مصحفي شمیره یې دوهمه ده.<br>هغه څه چې له دې (۱۶۴) مبارك آیت څخه په لاس راځي هغه دا چې الله جل جلالـه پوره قدرت لري، په عامه توګه د کائناتو پیدایښت او د دوی لوري ته د خلکـو پـام را |

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرځول دي، په خاص ډول د اوو اسمانونو او د ځمکو د پیدایښت او د هغو شیانو په هکله چې د اسمانونو او ځمکې په فضا او محیط کې شتون لري چې نن ساینس ثابته کړې ده. او همدارنګه د شپو او ورځو چټک بدلون او هغه حکمتونه چې د تاریخ او وختونو د تشخیص په نتیجه کې د شپې او ورځې په اړولو او را اړولو کې منځ ته راځي، او په سمندرونو کې د بیړیو لیدل چې د الله جل جلاله په حکم په حرکت کې دي او مسافر ور څخه د ستورو په مرسته د خپلو سفرونو تګ لوري تعینوي او له دغې لارې خلکو ته ډیرې ګټې رسیږي لکه له یو هیواد څخه بل هیواد ته د سودا ګری توکو وړل راوړل او د ماهیانو ښکار کول چې خورا انرژي لرونکي او پروټین لرونکې خواړه دي په دې ټولو کې د الله جل جلاله پر وجود او یوالي باندې ښکاره او څرګند دلایل او د هغه د قدرت نښې او نښانې شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دوهم لوست: دوهمه برخه**

## سرلیک: په کائناتو کې د الله جل جلاله دوجود او وحدانیت دلایل

**مخ:** ۵ـ ۶

**وخت:** درې درسي ساعتونه

**موخې:** زده کوونکي باید:

۱ـ دبقرې د مبارک سورت (۱۸۶)آیت په غور سره تلاوت کړي.

۲ـ د مبارک آیت د دويمې برخې د لفظي او تفسيري مفاهيمو سره آشنايي حاصل کړي.

۳ـ په ژوندانه کې د لوست د ګټو او زده کړو څخه ګټه واخلي او نوروته هم د خدمت مصدر وګرځي.

**دځينو کلمو معناوې:**

دابة: د ځمکې په سر ګرځيدونکي شي ته وايي.

يعقلون: پوهيږي يعني محسوس او معقول شيزونه د عقل په وجه پيژني.

د تدريس لارې:

پوښتنې او ځوابونه، ډله ييز.....

د لوست مرستندويه توکي: لکه کتاب، کتابچه، پوسټرې او داسې نور...

| وخت | فعالیتونه |
|---|---|
| ۵دقيقې | ښاغلی ښوونکی د السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته له وړاندې کولو څخه وروسته زده کوونکو سره روغبړ کوي او بيا يې کورنۍ دنده ګوري او بيا به يو زده کوونکي د اعوذ بالله من الشيطان الرجيم او بسم الله الرحمن الرحيم د لوستلو څخه وروسته د بقرې سورت (۱۶۴)آيت تلاوت کوي، بيابه د لوست لومړۍ برخه چې د نړۍ د په کائناتو کې د خدای د قدرت او وجود او وحدانيت نښې نښانې شتون لري په ترتيب سره د اسمانونو او ځمکو پيدايښت او د شپو او ورځو بدلون او په بحر کې د کښتيو روانېدل او داسې نورې دقدرت نښې د زده کوونکو څخه پوښتي.<br>بيابه له څو تنو شاګردانو څخه پوښتنه کوي او د يقين حاصلولو نه وروسته د آيت « وَمَا أَنزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ... » تر وروستنی برخې پورې ترجمه او تفسير کوي او زده کوونکي به په هره برخه کې خپل نظريات وړاندې کوي او د زده کوونکو پوښتنو ته به قناعت ښښونکي ځوابونه وايي. |
| ۲۵دقيقې | ښاغلي ښوونکي واړه سرليکونه په تخته ليکي او په ضمن کې د مبارک آيت د مفهوم په تشريح کولو کې زده کوونکي له ځان سره شريک کوي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| او د اوبو په باره کې چې اوبه د ژوند مهم عنصر دی او د اسمان څخه د باران په بڼه ښکته راځي د ځمکې د ژوندي ساتلو لپاره یعنې چې د کرنې لپاره مناسبه شي او فصلونو، ونو، میوه لرونکو ونو او همدارنګه د بڼ رنګ رنګ ګلانو ته وده ورکوي او کله د سحر باد هغه باراني وريځې چې د اسمان او ځمکې تر مينځ دي د الله جل جلاله په رضا او ارادې سره په حرکت کې راولي او دغه وریځې اړوي را اړوي، همدارنګه د لوست په موضوعاتو کښې باید د بصیرت او عقل خاوندان فکر او سوچ وکړي او د ټولګیوالو سره اوږدې خبرې پرې وکړي.<br>ښاغلی ښوونکی به زده کوونکي په څو ډلو ویشي او هره ډله به د الله جل جلاله د پیدایښت او د هغه قدرت د څرګندولو په هکله یو د بل سره بحث او خبرې وکړي او بیا به د هرې ډلې استازی د ټولګي په مخکې د خپل فعالیت پایله شفاهی بیان کړي. | |
| **کورنۍ دنده**:<br>ښاغلی ښوونکی دې د درسی کتاب څخه زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکړي. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دريم لوست**

## **عنوان**: **په قران کريم کې د انسان د پيدايښت پړاوونه**.

**مخ:** ۱۰ـ ۱۵

**وخت:** درې درسي ساعتونه

**موخې:** زده کوونکي بايد:

۱ـ د سورت المؤمنون ۱۲ـ۱۴شميره مبارک آيتونه تلاوت، ترجمه او تفسير کړای شي.

۲ـ د الله جل جلاله د قدرت لويي نښې د انسانانو د پيدايښت له پيل څخه مشاهده کړای شي.

۳ـ د قرآن کريم علمي اعجاز د انسانانو د پيدايښت د مراحلو په اړوند زده کړي.

۴ـ د انسان د پيدايښت پرمختګ د قرآن کريم، طبي علم او بيولوژی او په عضلي سلولونو باندې د هډوکو د سلولونو د مخکې والی له مخې مقايسه کړای شي.

**د ښوونکي لپاره اضافي معلومات:**

**په قرآن کريم کې د انسان د پيدايښت پړاوونه**

دا چې الله فرمايي چې مونږ انسان د خټې دخاصو اجزاوو څخه جوړ کړ....

يعنی الله د ځمکې دخاورې خاصې اجزاوې را ټولې کړې او انسان ( آدم عليه السلام ) يې ورځنې جوړ کړ. نوهرکله چې د انسان د پيدايښت ابتدا د آدم عليه السلام نه ده، نو ځکه يې د ابتديي پيدايښت نسبت خاورو ته وکړ بيا د يو انسان نطفه د بل انسان د پيدايښت سبب شو.

جمهورو مفسرينو ليکلي چې د ( سُلَالَةٍ مِّن طِينٍ ) څخه هم د انسان نطفه مراد ده ځکه نطفه دخوراک نه پيداکيږي او د انسان خوراک له خاورو جوړيږي.

په ذکرشوو آيتونو کې د انسان د پيدايښت اوه دورې او مرحلې ذکر شوې دي : سلاله، نطفه، علقه، مضغه، عظام، په هډوکو غوښه راتلل او بالآخره مکمل پيدايښت يعنی روح پکې اچول.

اوکه په دې اووه مرحلوکې د قرآنکريم بلاغت ته وګورو په ډيره عجيبه توګه يې بيان کړې يعنی په ځينو مرحلوکې د يوې مرحلې نه بلې ته بدلون د « ثُمّ » په لفظ سره ورځنې تعبير شوی چې « ثُمّ » په څه وخت تيريدو باندې دلالت کوي. او د ځنو مرحلو په بدلون کې د « فاء » په حرف سره ورځنې تعبير شوی دی چې هغه په بلا تأخير دلالت کوي. يا په بله وينا په کومو صورتونو کې چې د انسان په عقل او قياس سره دډير وخت اخستلو کار وه هلته يې ورته د ثمّ په لفظ سره اشاره وکړه او کوم ځای چې د عام انساني قياس له مخې زيات وخت نه نيسي هلته يي د فاء په حرف سره تعبير وکړ، په دې کې اشاره ده چې په دې توګه د هغه حديث په وجه شبهه نه شي راتلای په کوم کې يې چې فرمايلي چې د هر دور نه بل دور ته په بدليدوکې څلويښت څلويښت ورځې لګي، ځکه دا د الله تعالی دکامل قدرت کار دی کوم چې د انساني قياس تابع نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د انسان د پيداکيدو آخري پړاو يعنی په ده کې روح او ژوند پيداکول: قرآن په دې هکله يو ځانګړی اسلوب فرمايي ( ثُمَّ أَنشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ ) يعنی بيا مونږ ده ته په يوه ځانګړې بڼه بل شان پيدايښت ورکړ يعنی لومړنی شپږ مرحلې د عالَم د عناصرو او مادياتو د انقلاب سره اړينې وې او اووم پړاو د بل عالم الارواح سره اړيکې لري نو ځکه يې په خلقاً آخر سره تعبير ورځنې وکړ.
هدف داچې د ټولو شيانو حقيقي پيداکوونکی الله تعالی دی بل هيڅوک يو ادنی شی هم نه شي پيداکولی. امام رازي رحمه الله وايي : چې بيا له شپږو مرحلو څخه وروسته الله انسان په داسې بڼه بدل کړ چې د اول پيدايښت سره يې توپير درلود مثلا مخکې جماد ؤ اما اوس د انسان په بڼه رامنځ ته شو، بې ژبې ؤ اوس خبرې کوونکی شو، نه اوريدونکی ؤ اوس اوريدونکی شو، ناليدونکی ؤ اوس ليدونکی شو.
اوس يې په هريوه غړي کې حيرانوونکي حکمتونه په داسې توګه ځای په ځای کړي دي چې د بيان اوستايلو څخه يې خلك بې وسه دي.
سيد قطب په فی ظلال القرآن کې ددې آيتونو په هکله ليکلي چې قرآن انسان ته حرمت اوکرامت ورکړی او وايي چې د الله له لوري د روح پوکی په انسان کې شوی دی، حال دا چې اصل پيدايښت يې د خاورو له نچوړ څخه شوی او بيا الله داسې ځانګړتياوې ورپه برخه کړې دي چې د هغو په رڼاکې انسان مکرم مخلوق دی اود حيوان سره يې په ټوليزه توګه فرق کيږي.
اما بيا وروسته د هر وګړي پيدايښت د الله د قانون او طريقې سره سم د يوڅاڅکي اوبو څخه چې د انسان د ملا څخه په ټوپ راوځي اود ښځې په رحم کې ځای نيسي، په ښايسته شکل کې رامنځ ته کيږي او دا رحم دخاصره لګن د هډوکو په منځ کې ځای په ځای شوی چې د ټولو جسمي فشارونو او ښپو اوحرکتونو څخه چې د ملا او خيټې سره تصادف کوي محفوظ او خوندي دی.

**د ځينو کلمو معناوې:**

۱ـ وَلَقَدْ: په تحقيق سره، پرته له شکه

۲ـ خَلَقْنا: موږ پيدا کړه

۳ـ طِيْن: خټه

۴ـ فَكَسَوْناَ: نو ور وامو غوسته

۵ـ اَلْعِظَامَ: هډوکي

۶ـ لَحْماً: غوښه

**د تدريس لارې:**

خبرې اترې، تشريحي، ډله ييز، پوښتنې او ځوابونه

د تد ريس مرستندويه توکی: کتاب، قلم، کتابچه، پوسترې، وغيره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| وخت | فعالیتونه |
| --- | --- |
| ۵دقیقې | ښاغلی ښوونکی له زده کوونکو سره له سلام کولو، روغبړ، حاضري اخیستلو او د ټولګي د نظم برابرولو وروسته له یو تن زده کوونکي څخه غواړي تر څو په ژوند کې د اوبو د ارزښت په اړوند خپله لیکلې مقاله ولولي سخت او مشکل ځایونه یې د زده کوونکو پر ګډون حلوي بیا دی د تېر لوست په اړوند د څو لنډو پوښتنو په کولو سره د زده کوونکو ارزونه کوي بیا د نوي لوست سرلیک په غټ خط د ټولګي پر تخته لیکي او له یوتن زده کوونکي څخه غواړي چې له تېر لوست سره د نوي لوست اړیکه بیان کړي او په هره مرحله کې له زده کوونکو سره مرسته کوي او مطلب ته په رسیدلو ورسره لازم کوښښونه په لار اچوي. |
| ۲۵دقیقې | ښاغلی ښوونکی د المؤمنون سورت ۱۲ ـ۱۳او ۱۴نمبر مبارک آیتونه په خپل وار سره په دریو تنو زده کوونکو لولي د لوستلو پر مهال تجویدي غلطي ورسره اصلاح کوي، بیا د لوست مهمې کلمې په تخته لیکي له تفسیر او ژباړې څخه په استفادې د آیتونو او مطالبو د مطابقت په اړه په مختلفو مراحلو کې د انسان د پیدایښت او د الله جل جلاله د قدرت او لویي او یووالي په اړوند د نوي طب او بیولوژۍ د څرګندونو سره له زده کوونکو سره مباحثه کوي او د هرې نقطې له نظره د زده کوونکو پوښتنو ته ځواب ورکوي او زیاتره د انسان د عیني او فزیکي پېژندنې چې ننني طب او بیولوژیکي علومو د پوستړو او طبي اسکلټونو او د برقي ازمیښتونو اولابراتوارونوو له لارې د قرآن کریم د آیتونو په تأیید کې څرګندونې کوي او تر څېړنې لاندې یې نیسي.<br><br>ښاغلی ښوونکی زده کوونکی په اووه(۷) ډلو ویشي او د سورت مؤمنین ۱۲ــ ۱۳او۱۴ شمیرې آیتونو مطابق هرې ډلې ته موضوع ورکوي چې د موضوع په اړوند یوه ډله د بلې ډلې سره نظریات شریک کړي او د هغوی د نظریاتو لنډیز ولیکي او د فعالیت په اخیر کې یې ولولي لومړی ډله د انسان د پیدایښت باره کې چې له خټې څخه پیداشوی،دوهمه ډله د انسان د پیدایښت په باره کې چې له(نطفې)څخه مینځ ته راغلی، دریمه ډله د انسان د پیدایښت په باره کې چې د(علقه) وینې له ټوټې څخه پیداشوی دی، څلورمه ډله د انسان د پیدایښت په باره کې چې (مضغه) چې د غوښې د ټوټې څخه پیداشوی، پنځمه ډله د انسان د شکل په باره کې چې له هډوکي څخه مینځ ته راغلی، شپږمه ډله د انسان د نمو کولو او د هډوکو تنظیم کول له غوښې سره او اوومه ډله د انسان د صورت جوړول په پوره شکل سره بیا په هغې کې روح اچولو په باره کې بحث او خبرې وکړي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ۵دقیقې | **د لوست لنډیز**: د مؤمنون سورت (۱۱۸)آیتونه لري او په مکه مکرمه کې نازل شوی دی، د نزول شمیره ئې(۷۴)ده او د انبیاء سورت څخه وروسته نازل شوی د مؤمنون سورت ۱۲ـ ۱۳او ۱۴آیتونه د قرآن کریم د لفظي، علمي، او توحیدي اعجاز په برخه کې تر ټولو ښه دلایل دي چې په مجموعي ډول په حقیقي صانع او محمدي رسالت او د قرآن پر حقانیت او د اسلام په تکویني او تشریعي نظام ښه دلالت کوي او هغه څه چې موږ یې د چاپي، تصویري او صوتي رسنیو څخه په ژوندۍ بڼه اورو، قرآن کریم او نن‌ني طب ثابت کړي دي چې قرآن کریم له نن څخه پنځلس پیړۍ پخوا د ا نسان په وجود او نړۍ کې د الله جل جلاله د قدرت روښانه نښې په عربي فصیحه او بلیغه ژبه بانديې بیان کړ ې دي او موږ ته یې اسلامي عقیده او ځیني پیغامونه رابښلي او اسلام پال لوري ته زموږ همیشني پام را اړوي. |
| ۱۰دقیقې | **ارزونه**: ښاغلی ښوونکی د لوست د متن نه په ګټې اخیستلو سره د زده کوونکو ارزونه کوي ترڅو مطمئن شي چې زده کوونکو لوست زده کړی او د لوست اهمیت یې لاسته راوړی دی که نه؟ |
| | **کورنۍ دنده**: ښاغلی ښوونکی زده کوونکوته د درسي کتاب د هدایت مطابق کورنۍ دنده ورکوي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**څلورم لوست**

## سر لیک: د بنی ادم وقار او درنښت

**مخ: ۱۶ـ ۲۰**

**وخت:** درې درسي ساعتونه

**موخې:** زده کوونکي باید:

۱ـ د اسراء سورت (۷۰)آیت له موضوعي او تحلیلي مفهوم سره آشنا شي.

۲ـ په خپل ژوند کې د انساني کرامت او د ټولنې د وګړو احترام وکړشي.

۳ـ د ا نسان استعداد او ظاهري څیره چې الله جل جلاله ور ښنلې ده د قرآني آیتونو په رڼا کې وپیژني.

۴ـ د انسانانو د غوره والي پیغام په ټولو مخلوقاتو باندې بیان کړی شي.

د تدریس لارې:

مباحثوي یعني د خبرو اترو له لارې، تشریحي معلومات وړاندې کړي.؟

**د ښوونکي لپاره اضافي معلومات:**

**د بني آدم وقار او درنښت**

دلوست په آخرني آیت کې په اکثرو مخلوقاتو باندې د آدم د اولادې غوره والی ذکر دی. په دې هکله دوه خبرې د غور قابل دي. اول داچې دا غوره والی په کومو صفتونو اوکومو وجوهوسره دی؟ دویم داچې په اکثرو مخلوقاتو د فضیلت او غوره والي څخه څه مراد دی؟ د اولې خبرې بیان دادی چې الله تعالی بني آدم ته په مختلفو حیثیتونو سره داسې ځانګړتیاوې ورکړې دي کوم چې په نورو مخلوقاتو کې نشته. مثلا د صورت ښایست، د بدن اعتدال، د مزاج اعتدال، د قد اوقامت اعتدال کوم چې انسان ته ورکړی شوي دي بل چا ته نه دي ورکړی شوي. په دې برسیره په عقل اوشعور کې انسان ته خاص امتیاز ورکړی شوی چې ددې په ذریعه دی د ټولو سفلی اوعلیا کایناتو نه خپل کار اخستی شي. او تر خپل اختیار لاندې یې راوستلی شي. یاپه بله وینا دا چې انسان د دین ذمه واري منلی ده نو الله ټول شیان ده ته مسخر کړي او دده په خدمت لګیا دي.

دخبرو اترو او افهام او تفهیم کومه ملکه چې انسان ته ورکړی شوې ده هغه بل چا ته نه ده ورکړی شوې، د اشارو په ذریعه دخپل زړه خبره نورو ته ښودل، دخط اوکتابت په واسطه د خپل زړه خبره نورو ته رسول، دا ټول انساني امتیازات دي.

ځینې علمأ وایي چې د لاسونو دګوتو په ذریعه خوراک هم د انسان خاص صفت دی نور ټول حیوانات خوراک د خپلو خولو په واسطه کوي.

د عقل اوشعور په اعتبار سره د مخلوقاتو تقسیم داسې دی چې په عامو ځناورانوکې شهوات اوخواهشات شته خو عقل اوشعور پکې نشته. په فرشتوکې عقل اوشعور شته، شهوات اوخواهشات پکې نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په انسان کې دا دواړه څیزونه جمع شوي یعنی هم عقل اوشعور لري اوهم شهوات او خواهشات. نوهرکله که انساني شهوات او خواهشات په عقل سره مغلوب کړي او د الله د نا خوښو شیانو څخه ځان بچ کړي نو دده مقام د ډیرو فرښتو نه هم اوچت دی.

دویمه خبره داده چې د آدم د اولادې فضیلت په اکثرو مخلوقاتوڅه معنا لري؟ په دې هکله خو هیڅا ته د اختلاف ځای نشته چې د دنیا په ټولو مخلوقاتوعلوي اوسفلوي او ټولو ځناورو باندې د آدم علیه السلام اولاد ته فضیلت حاصل دی. دغه شان پیریان چې په عقل او شعورکې د انسان په شان دي په دوی هم د انسان غوره والی د ټولو په نزد مسلم دی.

اوس یواځې د فرښتو مسأله ده چې په انسان او فرښتوکې کوم افضل دي؟ په دې هکله تحقیقي خبره داده چې په انسانانو کې عام مؤمنان صالحان لکه اولیاءالله دوی د عامو فرښتونه غوره دي مګر خواص د ملایکو لکه جبرائیل او میکائیل او داسې نورې دوی د عامو صالحانو نه افضل دي اوخواص د مؤمنانو لکه انبیاء علیهم السلام دوی د خواصو ملایکو نه هم افضل دي.

دحنفیانو رأیه داده چې بشري رسولان پر ( ملکي رسولانو ) افضل دي. ( اوملکي رسولان ) پرنورو ټولو فرښتو او انسانانو د ( بشری رسولانو ) په استثناء افضل دي. اوعامو پرښتو ته په عاموانسانانو افضلیت حاصل دی.

اوهرچې کافران او فاجران انسانان دي دوی دځناورونه هم ټیټ دي.( أُوْلَـئِكَ كَالأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ ) . یعنی دوی خو دځناورو په څیر دي بلکې ددوی نه هم ډیر ګمراه اولاړ ورکي دي.

الله د انسانانو پلار آدم علیه السلام د ملایکو مسجود وګرځاوه او ددوی آخري رسول حضرت محمد ﷺ یې د ټولو مخلوقاتو سردار او بادار غوره کړ. غرض دا چې انساني نوعې ته یې له ډیرو حیثیتونو عزت، لویي اوعظمت او پرخپلو ډیرو مخلوقاتو فضیلت وربښلی دی .

**دځینو کلماتو معناوې:**

كَرَّمْنَا:موږ عزت وربښلي دی

وَفَضَّلْنَا: موږ غوره والی ورکړی دی.

**د لوست مرستندویه توکی:**کتاب،قلم، تخته، تخته پاک...

| وخت | فعالیتونه |
|---|---|
| ۵دقیقې | ښاغلی ښوونکی ټولګي ته د داخلیدلو په وخت کې په ټولګیوالو سلام اچوي او د زړه له کومې ورسره روغبړ کوي بیا حاضري اخلي او د زده کوونکو څخه د کورنی دندې پوښتنه کوي بیا د بېلګې په ډول د یوه زده کوونکي مقاله د زده کوونکو د هڅونې په خاطر وړاندې کوي.<br>ښاغلی ښوونکی د تیر لوست څخه په لنډو پوښتنو سره د زده کوونکو ارزونه کوي بیا به د نوي لوست تړاو د تیر لوست سره زده کوونکو ته وړاندې کوي.<br>ښاغلی ښوونکی د اسراء سورت (۷۰) شمیره آیت د یوه زده کوونکي په واسطه تلاوت |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ۲۵دقیقې | کوي او زده کوونکوته وخت ورکوي چې د انسانانو د موقف او مرتبې په اړونـد دوه نفري ګروپونه یو د بل سره خبرې اترې وکړي.<br>ښاغلی ښوونکی د لوست محوري موضوع ګانې په تخته لیکي او له دوه نفرو زده کوونکو څخه غواړی چې د لوست د موضوعاتو او د انسان د کرامت او مرتبې په اړونـد نتیجه او نچوړ خپلو ټولګیوالوته وړاندې کړي.<br>ښاغلی ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې دوه نفره په خپله خوښه د انسان پیژندنې او د لوست د موضوع په اړوند معلومات وړاندې کړي او ښاغلی ښوونکی په هره مرحله کې زده کوونکي د لوست د موضوع په اړوند تشویق کوي.<br>ښاغلی ښوونکی له زده کوونکو نه غواړي چې دوه کسیز ګروپونه د انسانانو د روزۍ او خواراکې په هکله د بحرونو او د هغوی د ګټو په باره کې یو د بل سره خبرې اترې وکړي او د خبرو اترو په پای کې یو تن ټولګیوالوته نتیجه بیانوي. |
| ۵دقیقې | **د لوست لنډیز**:<br>د اسراء سورت د قرآن کریم په (۱۵)پاره کې (۱۱۱)آیتونه لري او په مکه مکرمه کې نازل شوی دی د نزول شمیره یې (۵۰) او مصحفي شمیره یې (۱۷)ده. او د بني اسرائیل په نوم هم یاد شوی دی. د لوست په مبارکو آیتونو کې الله جل جلاله د انسانیت لوړ مقام او ا لهي نازونې بیان کړې دي او په دې هکله ښوونې لري د سیرت او صورت په اړه چې الله جل جلاله انسان ته کومې ځانګړتیاوې او عزت ورکړی او بې شماره د وچې او سمندر نعمتونه یې په واک کې ورکړي دي څو انساني اړتیاوې لکه خواړه، انرژي، طبعي ډکې زیرمې یې چې په نړۍ کې پیداکړې دا ټول د انسان د ژوند د دوام او بهبود لپاره دي چې پر انسان یې شکر او مننه واجب ده او په هره ساه اخیستلو سره شکر لازم دي ځکه چې ساه اخیستل له یوه لوري د ژوند د اوږدیدلو له بله پلوه د انسان د خوښۍ لامل کیږي او له بله طرفه انسان چې یو میتافزیکي او ما وراء الطبعي مخلوق دی له عالم سماوي او ملکوتي او روحي سره دوه اړخیزه اړیکې لري په انسان کې کیمیاوي جوهر روح دی چې د الله جل جلاله تر ټولو ستره لورینه ده چې دې همدې نعمتونو له امله په اخلاص سره د الله جل جلاله عبادت او شکر واجب دی. |
| ۱۰دقیقې | **د لوست ارزونه**:<br>ښاغلی ښوونکی په کتاب کې د ذکر شوو سوالونو څخه په ګټې اخیستلو زده کوونکو ارزونه کوي. |
| | **کورنۍ دنده**:<br>ښوونکی د درسی کتاب نه زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکوي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پنځم لوست:**

## **سرلیک**: **ایت الکرسي د قران کریم لوړه څوکه**.

**مخ:۲۱-۲۶**

**وخت:** درې درسي ساعتونه

**موخې:** زده کوونکي باید:

۱- قرآن کریم عظمت او د عروج نقطه وپیژني؟

۲- له آیت الکرسي څخه د الله جل جلاله وحدانیت، قیومیت، مالکیت، پیژندل کېږي زده کوونکي دې زده کړي او نورو ته دې وښايي.

۳- د آیت الکرسي لوستل د هر لمانځه څخه وروسته په خپل ژوند کې د ځان عادت جوړ کړي.

**د ښوونکي لپاره اضافي معلومات:**

آیة الکرسي د قرآن لوړه څوکه

دا په قرآنکریم کې تر ټولونه د ډېر شان او د بدېې نه ډک آیت دی، په احادیثوکې ددې ډېر فضیلتونه راغلي دي. اونبی کریم ﷺ دې آیت ته د ټولو نه غوره آیت ویلی دی. او أبی ابن کعب ﷺ چې د نبی کریم ﷺ د پوښتنې په ځواب کې دیته عظیم الشأن آیت ویلی دی، هغه ته رسول الله ﷺ د علم مبارکي ورکړې ده.

اوپه بل حدیث کې ورته سردار دآیتونو ویل شوی دی. اوپه حدیث کې راځي څوک چې د هر فرض لمونځ نه وروسته دغه آیت ولولي نوجنت ته به دده د داخلیدو ترمنځ مرګ پرده وي یعنی د مرګ نه وروسته به فوراً جنت ته ځي. او چې آیت الکرسی په کوم کورکې ولوستل شي د هغه کور نه شیطان وځي.

په دې آیت کې د الله جل جلاله شته والی اود هغه د ذات اوصفاتو بیان په ډېر عجیب اونا اشنا توګه شوی دی، په دې کې د الله تعالی شته والی او د هغه همیشه ژوندون، لیدونکی اوریدونکی کیدل، خبرې کوونکی په خپل وجود سره همیشه موجود کیدونکی، تل ترتله موجود، د ټولوکایناتو نوی پیداکوونکی، د تغیر اوتبدیل د اثراتو نه قبلوونکی، د ټولو موجوداتو مالك کیدونکی او د لوئي خاوند دی.

دده په وړاندې څوک دده له اجازې پرته خبرې هم نه شی کولای د داسې کامل قدرت مالك دی چې د ټولو مخلوقاتو اوکایناتو په پیداکولو، د هغو په ساتلو او په محکم انتظام کولو هغه نه ستړی کیږي او نه کمزوري او نه سستي پرې راځي، د داسې لوی او محیط علم مالك دی چې ښکاره او پټ ځیزونه ذره اوقطره ترې بهر نه دي.

په دې آیت کې لس جملې دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوله جمله : « اللّهُ لاَ إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ » ده په دې کې د الله ذاتي نوم دی معنايي دا ده : هغه ذات چې ټول کمالات پکې جمع دي اود ټولو نقصانونو څخه پاک دی اوپه« لاَ إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ » کې ددغه ذات بيان دی چې ددغه ذات نه پرته بل د عبادت لايق هيڅوک نشته.

دويمه جمله : « الْحَيُّ الْقَيُّوم ُ» : د حی معنا ده په عربی کې ژوندی. يعنی الله تل ترتله ژوند دی اومرګ نه پرې راځي . د قيّوم لفظ د قيام نه اخستل شوی د قيام معنی ده ودريدل. قيّومْ او قيّامْ د مبالغې صيغې دي معنايي دا ده : هغه ذات چې پخپله هم قايم دی اونور هم قايم ساتي او سنبالوي يی. قيوم د الله تعالی ځانګړی صفت دی، انسان ته قيوم ويل روا نه دي. کوم سړی چې د عبدالقيوم په ځای يوازې قيوم وايي ګنهګاريږي. او دا دواړه اسمونه «الحی القيوم » دډيرو علماوو په نزد اسم اعظم دی . او حضرت علی کرم الله وجهه وايي چې د بدر په غزاکې ما نبی کريم ﷺ وليده چې په سجده پروت ؤ او ياحیّ يا قيّوم ياحیّ ياقيّوم يی ويل .

دريمه جمله : « لاَ تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلاَ نَوْمٌ » ده د « سِنَةٌ » لفظ د سين په زير سره پرکالۍ ته وايی او« نَومْ » پوره خوب يعنی ويده کيدو ته ويل کيږي ، د ټولې جملې مطلب دا شو چې په الله جل جلاله باندې خوب او پرکالي هيڅکله نشي راتلای.

څلورمه جمله :« لَّهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ » ده په دې کې د « لَهُ » لام دملکيت په معنی راغلی نومعنا يی دا شوه چې ټول څيزونه کوم چې په اسمانونو او ځمکه کې دي دا ټول د الله تعالی ملکيت دی دهغه اختيار دی دخپلې غوښتې سره سم تصرف پکې کولای شي.

پنځمه جمله : « مَن ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلاَّ بِإِذْنِهِ » ده يعنی الله داسې ذات دی چې دده په وړاندې دچا سفارش دده له اجازې پرته نشی کيدای. حتی د څه کار کولو په باره کې دده نه پوښتنه هم نشی کولای، البته مقبولو بندګانو ته به په ځانګړي توګه د خبرو کولو او سپارښت اجازه ورکړی شي.

شپږمه جمله : « يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ » : يعنی الله تعالی دخلکو د وړاندې او وروسته ټولو حالاتو او واقعاتو نه خبردی، اويا د دوی د پيداکيدو نه مخکې او د دوی د پيداکيدونه وروسته ټول حالات او واقعات دالله تعالی په علم کې دي اوپه ښکاره او پټو حالتونو يی هم اطلاق کيږي.

اوومه جمله : « وَلاَ يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهِ إِلاَّ بِمَا شَاء » يعنی انسان او ټول مخلوقات د الله تعالی د علم يوه حصه هم نشي قابو کولای مګر الله تعالی چې په خپله چا ته څومره حصه د علم ور بخښش کوي.

اتمه جمله : « وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ » ده يعنی د الله کرسی دومره لويه ده چې اووه اسمانونه او ځمکې يی په خپل منځ کې ځای کړې دي، الله تعالی د ناستې پاستې او د ځای ځايګی نه بې پرواه دی .

ابوذرغفاری ﷺ نقل کوي چې ده له نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې کرسي څه ده او څنګه ده ؟ نبی کريم ﷺ وفرمايل په هغه ذات قسم چې زما روح دده په قبضه کې دی چې د اووه اسمانونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځمکو مثال د کرسی په مقابل کې داسې دی  لکه د يو لوی ميدان  په مينځ کې چې دګوتمۍ کړۍ واچول شی.
اوپه ځينو نورو روايتونو کې دي چې دعرش په مقابل کې دکرسۍ مثال هم داسې دی لکه  په لوی ميدان کې چې دګوتمۍ کړۍ واچول شي.
نهمه جمله : « وَلاَ يَؤُودُهُ حِفْظُهُمَا » ده يعنی الله تعالی ته ددې دواړو لويو مخلوقاتو اسمان او ځمکې ساتنه او حفاظت څه ګرانه خبره نده.
لسمه جمله : « وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ » ده  يعنی هغه لوی او عظيم الشأن ذات دی.

| وخت | فعالیتونه |
|---|---|
| ۵دقيقې | ښاغلی ښوونکی دسلام او روغبړ څخه وروسته د زده کوونکو حاضري اخلي او ټولګی منظم کوي او د تير لوست په اړوند د امتحاني پوښتنې کوي تر څو د زده کوونکو استعداد معلوم کړي او  زده کوونکو ته د لوست په جريان کې د لوست په اړوند پوښتنې او ستونزې  حل کوي بيا به د نوی لوست ربط د تير لوست سره بيانوي او د لوست موضوع ګانې هر اړ خيزه تفسير او تحليل کوي او انسان  د الله جل جلاله ارزښتناک مخلوق دی.<br><br>ښاغلی ښوونکی  د آيت الکرسي پوسټرې د ټولګي په ديوال زوړندي  او د ضروري نقطو معلومات  زده کوونکو ته ورکوي.<br>ښاغلی ښوونکی د قرآن کريم د مقدسو کلمو نه په ګټې اخيستلو سره چې په آيت الکرسي کې د الله جل جلاله د وحدانيت، دقيوميت، حيات  او د آيت الکرسي فضيلت او عظمت چې په دې مبارک آيت کې ورته د اسم اعظم اشاره شوې او  نبي کريم صلی الله عليه وسلم تأييد کړي د زده کوونکو سره  په همدې مورد خبرې اترې کوي. |
| ۲۵دقيقې | ښاغلی ښوونکی  له زده کوونکو څخه غواړي چې د لوست متن په چُپه خوله ولولي او د مشکل په صورت کې دې مرسته وغواړي. |
| ۱۰دقيقې | **ارزونه**:<br>ښاغلی ښوونکی د درسي کتاب نه په پوښتنو کولو سره د زده کوونکو ارزونه کوي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| **د لوست لنډیز**:<br>په احادیثو کې د ابن حبان او ابو ذر غفاري رضـی الله عنـه څخـه روایـت شـوی دی دوی وایي موږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه د کرسی په اړوند وپوښتل. پیغمبر صلی الله علیـه وسلم وویل: بو ذره اوه طبقې ځمکه او اسمانونه د کرسۍ په مقابل کې داسې دي لکه یوه کړۍ چې په صحرا او دښته کې معلومیږي او کرسۍ بیا د عـرش پـه مقابـل کـې داسـې ده لکه څنګه چې د کرسۍ په مقابل کې ځمکه او اسمانونه دي، موږ او تاسوته ښـایي چـې د هر فرض لمونځ څخه وروسته آیت الکرسي د وظیفې په توګـه ولولـو. پـه یـو بـل حـدیث شریف کې چې په معجم الکبیر او طبراني کې روایت راغلي چې رسول الله صلی الله علیـه وسلم فرمایلي: آیت الکرسي د قرآن کریم ډیر لوی آیت شمارل شوی دی، په بل حدیث شریف کې راغلي چې اسم معظم هم په آیت الکرسي کې دی،همدارنګه په یوبل حدیث شریف کې راغلي چې د هرشي لپاره د پر مختګ یـوه نقطـه وي د قـرآن کـریم د عـروج نقطه د بقرې سورت او په هغه کې آیت الکرسي ده. | ۵دقیقې |
| **کورنۍ دنده**:<br>ښاغلی ښوونکی  د لوست له کتابو څخه زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکوي. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**شپږم لوست**

## **سرلیک**: **ځمکه د انسان دګټې لپاره**

**مخ:** ۲۷ـ۳۰

وخت: دوه درسي ساعتونه

**موخې:** زده کوونکي باید:

۱ـ د الملك سورت(۱۵ـ ۱۷)آیتونو له توضیحي او تفسیري مفاهیمو څخه ځانونه خبر کړي.

۲ـ د قرآن کریم له تکویني اعجاز او د پراخې ځمکې له زړه راښکونکو مظاهرو څخه خبر شي.

۳ـ د ځمکې او د هغې له پریمانه مادي او معنوی سرچینو څخه عادلانه استفاده وکړای شي.

۴ـ د لوست له مهمو ټکو او نیکمرغه ښوونکی پیغام څخه ګټه تر لاسه کړي او د نورو لپاره په ژوند کې د خیر تبلیغ کوونکي شي.

**د ښوونکي لپاره اضافي معلومات:**

**ځمکه د انسان دګټې لپاره**

« هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا »: یعنی الله تعالی هغه ذات دی چې تاسې ته یې ځمکه تابع ګرځولې ده د « ذلول » لفظی معنا منقاد او تابع دی، هغه حیوان ته ذلول ویل کیږي چې په سپریدوکې شوخي نه کوي – کوم حیوان چې دسپریدونکو لپاره خپلې اوږې هم پیش کړي هغه ډیر منقاد او مسخر کیدای شي، په دې وجه الله تعالی وفرمایل : چې تاسې د ځمکې په اوږو باندې ګرځئ ځمکې ته الله تعالی داسې قوام وربښلی دی چې نه د اوبو په شان بهیدونکې ده اونه د مالوچو او خټو په شان سړی پکې ننوځي .

ځکه که داسې نه وای نوبیا به ورباندې اوسیدل او پاتې کیدل ممکن نه وو. همدارنګه ځمکه یی د اوسپنې او تیږې په شان سخته هم نه ده جوړه کړې ، که داسې وای نو بیا به پکې ونې او کروندې نه کیدې او نه به پکې نهرونه او ځاګان کیندل کیدل او نه به پکې د دنګو دنګو آبادیو بنسټونه ایستل کیدل، د ځمکې د قوام سره یی داسې سکون ورکړ چې آبادۍ او بنګلې پرې ټینګیدای شي او په ګرځیدونکو نه خوځیږي.

« وَكُلُوا مِن رِّزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ » ابن کثیر ددې آیت په معنا کې لیکي چې تاسې سفر وکړئ په ځمکه کې کوم ځای ته چې موخوښه وي ځکه هرځای یو خاص اقلیم او صفت لري نو تاسې وګرځئ په ځمکه او په هر ډول اقلیمونو اوځایونو کې دکسب اوتجارت لپاره – په دې کې اشاره ده دیته چې د تجارت لپاره سفر او د مال لاسته راوړل د الله تعالی د رزق دروازه ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په « اِلَيْهِ النُّشُورُ » کې اشاره ده چې د ځمکې نه د خوړلو، څښلو او اوسيدلو او نورو فايدو حاصلولو اجازه شته خو د مرګ او آخرت نه بې فکره کيږئ مه، ځکه آخر الله تعالی ته واپس کيدل دي ، يا په بله وينا په ځمکه کې چې اوسيږئ نو د آخرت لپاره چمتووالی نيسئ.

په وروستنی آيت کې « أَأَمِنتُم مَّن فِي السَّمَاء أَن يَخْسِفَ بِكُمُ الأَرْضَ...» کې دا خبرداری دی چې په دې ځمکه کې د اوسيدو په حالت کې هم د الله تعالیٰ عذاب راتللای شي. يعنی ايا تاسې ددې نه بې پروا يئ چې آسمان والا به تاسو په ځمکه کې ننباسي اويا به د آسمانه په تاسې کاڼي را واوروي. نو نن چې صحيح او سالم اوپه امن يئ ددې فکر وکړئ او په دنيا مه دوکه کيږئ ، اودا هم په ياد ولرئ هغه ذات چې خواړه او نور شيان درکوي د همغه په لوري پس له مرګه او ژوندي پاڅيدلو ستاسو ورتګ دی.

په ورپسې آيت کې « أَأَمِنتُم مَّن فِي السَّمَاء أَن يَخْسِفَ بِكُمُ الأَرْضَ....» الله تعالی فرمايی چې ځمکه پرته له شکه تاسوته تابع اومسخر شوې ده خوپه ياد ولرئ چې په خوځيدو به نورهم پکې ډوبيګئ نو هيڅ سړي ته نه ښايي چې د هغه خالق مختار له دربار څنې بی ويرې او بې پروا شي اوپه شرارت لاس پورې کړي او د الله په مهلت مغرور او دوکه شي.

په ورپسې آيت کې فرمايی : يعنی په ډيره خوښی سره په ځمکه باندې ځئ راځئ او خواړه او نور ضروريات ځان ته ګټئ خوسره له هغه خپل الله تعالی مه هيروئ اوکه نه هغه الله تعالی په دې باندې قادر دی چې پرتاسې باندې يوه سخته سيلۍ درولیږي، يا دکاڼو باران درباندې واوروي نوبيا به تاسې څه وکړئ شئ.

الله تعالی دبقرې سورت په ۲۹ آيت کې فرمايي : « هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الأَرْضِ جَمِيعاً » يعنی الله تعالی هغه ذات دی چې ستاسې د فايدې لپاره يی هرهغه ټول شيزونه پيداکړه څه چې په ځمکه کې دي. په ځمکه کې د هغه عام نعمت ذکر دی چې په هغه کې ټول انسانيت بلکې حيوانات او نور شريک دي. يعنی د ټولو خوځيدونکو خصوصاً د انسانانو غذا، لباس، کور او دوا او د آرام ټول سامانونه د همدې ځمکې پيداوار او حاصلات دي.

اودا چې د ځمکې ټول شيان د انسان لپاره پيداشوي دي نوددې څخه يوه خبره دا معلومه شوه چې د دنيا يو شی هم داسې نشته چې د هغه نه په څه طريقه بنيادم ته څه فايده نه وي – برابره ده چې دا فايده په دنياکې د استعمالولو په وجه وي يا د آخرت لپاره د عبرت اونصيحت حاصلولو لپاره. دډيرو شيانو فايده خو انسان محسوسوي چې هغه مستقيماً د هغه په غذا، دوا، اويا نور استعمال کې راځي خو ډير داسې شيان هم شته چې انسان ته له هغونه فايده وي خو دی ترې خبر نه وي، تردې پورې چې کوم شيان د انسان لپاره ضرري ګڼل کيږي لکه زهرجن شيزونه، زهرجن ځناور او داسې نور – که چيرې فکر وشي نودا هم په څه طريقه انسان ته فايده رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عارف بالله ابن عطاء ددې آیت په شرح کې لیکلي چې الله پاك ټول کاینات ستا لپاره له دې وجې پیداکړي دي چې ټول کاینات ستا شي او ته د الله پاك لپاره شې نوکوم شیان چې ستا لپاره پیدا شوي هغه به حتماً درته رسیږي ته د هغو په فکر کې مه کیږه ځکه ته بیا د الله تعالی له یاده غافل پاتې کیږې.

او له دې آیت څخه علماوو دا دلیل را ایستلی دی چې د دنیا په ټولو شیانوکې اصل د انسان لپاره اباحت دی نه حرمت یعنی هر څه د انسان لپاره مباح او حلال دي ځکه د همده لپاره پیدا شوي دي په استثناء دهغو شیانو چې په شریعت کې حرام شوي دي نو ترڅوچې د یو شی حراموالی د قرآن او سنت نه ثابت نه وي هغه حلال ګڼل کیږي.

اما ځنې علماء په دې عقیده دي چې اصل په شیانوکې حرمت دی نه اباحت او ځنې علماء په دې هکله چوپ پاتې شوي دي.

ابن حبان د بحر محیط خاوند وایي چې صحیحه داده چې په دې آیت کې د ذکر شوو ویناوو د پاره د یوې وینا هم دلیل نشته ځکه په « خَلَقَ لَكُم » کې لام د مسببیت لپاره دی یعنی ستاسو په سبب دا څیزونه پیداکړی شوي دي، ددې آیت نه د څیزونو د حلالیدو یا حرامیدو لپاره په انسان باندې دلیل نشي قایمیدای بلکې د حلالو او حرامو احکام ځان ته په قرآن او سنت کې بیان شوي دي په هغه عمل کول ضروري دي.

**د ځینو کلماتو معناوې:**

جَعَلَ ـ خَلَقَ: پیدا شوی

فَامْشُوْ: سفر وکړئ په ځمکه کې

يُرْسِلَ: را لیږي.

د تدریس لارې :

ګروپي، شفاهي، د خبرو اترو لار....

**د لوست مرستندویه توکی:**

کتاب، کتابچه، علمي زیري، قلمي پوسټرې...

| وخت | فعالیتونه |
|---|---|
| ۵دقیقې | ښاغلی ښوونکی ټولګي ته په راتګ سره د خپل معمول مطابق لـه زده کوونکـو سره روغبړ کوي، بیا د ټولګي نظم برابروي او له زده کوونکـو څخـه غواړي چې خپلـې ترتیـب کـړې مقالې د آیت الکرسي د فضیلت په باره کې د قرآن کریم او د حدیثونو د لوړ خصوصیت په رڼا کې وړاندې کړي او له یو تن زده کوونکی څخه غواړي چې خپله مقاله پـه مناسـب اواز سره ولولي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| د مقالو له جملې څخه دې درې غوره مقالې د عامو زده کوونکو لپاره د خپرونې په تخته وځړوي څو زده کوونکي وهڅوي او ګټه ترې واخلي.<br>ښاغلی ښوونکی د الملك سورت (۱۵-۱۷)آيتونو او د آيت الكرسي تـر مينځ تـړاو او د انساني کرامت له پلوه هر کله چې انسان غوره مخلوق دی او اشرف المخلوقات ورته ويل شوی د ښې ګټې او منفعت لپاره الله جل جلاله ځمکه ورته پيدا کړې او مسخر کړې ده زده کوونکو ته تشريح کوي.<br>ښاغلی ښوونکی د درسي کتاب له مخې د مبارکو آيتونـو تفسير او تحليل لـه پوسـتړونو څخه په استفادې سره د ځمکې طبعي او فزيکي ښکلا، ښکاره او پټ نعمتونه چې مبارک آيت وربانديې دلالت کوي زده کوونکي ته بيانوي دا دهم ورته ښيي چې د ځمکې د پيژندلو او جغرافيې علوم هم له دې آيت څخه ثابت شوي دي او علماوو په همدې اړوند څېړنې کړې خو دوی هغو پټو حقيقتونو ته ونه رسيدل چې (ذلولاً)په کلمه کې پراته دي. | ۲۵ دقيقې |
| **د لوست لنډيز**:<br>د الملك سورت چې تبارك الذي هم ورته وايي(۳۰) آيتونه او دوه رکوع ګانې لري، په مکه مکرمه کې نازل شوی دی د نزول او مصحفي شميره يې(۷۷)ده.<br>پـه دغـه سـورت کـې پـه مجمـوعي ډول د ټولـو کائنـاتو پيدايـښت پـه ځـانګړي ډول د اسمانونو، ځمکې،ستورو او دانسانانو د از ما ينښت لپاره د ژوند او مـرګ پيدايـښت، د الله جل جلاله د وحدانيت څرګندونه او د خلقت په نظام کې د الهي قدرت مظاهر او په هـوا کې د سماوي اجرامو حرکت او ور څخه راولاړشوي کمي او کيفي بدلونونـه او تغيـرات ټول د الله جل جلاله په مطلقه پاچاهۍ باندې دلالت کوي. ددې سورت (۱۵ــ۱۷) آيتونـه د ځمکې په غوړيدلو او د هغې د زورورو حرکتونو،د شپو او ورځو نظـام پـه مينـځ تـه را تللو،د کال په فصلونو، په وچه او لمده کې د زياتو خوراکی نعمتونو پيدايښت، په مختلفو رنګونو کې ميوې، ښکلې هوا، خوږې اوبه، دا ټول، انـسانان د الله جـل جلالـه پـر قـدرت باندې ايمان لرلو ته را بولي، ترڅو فکر وکړي او له دې بې شميره نعمتونو څخـه چـې پـه ځمکه کې وجود لري روا ګټه تر لاسه کړي او دغه ځمکه چې مور پکې ژونـد کـوو الله جل جلاله مور ته (ذلولاً)آرامه او هوسا ګرځولې ده. | ۵دقيقې |
| **ارزونه**:<br>ښاغلی ښوونکی د ذهني، مهارتي، او نورې پوهې نه په ګټه اخيستلو سـره د زده کوونکـو نه پوښتنې کوي او دوی ارزوي. | ۱۰دقيقې |
| **کورنۍ دنده**:<br>ښاغلی ښوونکی زده کوونکو ته د کتاب له مخې کورنۍ دنده ورکوي. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اووم لوست**

## سرلیک: د الله جل جلاله سره مینه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په پیروۍ کې ده.

**مخ:** (۳۱-۳۵

**وخت:** دوه درسي ساعتونه

**موخې:** زده کوونکی باید!

۱- د مبارکو آیتونو د تفسیر په رڼا کې د الله جل جلاله سره محبت لاره زده کړي.

۲- مبارکو آیتونو شانزول سره له حکمه زده کړي او نوروته یې وښایي.

۳- د لوست کلیدي کلمات او مفهوم یې ولیکي او تحلیل او تجزیه یې کړي.

**د ښوونکي لپاره اضافي معلومات:**

**د الله تعالی سره مینه د پیغمبر ﷺ په پیروۍ کې ده**

څوک چې د الله تعالی سره د محبت دعوه کوونکی او د مینې هیله من وي نو الله تعالی د لوست په دې آیتونو کې د خپل محبت اندازه وښوده یعنی که په دنیاکې نن یو سړی د خپل حقیقي مالك د محبت دعوه کوونکی وي کره اوکوټه به د محمد ﷺ په تابعدارۍ سره معلومیږي، کوم سړی چې څومره په خپله دعوی کې رښتونی وي دومره به دی د نبی کریم ﷺ په تابعدارۍ کې زیاته پاملرنه لرونکی او اهتمام کوونکی وي اود هغه راوړې رڼا به د خپلې لارې ډیوه جوړوي او څومره چې په خپله دعوی کې کمزوری وي هغومره به د هغه په تابعدارۍ کې سست او کمزوری لیده کیږي.

نوځکه الله تعالی فرمایی : « قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ » یعنی تاسو خلکو ته ووایئ که چیرې تاسې د الله تعالی سره مینه ساتئ نو تاسې زما تابعداري وکړئ الله تعالی به ستاسو سره محبت وکړي او ستاسو ګناهونه به معاف کړي او الله تعالی ببښونکی مهربان دی.

په یوبل حدیث کې نبی کریم ﷺ فرمایی : چاچې د محمد ﷺ تابعداري وکړه نو ده په حقیقت کې د الله جل جلاله تابعداري وکړه اوچا چې د محمد ﷺ نافرماني وکړه نو ده د الله تعالی نافرماني وکړه.

فضائل اعمال کتاب کې راغلي چې د حضرت عائشې رضي الله عنها په خدمت کې یوه ښځه حاضره شوه او ویی غوښته چې په ما د نبي کریم ﷺ د قبر زیارت وکړه . حضرت عائشې د زیارت کوټه پرانسته هغې زیارت وکړ او د زیارت نه وروسته په ژړا شوه او په ژړا ژړاکې یی خپل روح له لاسه ورکړ. ایا ددې عشق مثال هم چیرته موندل کیدای شي چې د قبر د زیارت طاقت یی ونه درلود او هلته یی ساه ورکړه .

حضرت انس رضي الله عنه فرمایي چې د نبی کریم ﷺ ارشاد دی چې تاسو نه هیڅ یو کس ترهغې وخته پورې مؤمن کیدای نه شي ترڅو پورې چې د هغه زما سره محبت د خپل پلار او اولاد او ټولو خلکونه زیات نه شي.

علماء وایي چې په حدیثونوکې اختیاري محبت مراد دی نه غیر اختیاري یعنی طبعي اضطراري، اودا هم کیدای شي چې طبعي محبت مراد شي، خو د ایمان څخه مراد کامل ایمان دی څنګه چې دصحابه کرامو ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت انس ﷺ بیا مهرباني کوي او وایی چې د نبي کریم ﷺ مبارك ارشاد دی چې درې ځیزونه داسې دي چې په چاکې پیدا شول د ایمان خوږوالی او د ایمان مزه به وریه برخه شي. یودا چې د الله تعالی او د هغه د رسول محبت تر هر څه نه ده ته زیات وي.

دویم داچې د چا سره محبت کوي هغه د الله تعالی د رضا لپاره وي. دریم دا چې کفرطرف ته واپس تلل ده ته داسې ګران او مشکل وي لکه په اورکې پریوتل.

بی بی فاطمې ﷺ غوښته چې نبی کریم ﷺ ته نږدې شي او دحضرت حارثه ﷺ سره خپل کور بدل کړي خو نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل چې د هغه سره یوځل مخکې هم بدلون شوی دی اوس حیا راځي. حارثه ﷺ ته ددې خبرې پته ولګیده فوراً حاضر شو، عرض یې وکړ چې زه دې کار ته بالکل چمتو او تیار یم ای دالله رسوله زه او زما مال د الله او د هغه د رسول دی اې د الله رسوله ! په الله مې دې قسم وي کوم مال چې تاسو واخلئ هغه ما ته زیات خوښ دی د هغه مال نه چې زماسره پاتې شي. نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل رښتیا وایې او د برکت دعا یې ورته وکړه اوکو ریې ورسره بدل کړ.

یوصحابی د نبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضر شو اوعرض یې وکړ چې ستاسومحبت ما ته زما د ځان، مال او کور کهول ( اهل وعیال ) څخه زیات دی، کله چې زه په خپل کورکې وم او ستاخیال راشي نو صبر نه راځي تردې چې حاضرشم او زیارت وکړم، خوما ته دا اندیښنه ده چې مرګ خو ټولو ته راتلونکی دی، بیا به تاسو د انبیاوو درجې ته ولاړشئ او زه به تاسو نه وینم.

نبی کریم ﷺ په ځواب کې چوپتیا غوره کړه چې حضرت جبرائیل علیه السلام تشریف راوړ او دا آیت یې ولوست: (وَمَن يُطِعِ اللّهَ وَالرَّسُولَ فَأُوْلَـئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللّهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاء وَالصَّالِحِينَ وَحَسُنَ أُولَـئِكَ رَفِيقًا * ذَلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللّهِ وَكَفَى بِاللّهِ عَلِيمًا).

ژباړه : اوڅوک چې د الله او رسول پیروي وکړي نو هغوی به د هغوکسانو سره ملګری وي چې الله پرې پیرزوینه کړیده چې هغه له نبیانو ، رښتینو او شهیدانو اوصالحانو څخه دي . اودا حضرات ډېر ښه ملګري دي او له دوی سره ملګرتیا خالص دالله تعالی فضل دی او الله تعالی ته د هرچا عمل ښه معلوم دی . بیا نبی کریم ﷺ هغه صحابی ته دا آیت تلاوت کړ.

د حضرت خالد ﷺ لور عَبدَه وایي : چې زما پلار به کله د ویده کیدو لپاره څملاست نو ترڅو به چې ویده شوی نه ؤ، د نبی کریم ﷺ په یاد او شوق کې به لګیا ؤ او د مهاجرینو او انصارو نومونه به یې اخستل او یادول او دابه یې ویل چې همدا زما اصول او فروع دي او د دوی طرف ته زما زړه راښکود کیږي، ای الله ما ته ژر مرګ راولې چې له دوی سره یو ځای شم، دا به یې ویل او ویده به شو.

دحضرت بلال ﷺ کیسه مشهوره ده کله چې د هغه د وفات وخت نږدې شو نود هغه بی بی دده په جدایئ ډیره غمجنه شوه ویل یې های افسوس ! ده ورته وویل سبحان الله څومره خوندوره خبره ده چې سبا ته به د حضرت محمد ﷺ زیارت اود هغه صحابه وو سره ملاقات کوم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاضی عیاض رحمه الله وايي د نبی کریم ﷺ سره د مینې او محبت د نښونه ترټولو ضروري لويه نښه دا ده چې په دوی پسې اقتدا وشي او د ده مبارکې طريقې غوره کړای شي او دده د ویناوو او کړو وړو پیروي وشي، دده حکمونو ته دې لبیک وویل شي اودکومو شیانو څخه چې ده منع فرمايلې ده د هغه نه پرهیز وکړی شي، په خوشحالی، غم او تنګسیا او پراخی کې دده په مبارکو طريقو تلل وشي.
همدارنګه الله تعالی په سورت توبه ۲۴ آیت کې فرمايي : ووایه ای محمده خلکوته که چیرې ستاسو پلرونه اوستاسو زامن او ستاسو ورونړه او ستاسو بیبیانې او ستاسو قبیله او هغه مال کوم چې تاسو ګټلی دی او هغه تجارت چې تاسو د هغه د نه چلیدو څخه ویرېږئ او هغه کورونه چې تاسو خوښوئ ( دا ټول څیزونه ) تاسوته د الله نه اود هغه د رسول نه اود هغه په لاره کې له جهاد کولونه زيات خوښ وي نوتاسې انتظار وباسئ تردې چې الله تعالی خپل حکم راولیږي او الله تعالی حکم نه منونکی خپل مرام ته نه رسوي.
هدف داچې د قرآن په ډیرو ځایونوکې د خپل محبت اوخپلې پیروۍ سره حضرت محمد ﷺ پیوست ذکر کړی دی او هر کارچې د نبی کریم ﷺ په طريقه برابر نه وي هغه الله ته بی ارزښته او بی قدره دی.

**د ځینو کلماتو معناوې:**

قُلۡ: ووایه ای محمده

تُحبون: تاسو محبت کوی

فان تولوا: که تاسو وګرځوه

د تدریس لارې: پوښتنې او ځوابونه، د خبرو اترو له لارې، تشریحي لارې...

**د لوست مرستندیه توکی:**

د لوست کتاب، غټې چارتونه یا پوسټرې وغیره.

| وخت | فعالیتونه |
|---|---|
| ۵دقیقې | ښاغلي ښوونکی د سلام او روغبړ، حاضري اخیستلو او د ټولګي له برابرولو، کورنۍ دندې نه وروسته زده کوونکي په لنډو پوښتنو د تیر لوست ارزونه کوي.<br>ښاغلی ښوونکی د نوي لوست سرلیک پر تخته لیکي بیا د نوي لوست د تیر لوست سره علمي تسلسل وړاندې کوي. |
| ۲۵دقیقې | ښاغلي ښوونکی په خپله خوښه له زده کوونکو نه غواړي چې دوه کسه زده کوونکي په خپل ځای ودریږي د العمران د سورت ۳۱ـ۳۲ شمیره آیتونه د اعوذ بالله او بسم الله ویلو سره تلاوت کړي.<br>ښاغلی ښوونکی د لوست ارزښت ناک کلمات په تخته لیکي او دهغې معنا یا په شفاهي توګه او یا لیکلې زده کوونکو ته وړاندې کوي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ښاغلی ښوونکی **۳۱ـ ۳۲** آیتونو د نزول اسباب تشریح کوي.<br>ښاغلی ښوونکی زده کوونکي په دوه کسیز ګروپونو ویشي یو ګروپ به د بل ګروپ سره د الله جل جلاله او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د محبت په باره کې خبرې اترې وکړي او د لوست ضروري نقطې د ځان سره ولیکي او د لوست په اخر کې یو کس زده کوونکی دا ضروري نقطې په لوړ اواز سره لولي او تشریح کوي.<br>ښاغلی ښوونکی د مبارکو آیتونو د لار ښوونې نتیجه او ګټې بیانوي. | |
| **ارزونه**:<br>ښاغلي ښوونکی د لوست د مفهوم د یادولو اطمینان او ډاډینې په اړوند د ارزښتناک مهارتونو، پوهې، او اطلاعاتو په برخه کې د زده کوونکو ارزونه کوي او پوښتنو ته مناسب ځواب وایي او سمه رهنمایي ورته کوي. | ۱۰دقیقې |
| **د لوست لنډیز**:<br>د آل عمران سورت چې د مدني سورتونو له جملې څخه دی (۲۰۰)آیتونه او(۲۰) رکوع ګانې لري. د نزول شمیره یې(۸۹) او مصحفي شمیره(۳) ده. د انفال سورت څخه وروسته نازل شوی دی.<br>ددې مبارکو آیتونو شانزول داسې دی: ابن منذر له حسن بصري(رح) څخه د هغو کسانو په باره کې چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره یې د درواغو وعدې کولې رایت کوي چې موږ د الله جل جلاله سره محبت لرو د دوی په هکله الله جل جلاله دغه آیتونه نازل کړل. محمد ابن اسحاق روایت کوي، د نجران د انصارو په هکله یې ویل موږ چې د حضرت عیسی او د هغه د مور بي بي مریم تقدس او پاکي بیانوو او عبادت یې کوو دا د الله جل جلاله سره د محبت په وجه دی د دوی د وینا د رد په هکله دا آیتونه راغلل چې د الله جل جلاله سره محبت کول دا په محبت د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم کې نغښتي دي او که څوک د الله جل جلاله سره شریک جوړوي او نور ور سره ملګری کوي دا دښمني او ګمراهي ده نه دوستي او محبت. | ۵دقیقې |
| **کورنۍ دنده**:<br>ښاغلی ښوونکی د درسي کتاب تفسیر شریف نه د ګټې اخیستلو په موخه زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکوي. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اتم لوست**

## **سرلیک**: **اسلام بشپړ او هر اړخیز دین دي**.

**مخ:** ( ۳۶ـ ۴۰)

**وخت:** درې درسي ساعتونه

**موخې:** زده کونکي باید!

۱ـ نساء سورت( ۶۰ـ۶۱) آیتونو په معنا او تفسیر پوهه لاسته روانړي.

۲ـ د مبارکو آیتونو تفسیر او مطلبونه د شانزول سره زده کړي.

۳ـ په ټولو اختلافاتو او جنګ جګړو کې د الله جل جلاله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په قانون او دستور فیصلې کوي.

۴ـ په قرآني او نبوی فیصلو عقیده لرو او پخپل ژوند کې پرې عمل کوو.

**د ښوونکي لپاره اضافي معلومات:**

**اسلام بشپړ او هراړخیز دین دی**

د « اسلام » لفظي معنا حکم منل او فرمانبرداري او الله تعالی ته ځان سپارل دي. او په اصطلاح کې خاص د هغه دین دحکم منلو نوم « اسلام » دی کوم چې الله تعالی د خپلو پیغمبرانو په ذریعه د انسانانو د هدایت لپاره رالیږلی دی، ځکه د دین اصول د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام په شریعتونو کې یو دي.

بیا د اسلام لفظ کله ددې عام مفهوم « مطلب » لپاره استعمالیږي اوکله صرف ددې وروستی شریعت لپاره ویل کیږي چې په خاتم الانبیاء ﷺ باندې نازل شوی دی. په قرآن کریم کې دواړه مطلبونه ورځنې اخستل شوي دي او د دواړو لپاره استعمال شوی دی. د تیرو پیغمبرانو خپل ځان ته مسلمان ویل او خپل امت ته مسلمان امت ویل هم د قرآن په آیتونو سره ثابت دي او ددې نوم ځانګړتیا د خاتم الانبیاء د امت سره هم ذکر دی.

هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ مِن قَبْلُ وَفِي هَذَا . لنډه داچې هر الهي دین چې د کوم نبي او رسول په ذریعه دنیا ته راغلی دی هغه ته هم اسلام ویل کیږي اود محمدي امت لپاره د یوه ځانګړي لقب په توګه هم استعمالیږي. اوس پوښتنه داده چې په قرآن کریم کې د اسلام د لفظ نه کوم مفهوم مراد دی؟

صحیح خبره دا ده چې په دواړوکې هر یو مراد شي د نتیجې په اعتبار سره څه خاص توپیر نه پریوځي، ځکه د تیرو پیغمبرانو دین ته چې کوم د اسلام نوم ورکړی شوی دی، هغه د یوڅو خاصو خلکو او یوې خاصې زمانې لپاره ؤ، د هغه وخت اسلام هغه ؤ، د هغوخاصو خلکو او امت نه علاوه د نورو لپاره هغه وخت هم دغه اسلام معتبر نه ؤ اوکله به چې د یوه نبي څخه وروسته بل نبي راولیږل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو نو د پخواني نبي دين به اسلام پاتې نه شو منسوخ به شو خو د دواړه انبياوو ترمنځ به څه اصولی اختلاف نه ؤ بلکې فرعي اختلاف به ؤ.
او خاتم الانبياء ﷺ ته چې کوم اسلام ورکړی شو هغه د منسوخ کيدو قابل نه دی او ترقيامته پورې به وي، ځکه بل نبي نه راځي نوچې بل نبي نه راځې دا په خپله دليل دی چې دده دين نه منسوخ کيږي ځکه ناسخ ورته نشته. او د ذکرشوې قاعدې مطابق دده دبعثت « پيغمبر کيدو » نه وروسته هغه زاړه اديان ټول منسوخ شول اوس هغه اديان اسلام نه دی بلکې اسلام صرف هغه دين دی کوم چې د محمد ﷺ په واسطه را رسيدلی دی. په دې وجه په معتبرو صحيحو احاديثوکې راغلی چې نبی کريم ﷺ فرمايلی دي چې که نن حضرت موسی عليه السلام ژوندی وی نو هم په ده به زما تابعداري لازمه وه. اوپه يوبل حديث کې ارشاد دی چې قيامت ته نږدې به حضرت عيسی عليه السلام نازل شي نو سره ددې چې د خپل نبوت په صفت به موصوف وي يعنی نبی به وي اود نبوت په دنده به قايم وي خو بيا به هم د نبی کريم ﷺ د شريعت تابعداري کوي ( او دا دين به چلوي ).
نو په دې وجه که دلته د اسلام عامه معنی مراد شي اوکه خاص محمدی دين ورځنې مراد شي، نتيجه ددواړو يوه ده، چې دخاتم الانبياء د بعثت نه وروسته به يوازې هغه دين ته اسلام ويل کيږي کوم چې دده ﷺ په ذريعه دنيا ته رارسيدلی دی، دغه اسلام د ټولو خلکو لپاره دخلاصۍ او نجات وسيله ده او الله تعالی فرمايي « وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الإِسْلاَمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ » : يعنی د اسلام نه پرته بل دين چې کوم سړی اختيار کړي هغه به دده نه قبول نکړی شي يعنی د الله تعالی په نزد مقبول نه دی  او کوم عمل چې د هغه بل دين مطابق وکړی شي هغه به ضايع کړی شی.

**دين**: په عربی ژبه کې د «دين » لفظ څومعناوې لري چې يوه معنا يی طريقه او روش دی. د قرآن په اصطلاح کې د دين لفظ د هغواصولو او احکامو لپاره استعماليږي کوم چې د حضرت آدم عليه السلام نه تر خاتم الانبياء ﷺ پورې په ټولو انبياووکې شريک دی . او د « شريعت » لفظ يا « مذهب » لفظ د فروعي احکامو لپاره استعماليږي چې په مختلفو زمانو اومختلفو امتونو کې راغلی دي.
قرآن کريم لاربنوونه کوي چې : شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا. يعنی الله ستاسو لپاره هغه دين جاري کړی دی، دکوم چې وصيت ستاسو نه مخکې نوح عليه السلام ته او نورو پيغمبرانو عليهم السلاموته شوی وه. لنډه داچې په دې زمانه کې نجات په اسلام پورې تړلی دی، د غير مسلمان نيک عمل او نيک اخلاق هم قبول نه دي او نور اديان د نجات ذريعه ګڼل د اسلام د بنيادونو نړول دي. او د آخرت د نجات دارمدار ترټولو د مخه د الله تعالی او د هغه د رسول په فرمانبردارۍ باندې دی څوک ددې نه محروم پاتې شو د هغه هيڅ عمل معتبر نه دی او نه به هغه وزن کړی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ځينو کلماتو معناوې:**

اَلَمْ تَرَ: آيه تانه دی ليدلي

اَنْ يَتَحَاكَمُوْ: تاسو فيصلې کوي

تَعَالَوْ: راشي

**د لوست مرستندويه توکي:**

کتاب، مراجع، د قرآني کلماتو چارچ..

**د تدريس لارې:**

تشريحي، د سوال جواب په شکل، مسابقوی او ګروپي تدريس.

| وخت | فعاليتونه |
|---|---|
| ۵دقيقې | ښاغلی ښوونکی ټولګي ته په راتګ سره پر زده کوونکو سنت سلام اچوی روغبړ ورسره کوي<br>کورنی دنده يې ګوري بيابه د نوي لوست سرليك د ټولګي په تخته ليکي او د نوي لوست اړيکې د تير لوست سره تشريح کوي.<br>ښاغلی ښوونکی د زده کوونکو له جملې څخه يو تن ته چې په تجويد کې پوهه او تجربه لري غواړي چې په پوره ادب او احترام سره د نساء د سورت ۶۰ــ ۶۱ شميره آيتونه په ترتيل سره تلاوت کړي. |
| ۲۵دقيقې | بيا ښاغلی ښوونکی د مباکو آيتونو ارزښتناك مطلبونه او تفسير په ښکلي الفاظو کې زده کوونکو ته وړاندې کوي.<br><br>ښاغلي ښوونکي دې زده کوونکو ته دنده ورکړي چې (۳۵ـ۳۶ــ۳۷ــ۳۸) صفحو پوره متن د يو بل په کومك سره ولولي او لغوي او علمي ستونزې وليکي |
| ۱۰دقيقې | **ارزونه**:<br>ښاغلی ښوونکی د ښه او ګټور لوست د وړاندې کولو په خاطر او د ګټورو پوښتنو څخه په ګټې اخيستلو سره ذهني او مهارتي پوهې په برخه کې د زده کوونکو ارزونه کوي. |
| ۵دقيقې | **د لوست لنډيز**:<br>د لوست غوره شوی آيتونه د نساء په سورت کې چې په مدينه منوره کې نازل شوی (۱۷۴)آيتونه او ۲۴ رکوع ګانې لري او د نزول شميره يې ۹۲ او مصحفې شميره يې ۴ ده. د ممتحينه سورت نه وروسته نازل شوی ده د تير لوست په دغو مبارکو آيتونو کې د الله جل جلاله د محبت او مقام پيژندنه وشوه چې د الله جل جلاله پيروي او د محمد |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| صلی الله علیه وسلم پیروي او دهغه په سنتو ثابت پاتې کیدل د الله جل جلالـه د مینـې او محبت او دګناهونو د ښنې لامل کیږی یعنی د الله جل جلاله پیروي د رسـول الله صـلی الله علیه وسلم په پیروي کې ده. د نوي لوسـت پـه مبـارکو آیتونـو کـې دې مطلـب تـه سپارښتنه شوې چې په هر اړخیزو اختلافاتو کې به د الله جل جلاله په کتاب قرآن کریم او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په سنتو فیصلې کوو. | |
| **کورنۍ دنده**:<br>د درسي کتاب د هدایت مطابق باید کورنۍ دنده ورکړه شي. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نهم لوست**

## سر لیک: لمونځ تل پاتې او نه شلیدونکې فریضه ده.

**مخ:** ۴۱_ ۴۵

**وخت:** درې درسي ساعتونه

**موخې:** زده کوونکي باید!

۱_ د نساء د سورت (۱۰۱_۱۰۴) مبارکو آیتونو تلاوت په ښکلي اواز سره ادا کړي.

۲_ د مبارکو آیتونو کلي مفهوم او تفسیر چې د ویرې د لمانځه په باره کې دې په عملي او نظري توګه زده کړي.

۳_ د څلور رکعتي او قصر لمانځه په باره کې فقهي احکام زده کړي او عملي بڼه ورکړئ.

**د ښوونکي لپاره اضافي معلومات:**

**لمونځ تل پاىې او نه شلیدونکې فریضه ده**

لمونځ د ټول اسلامي امت په نزد د ټولو نه ضروري عبادت اود ایمان څخه وروسته په ټولو فرائضو باندې وړاندې والی لري او په قیامت کې به هم د ټولونه اول د لمانځه په هکله پوښتنه کیږي.

حضرت عبدالله ابن مسعود ﵁ فرمايي چې ما د نبی کریم ﷺ نه پوښتنه وکړه چې د الله جل جلاله په نزد د ټولو نه زیات خوښ عمل څه دی؟ ده وفرمایل : لمونځ، ما عرض وکړ ددې نه پس څه دی؟ ویې فرمایل د مور او پلار سره ښه سلوك او چلند ، ما عرض وکړ ددې نه پس کوم عمل غوره دی؟ ویې فرمایل جهاد.

ملا علي قاري رحمه الله وايي چې په دې حدیث کې ددې دلیل دی چې د ایمان نه وروسته د ټولونه وړاندې لمونځ دی. او بل داسې حدیث هم شتون لري چې فرمايي : اَلصَّلٰوةُ خَيْرُ مَوْضُوْعٍ : یعنی بهترین عمل چې الله تعالی د بندګانو لپاره مقرر کړی دی هغه لمونځ دی. نور احادیث هم په دې هکله زیات موجود دي.

هو د نبی کریم ﷺ له ډیرو احادیثو څخه ثابتیږي چې الله تعالی په لمانځه سره ګناهونه معاف کوي، خو علماء وايي چې مراد ورځنې واړه ګناهونه دي، ځکه د مسلمان د شان سره نه ښايي چې دده په ذمه لوی ګناهونه باقي پاتې وي. اول خو د مسلمان نه دکبیرې ګناه کیدل مشکل دي اوکه چیرې ترې وشي هم نو پرته له توبې ایستلو ده ته آرام راتلل مشکل دي، ځکه د مسلمان د شان سره ضروري ده چې کله دده نه کبیره ګناه وشي نو ترڅو هغه په ژړا او زاریو ونه وینځي ده ته آرام نه ورځي، البته وړو ګناهونو ته ډیره پاملرنه نه وي خو هغه په لمانځه سره معافیږي. که څه هم په احادیثوکې د وړې او لويې ګناه قید نشته . هدف داچې په لمانځه ګناهونه ببنل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابوسعید خدري ﷺ د نبي کریم ﷺ ځخه روایت کوي چې پنځه لمونځونه د مینځني وختونو لپاره کفاره دي یعنی د یو لمونځ نه تر بل لمانځه پورې چې کوم ګناهونه وي هغه د لمانځه له برکته معاف کیږي.

حضرت حذیفه ﷺ فرمايي چې نبي کریم ﷺ ته به څه مشکل کار یاځه آفت پیښ شو نو دی مبارک به فوراً لمانځه طرف ته متوجه کیده.

اوبل د لمانځه په هکله الله تعالی فرمايي : « وَاسْتَعِينُواْ بِالصَّبْرِ وَالصَّلاَةِ »: یعنی په صبر او لمانځه سره د الله نه مرسته وغواړئ.

اوپه بل آیت کې فرمايي : « وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا لَا نَسْأَلُكَ رِزْقًا نَّحْنُ نَرْزُقُكَ » : یعنی خپلو کوروالوته د لمانځه حکم کوئ اوپه خپله هم ددې اهتمام کوئ موږ ستا نه روزي ګټل نه غواړو روزي به تا ته موږ درکوو.

ابومسلم رحمةُ الله علیه فرمايي چې زه د حضرت ابو أمامه ﷺ په خدمت کې حاضرشوم هغه په جومات کې تشریف درلود، ما عرض وکړ چې ما ته ستا له طرفه یونفر دا حدیث نقل کړی دی چې تاسې د نبي کریم ﷺ ځخه اوریدلي دي چې څوک په ښه شان اودس وکړي بیا فرض لمونځ اداءکړي نو الله ددغې ورځې هغه ګناه چې په تلوسره شوې وي اوهغه ګناه چې د لاسونو په واسطه شوې وي اوهغه ګناه چې د هغه له غوږونو ځخه شوې وي او هغه ګناه چې د هغه له سترګوځخه شوې وي اوهغه ګناه چې د هغه په زړه کې پیدا شوې وي ټولې معاف کوي.

حضرت ابو أمامه ﷺ وفرمایل : قسم په الله ما دا مضمون د نبي کریم ﷺ ځخه څو څو ځله اوریدلی دی.

د نبي کریم ﷺ ارشاد دی چې کله د لمانځه وخت راشي نو یوه فرښته اعلان کوي چې ای د آدم اولاده پاځئ او د دوزخ هغه اور کوم چې تاسو ( دګناهونو په وجه ) په خپلو ځانونو بل کړی دی مړ کړئ.....

په بل حدیث کې راځي چې الله تعالی ارشاد فرمایلی چې ما ستا په امت پنځه لمونځونه فرض کړي دي او ددې مې د ځان سره وعده کړې ده چې څوک ددې پنځه لمونځونو په خپل وخت کې د اداء کولو اهتمام کوي هغه پخپله ذمه واری جنت ته داخلوم اوڅوک چې ددې لمونځونو اهتمام نکوي د هغه په ما هیڅ ذمه واري نشته.

د لمانځه په هکله امام غزالي رحمه الله وايي : چې کله کومه ګناه عامه شي بیا هغه ګناه خلکوته ګناه نه ښکاره کیږي مثال یې ورکړی چې د روژې خوراک عام نه دی که څوک روژه قصدي خوري، نوټول خلك به ورته لوی کافر ووایي چې وګورئ دخلکو په وړاندې روژه خوري ـ حال داچې د روژې په قصدي خوړلو دکفر فتوی یوه عالم او یوه مذهب هم نده ورکړې (خو داخبره په یاد ولرئ که څه هم بیا ټول عمر روژه ونیسي د هغې خوړل شوې روژې ثواب نشي حاصلولی ) اما د لمانځه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پریښودل او قضاکول چون عام شوي نو د لمانځه قصدي پریښودونکی ته هیڅوک کافر نه وایي حال داچې په قصدي پریښودلو باندې ډیرو علماوو او ډیرو مذهبونو دکفر فتویٰ ورکړیده.

لنډه دا چې موږ احناف يې کافر نه بولو خو امام غزالي هر کله چې شافعي مذهب دی نو د هغه دا خبره ډیره د قدر وړ ده او په احادیثو استدلال کوي.

دحضرت جابر ابن عبدالله ﷛ څخه روایت دی : قَالَ، قَالَ رَسُولُ الله ﷺ بَينَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الكُفْرِ تَرْكُ الصَّلوةِ رواه احمد. وَقَالَ بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ وَالكُفْرِ تَرْكُ الصَّلَوةِ . یعنی لمونځ پریښودل بنده کفر ته رسوي ، بل ځای ارشاد دی چې بنده اوکفر لره یوځای کوونکی څیز صرف لمونځ پریښودل دي ، بل ځای ارشاد دی چې د ایمان اوکفر په منځ کې د لمونځ پریښودلو فرق دی.

د نبي کریم ﷺ ارشاد دی چې څوک دوه لمونځونه پرته له عذر څخه په یو وخت کې کوي هغه د لویو ګناهونو د دروازو نه په یوه دروازه ورسیده. هدف دا چې پرته له عرفات او مزدلفې څخه نور دوه لمونځونه پرته له عذره په یو وخت اداء کول لویه ګناه ده.

همدارنګه له ابوهریرة ﷛ څخه روایت دی : قَالَ قَالَ رَسُولُ الله ﷺ : لَا سَهْمَ فِي الاِسلَامِ لِمَنْ لَا صَلَوةَ لَه وَلَا صَلَوةَ لِمَنْ لَا وُضُوءَ لَه : یعنی په اسلام کې هیڅ برخه نشته دهغه چا لپاره چې لمونځ نکوي او بې اودسه لمونځ نه کیږي. په بل حدیث کې دي چې دین بې لمونځه نشته، لمونځ د دین لپاره داسې دی لکه څنګه چې د سړي د بدن لپاره سر وي.

همدارنګه په کار ده چې لمونځ په جماعت سره اداء کړو ځکه د نبی کریم ﷺ حدیث دی، ابن عمر ورځنې روایت کوي چې : صَلَوةُ الْجَمَاعَةِ أفضَلُ مِنْ صَلَوةِ الْفَذِّ بِسَبعٍ وَعِشْرِيْنَ دَرَجَةً :
یعنی د جمع لمونځ د تنها لمانځه څخه اوه ویشت درجې زیاتیږي.

په حدیث شریف کې راځي چې کوم خلك زیات وخت په جومات کې تیروي فرښتې ددوی د ناستې ملګري دي، که چیرې ناروغه شي فرښتې يې بیمار پوښتنې ته ورځي، که چیرې کار ته ولاړ شي نو فرښتې ورسره مرسته کوي.

د نبي کریم ﷺ په بل حدیث کې چې ابو هریرة روایت کړی فرمایي : د جماعت لمونځ د تنها لمانځه څخه (۲۵)درجې زیاتیږي، خبره داده چې کله سړی اودس وکړي او ښه کامل اودس وکړي بیا جماعت ته صرف د لمانځه په اراده ولاړشي څه بله اراده یی نه وي نوچې کوم قدم اخلي د هغې په وجه یی یوه نیکي زیاتیږي او یوه ګناه یی معاف کیږي بیا چې لمونځ وکړي او په خپل ځای کې ناست وي نو ترڅو چې په اوداسه کې وي فرښتې ورته د ښښنې او رحمت دعاګانې کوي اوترڅوچې سړی د لمانځه په انتظارکې وي هغه د لمونځ ثواب مومي.

محمد بن سماعه رحمه الله یو لوی عالم دی وایي په څلویښتو کلونوکې زما څخه یوځل د جماعت لمونځ فوت شو چې هغه هم د مور په مرګ مشغول وم نو بیامې هغه لمونځ پنځه ویشت ځله وکړ څو د جماعت د لمانځه درجه وګټم نو په خوب کې مې ولیده چې یوکس راته وایي محمده ! پنځه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویشت وارې خو دې لمونځ وکړ خو د ملایکو آمین به څرنګه کوې. څکه په حدیث کې راځي کله چې امام د سوره فاتحې نه وروسته آمین وایي نو ملایکې هم ورسره آمین وایي، نو د چا آمین چې د ملایکو له آمین سره یوځای شي د هغه وروستنی ټول ګناهونه معاف کیږي. نو په خوب کې دې حدیث ته اشاره وه.

په یوه بل حدیث کې د ابو هریرة ﷺ په روایت راځي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل چې زما زړه غواړي چې یوڅو ځوانانوته ووایم چې ډېر خس او خاشاك راجمع کړي بیا زه هغو خلکوته ورشم چې بې عذره په کورونو کې لمونځ کوي او د هغوی کورونه وسوځوم.

نبي کریم ﷺ سره له هغه شفقت او رحمته چې کوم د امت په حال یې درلود او د چا کوم معمولي تکلیف یې هم نه خوښوه خو په هغو خلکو کوم چې په کورونوکې لمونځ کوي دومره غصه دی چې د هغوی کورونه سوځوي.

هو ! په لمانځه کې د زړه حضور او عاجزي او اخلاص ډېر شرط دی، حضرت معاذ ﷺ وایي کله چې زه نبي کریم ﷺ یمن ته د والي په توګه لیږلم نو ما د آخري وصیت غوښتنه ورځنې وکړه، نبي کریم ﷺ راته وفرمایل چې ددین په هرکار کې د اخلاص اهتمام کوه څکه په اخلاص سره لږ عمل هم ډېریږي.

حضرت ثوبان ﷺ وایي چې ما نبي کریم ﷺ څخه واوریدل چې فرمایل یې د اخلاص والو لپاره دې خوشحالي وي، دوی د هدایت ډیوې دي د دوی په وجه د سختونه سختې فتنې لرې کیږي.

حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ فرمایي : د لمونځ قایمولو نه مراد دادی چې رکوع او سجده یې په ښه شان اداء شي پوره پوره لمانځه ته متوجه واوسي یعنی د زړه په حضور او عاجزۍ اداء شي.

د حضرت قتاده نه نقل شوی چې د لمونځ قایمول : د هغه د وختونو مراعاتول، په ښه شان اودس کول او په ښه طریقه رکوع اوسجده کول دي.

د نبي کریم ﷺ ارشاد دی چې د ټولونه بدترین غل هغه دی چې د لمانځه نه غلا کوي، صحابه وو ﷺ عرض وکړ چې ای د الله رسوله! د لمانځه نه به څنګه غلاکوي؟ ارشاد یې وفرمایه چې د هغه رکوع او سجده په ښه شان نه اداء کوي.

په یوه بل حدیث کې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې یو بنده به تر شپیتو کلونو پورې لمونځ کوي خو یو لمونځ یی هم نه قبلیږي که رکوع ښه وکړي نو سجده پوره نه کوي اوکه سجده ښه وکړي نو رکوع پوره نه کوي.

حضرت ابوالعالیه ﷺ فرمایي : چې د الله جل جلاله ددې ارشاد :« إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاء وَالْمُنكَرِ » مطلب دا دی چې په لمانځه کې درې شیزونه دي : اخلاص، دالله تعالی ویره او د الله ذکر: په کوم لمونځ کې چې دا شیزونه نه وي هغه اصلاً لمونځ نه دی. اخلاص د نیکو کارونو حکم کوي ـ د الله تعالی ویره د بدو خبرو نه منع کوي او د الله ذکر قرآن کریم دی چې په مستقله توګه د ښو خبرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکم کوي او د بدو خبرو نه منع، نو ځکه نبي کريم ﷺ فرمايي: چې کوم لمونځ د بدو خبرو او نامناسبو کارونو څخه منع نه کوي هغه لمونځ په ځای ددې چې الله ته د نږديکت وسيله شي د الله تعالی نه د لرې کيدو لامل ګرځي.

او د حضرت حسن په روايت نبي کريم ﷺ فرمايي چې د چا لمونځ هغه د بدو خبرو نه منع نکړي هغه اصلاً لمونځ نه دی.

لنډه داچې لمونځ بايد په هيڅ حالت کې قضا نشي ځکه لمونځ که اوبه نه وي په تيمم سره هم کيږي، د مرض په حالت کې که په ولاړې قدرت نه وي په ناستې سره هم کيږي ان تردې چې په اشارې سره هم اداء کيدای شي.

او علماء وايي چې که د مور څخه نيم اولاد راوتلی وي، نو په داسې حالت کې هم بايد لمونځ وکړي او قضا يې نکړي. او حتی د جنګ په حالت کې هم بايد دجنګ قوماندان خپل مجاهدين دوه ډلې کړي او په دواړو ډلو لمونځ په جماعت سره اداء کړي.

**د ځينو کلماتو معناوې:**

تَقْصرو: لنډ يې کړي

مِنْ ورائكم: وروسته له تاسونه

مَيْلَةً: حمله او يرغل

**د لوست مرستندويه توکي:**

کتاب،تفسير شريف، پوسټرونه او انځوريزې نښې نښانې.

**دتدريس لارې:**

تشريحي، مقابلوي، ګروپي،تمثيلي...

| وخت | فعاليتونه |
|---|---|
| ۵دقيقې | ښاغلی ښوونکی د اعوذ بالله او بسم الله په ويلو سره د نساء دسورت (۱۰۱ــ۱۰۴) مبارک آيتونه په ښه لهجه په ترتيل سره تلاوت کوي بيا له څو زده کوونکو څخه غواړي چې پخپل وار سره هر يو ددغه لوست آيتونه تلاوت کړي. |
| ۲۵دقيقې | ښاغلی ښوونکی د لوست بغلي عنوانونه ورته په تخته ليکي او د مبارکو آيتونو مفهوم، ترجمه، او لنډ تفسير زده کوونکو ته تشريح کوي او همدارنګه د ويرې د لمانځه څرنګوالی د جهاد په اضطراري حالتونو کې زده کوونکو ته تشريح کوي.<br>ښاغلی ښوونکی د زده کوونکي په دوه ډلو ويشي هرې ډلې ته دنده ورکوي چې ترجمه، تفسير او د ويرې د لمانځه د ادا کولو څرنګوالي د کتاب د متن مطابق خپلو |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ملګرو ته تشریح کوي.<br>ښاغلی ښوونکی د زده کوونکو ستونزې حل کوي او د فقهې او تفسیر په برخو کې له زده کوونکو سره مرسته وکړي.<br>ښوونکی زده کوونکو ته د ویرې لمونځ په عملي توګه تمثیلوي بیا به په ټولګي کې په زده کوونکو باندې هم د ویرې د لمانځه طریقه په شفاهي او عملي توګه تشریح کوي. | |
| **ارزونه**:<br>ښاغلی ښوونکی ددې لپاره چې د زده کووکو له زده کړې څخه ډاډینه حاصله کړي نو د لوست محتوا او ارکان د تفسیر شریف مطابق د پوښتنو په ترڅ کې مطرح کړي او د زده کوونکو د پوهې او مهارت ارزونه کوي. | ۱۰دقیقې |
| **د لوست لنډیز**:<br>موږ او تاسو پوهیږو چې شارع فرمايي چې لمونځ ددین ستنه ده هغه څوک چې لمونځ قایموی په حقیقت کې د الله جل جلاله دین قایموي او که څوک لمونځ پریږدی په حقیقت کې د الله جل جلاله دین پریږدي او نړوي یې. په حدیث شریف کې یې ټول دین په لمانځه پورې منحصر کوي ځکه لمونځ د توحید او رسالت او د اسلامی معتقداتو څخه وروسته د اسلام دویمه بناده.<br>په بل حدیث شریف کې راغلي چې پیژندنه دمسلمان او کافر په لمانځه سره کیږي.<br>او د لمونځ د فرضیت په باره کې په قرآن کریم کې په (۹۶)ځایونوکې تاکید راغلی دی.<br>د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ویناوو له مخې لمونځ اهم عبادت دی چې د دښمن د ویرې په وخت او دجهاد په سنګر کې یې هم په جماعت سره د هغه د ادا کولو حکم کړی دی حتی د مرض په وخت کې یې پریښودل نشته که څوک یې په ولاړه نشي کولی په ناسته دې وکړي او که په ناسته یې نشو کولی په اشاره دې وکړي او که په اشاره یې هم نشو کولای بیا ورڅخه ساقطیږي الله جل جلاله ورته ښښنه کوي. | ۵دقیقې |
| **کورنۍ دنده**:<br>ښاغلی ښوونکی د درسي کتاب مطابق زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکوي. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لسم لوست**

## **سرلیک**: د ظلم د مخنیوي لپاره د جهاد اجازه

**مخ: ۴۶ـ۴۹**

**وخت:** دوه درسي ساعتونه

**موخې:** زده کوونکي باید:

۱ـ د حج د سورت ۳۹ـ ۴۱ مبارکو آیتونو په رڼا کې د جهاد په اهمیت وپوهېږي.

۲ـ د جهاد د روا والي او د هغې د اصلاحي، اعتقادي او اخلاقي حکمتونو په رڼا کې پــه نېکیـو بانـدې امر او د بدیونه منع کول په خپل ژوند کې د ټولو مهمو دندو څخه وګڼي.

**د ښوونکي لپاره اضافي معلومات:**

**د ظلم د مخنیوي لپاره د جهاد اجازه**

کله چې مشرکانو په ډیر ظلم اوتیري لاس پورې کړ او خبره تردې ورسیده چې مؤمنان د دوی له تیریو او ظلمونو څخه سخت په عذاب شول، یو به رسول الله ﷺ ته وهل شوی راتلو اوبل به زخمي اوټپي راتلو او ډیره ژړا ، شکوه او شکایت به یی کاوه.

خورسول الله ﷺ به ورته ویل : صبر وکړئ، زه په جهاد نه یم مامور شوی او له اویاوو څخه زیات آیتونه د جهاد او جنګ په نه کولوکې راغلي دي او سربیره په دې د هجرت په کولو هم مامور شوي یو. بالآخره دغه مبارک آیت « أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا...... » نازل شو او د جهاد اجازه یی ورکړه او دا په دې هکله لومړنی آیت دی.

هو کله چې مسلمانانو پوره دیارلس کاله د کافرانو سختی او کړاوونه وزغمل او بالآخره دیته مجبور شول چې خپل کورونه او خپل شته هرڅه دوی ته پریږدي اوهجرت ورځنې وکړي. نوهمغه وه چې ځنې حبشې ته اوځنې مدینه منورې ته په هجرت کولو مجبور شول خو د دې ظالمانو په دې هم زړونه ساړه نه شول د هجرت په ځای کې یې هم آرام او سا اخستوته نه پریښودل، د حبشې پاچا ته یې ډالۍ لیږلې چې مسلمانان له وطنه وشړي خو کله چې په مدینه منوره کې یوه وړه ډله راغونډه شوه کافرانوبه د مکې نه لښکرې جوړولې او مدینې منورې به ورتلل او دوی یی هلته آرام ته نه پریښودل نو آیا په داسې حالتونو کې مسلمانانو دځان څخه دفاع نه وای کړې؟ او ایا الله پاک مظلومانوته د ځانونو څخه د دفاع لپاره اجازه نه وای ورکړې؟ نو همغه وه چې الله دوی ته دجنګ او مقابلې اعلان وکړ او دا تسلي یې ورکړه چې ای مؤمنانو له خپل کمښت او قلت څخه مه ډاریږئ، الله تعالی یوه ډیره وړوکې بې وسیلې ډله هم د دنیا د لویو لویو فوځونو او سلطنتونو په وړاندې بریالۍ کولی شي، په حقیقت کې دا یوه په زړه پورې د مسلمانانو سره د مرستې وعده وه.

اوبل په دې اجازه او وعده کې حکمت دا ؤ چې که د ځان څخه د مقابلې اجازه نه وای نودا به د الهي فطرت له قانون څخه سخت مخالفت وی الله پاک د دنیا نظام داسې جوړ کړی دی چې هر شی

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا هر شخص یا هره ډله دې د بل شي یا شخص یا ډلې په مقابل کې دخپل وجود د ساتنې لپاره جنګ وکړي که داسې نه وای او الله پاک د نیکۍ حمایت او ملاتړ د بدۍ په مقابل کې نه کولای نود نیکۍ نوم اونښان به هم په جهان کې نه وای پاتې، بې دینانو اوشریرانو خلکوبه ټول مقدس مقامات او مهم یادګارونه د تل لپاره د وجود له صفحې څخه محو او له منځه وړي وو یو معبد، تکیه خانه، عبادتخانه ، خانقاه، جومات اومدرسه به محفوظ نه وای پاتې شوي نو ضروري شوه چې د بدۍ طاقتونه که څه هم ډیر سره جمع هم شي خو د قدرت له پلوه به داسې یو وخت راشي چې د نیکۍ په مقدسو لاسونو سره به د بدۍ د حملې مدافعت وکړي اودوی به د حق او ریښتینولۍ په وسیله په دښمنانو غالب کړي.

هو : په وروسته آیتونوکې راځي چې الله به ولې له دوی سره مرسته نه کوي؟ کله چې دوی داسې یوقوم دی چې که الله تعالی دوی ته دځمکې د مخ پاچاهي هم ورکړي خو بیا هم دوی د الله تعالی له یاده نه غافلیږي او په خپله هم په بدني اومالي نیکیو کې مصروف دي او کوښښ کوي چې نور هم په دغه سمه لاره برابر کړي او خلک د مخلوق له غلامۍ څخه د یوه الله غلامۍ ته راوبولي. ددنیا له تنګیو او کړوونوڅخه یی د آخرت پراخیوته سوق کړي اود باطلو اومنسوخو مذهبونو د ظلم څخه یی د اسلام عدالت ته راولي.
همدا وجه وه چې کله د ابو سفیان له ښځې هندې څخه پوښتنه وشوه چې ته خو ډېره سخته د اسلام دښمنه وې، ستا د مسلمانیدو لامل څه ؤ هغې وویل : چې کله به چا یو ښار او ملک فتح کړ نو هلته به رقصونه، شرابونه، کبابونه او ډول ډول عیشونه او چړچې خوریدې خو کله چې صحابه وو مکه فتح کړه زه په خپل بام ورته ناسته وم دوی ټوله شپه د الله په عبادت او ژړا وو اودعاګانو تیره کړه نو زه پوه شوم چې دا خلک په حقه دي نو ځکه مسلمانه شوم.
هو کله چې الله پاک مسلمانانوته دځمکې حکومت ورکړ نو کومې پیشګویۍ چې پخوا شوې وې هغه ټکي په ټکي رښتیا شوې اونیکې پایلې یی ګردې نړۍ په سترګو ولیدلې، خونن چې مسلمانانو له اسلام او عباداتو څخه ګوښه نیولې ده وینوچې مسلمانان بیا هرځای د ظلمانو او کافرانو تـرظلم لانـدې شـپې تیروي او ډول ډول ظلمونه پرې کیږي.

**د ځینو کلماتو معناوې:**

اُذِنَ: اجازه یې ورکړه

یُقاتَلُون: د هغوی سره جنګ

عا قِبَهُ الأُمور: د خپلو کارونو سرته رسول

**د تدریس لار:**

تشریحي، پوښتنه او ځواب، ډله ییز...

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د تدریس مرستندویه توکي:**

کتاب، تخته، تخته پاک، تباشیر او داسې نور

| وخت | فعالیتونه |
| --- | --- |
| ۵دقیقې | ښاغلي ښوونکي د مقدماتي موضوعګانو څخه وروسته د زده کوونکو مقالې چې د لمانځه د اهمیت په باره کې لیکلې دي وګوري بیا د مقالو له جملې څخه یوه مقاله چې علمي او منلي دلایل ولري د ټولګي په نشراتي تخته وځړوي.<br>ښاغلي ښوونکی د نوی لوست عنوان په تخته لیکي او بیا د حج د سورت ۳۹ـ ۴۱ مبارک آیتونه د یوه زده کوونکی په واسطه تلاوت کوي او د دوی تجویدي او لفظي سهوې په شفقت سره اصلاح کوي. |
| ۲۵دقیقې | ښاغلي ښوونکی د جهاد د حکم او مشروعیت په هکله او د مبارک آیت د نازلیدو لامل او د جهاد د حکمت او فلسفې په اړه چې د جهاد په واسطه په ځمکه کې الهي عدل نظام ټینګښت ومومي، ظلم او بې عدالتي او د شرک او کفر نښې نښانې او د کافرانو، ملحدانو غلبه او بر لاسی له منځه ولاړه شي او جهاد تر ټولو غوره عبادت او د اسلام لوړه څوکه او د الله جل جلاله د شعایرو او د ټولنې د اصلاح او جوړښت وسیله ګڼلی کیږي.<br>ښاغلی ښوونکی زده کوونکي په دوه ډلو ویشي او لار ښوونه ورته کوي چې په لوست کې د مبارک آیت ګټې ولیکی او دغه ګټې د ټولو زده کوونکو په استازیتوب یو کس زده کوونکي ته په لنډ ډول بیان کړي. |
| ۱۰دقیقې | **ارزونه**:<br>ښا غلی ښوونکی د لوست د ښې زده کړې او د ارزښتونو د پیژندلو په خاطر د زده کوونکو ارزونه کوي. |
| ۵دقیقې | **د لوست لنډیز**:<br>د حج مبارک سورت ۷۸آیتونه او لس رکوع ګانې لري. د نزول شمیره (۱۰۳)ده. او د سورت نور څخه وروسته نازل شوي او مصحفي شمیره (۲۲)ده او د انبیاء له سورت څخه وروسته ده د حج مبارک سورت په مدینه منوره کې نازل شوي او دا هغه وخت وو چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او اصحابو یې د مشرکانو له ازار او تکلیف له کبله د الله جل جلاله د فرمان مطابق له مکې مکرمې څخه چې د دوی پلارنـي ګران وطن وه د الله جل جلاله د رضاء د لاسته راوړلو په منظور او د دیني فریضو د سرته رسولو په غرض یې مدینې منورې ته هجرت وکړ او ورځ په ورځ د توحید صفونه پیاوړی کیدل او مسلمانان په نا کراری سره د جهاد فرضیت رویه ګرندي د الله جل جلاله هدایت او فرمان |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ته ليواله وه، د حج د مبارک سورت په ۳۹او ۴۰ مبارکو آيتونو د کافرانو او مشرکانو په وړاندې جهاد او وسله واله جګړه فرض شوه او د جهاد له منشور سره سم صحابه کرامو په سر قربانولو او د مدينې منورې له سپيڅلي حريم او د اسلام د مبارک دين له مقدساتو او ارزښتونو څخه د دفاع او د الله جل جلاله د کليمې د او چتولو او د اسماني قانون د حاکم کولو لپاره متې را ونغښتې او د پيغمبر صلی الله عليه وسلم تر لار ښوونې او مشري لاندې يې په ټوله جزيرة العرب کې يو ريښتينی انقلاب راوست انسانانو ته يې د غير الله او د نورو خدايانو چې له تيرو او لرګيو څخه جوړ شوی وه هيڅ روح او اراده يې له ځان سره نه لرله د جهاد په برکت سره دړې وړې کړل او د کفر او شرک جرړې يې له بيخه غوڅې کړې او ددې مبارکو آيتونو حکم به تر قيامته پورې جاري وی او همدا جهاد دی چې د دنيا او آخرت نيک مرغی پکې ليدل کيږي او همدا جهاد دی چې په ځمکه کې د الله جل جلاله د عدل نظام را منځته کوي او ټولې نا خوالې له منځه وړي. | |
| **کورنۍ دنده**:<br>ښاغلی ښوونکی د درسي کتاب څخه د ګټې اخيستلو په منظور زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکوي. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**یولسم لوست**

## سر لیک: روژه او ګټې یې

**مخ: ۵۰ـ ۵۷**

**وخت:** دوې درسي ساعتونه

**موخې:** زده کوونکي باید

۱ـ د روژې فرق په اسلامي دین کې د مخکینیو امتونو سره وپیژني

۲ـ د روژې په مبارکه میاشت کې د مؤمنانو لپاره د الله جل جلاله د مهربانۍ او فضل لـه دلایلـو څخـه څه زده کړي

۳ـ د رمضان المبارک د میاشتې د روژې د فرضیت او حکمت په باره کې معلومات حاصل کړای شي.

**د ښوونکي لپاره اضافي معلومات:**

د صوم لفظي معنا امساک یعنې بندیدل او بچ کیدل دي او د شریعت په ژبـه کـې صـوم یعنـي روژه د خوراک، څښاک او ښځې سره د نږدیکت نه د بندیدلو او لرې کیدلو نـوم دی، پـه دې شـرط چـې د صبح صادق نه پیل او د لمر تر ډوبیدو پورې دوام ومومي او ورسره نیت هم د روژې وي.

همدا وجه ده چې که چیرې د لمر له ډوبیدو څخه یوه دقیقه وړاندې هم څه وخوړلی شي یـا وڅـښلی شي نو روژه و نه شوه، همدارنګه که چیرې ددغه ټولو څیزونو څخه ټوله ورځ پرهیز وکړی شـي خـو نیت یې د روژې نه وي نو دا هم روژه نده.

د روژې حکم مسلمانانو ته په یو خاص مثال سره ورکړی شوی دی، د حکم سـره دا ویـل شـوي دي چې ددې روژو فرضیت په تاسو پورې خاص نه دی بلکې په ړومبنیـو امتونـو هـم روژې فـرض کـړی شوې وې، له دې څخه د روژې خاص اهمیت هـم معلـوم شـو او ورسـره د مـسلمانانو زړه ډاډینـه هـم وشوه چې دا ستونزه پخوانیو امتونو هم زغملې ده او دا یوه طبعي خبره ده چې په کړاو او ستونزه کـې څومره ډیر خلک شریک شي نو هومره هغه ستونزه او کړاو آسانیږي. البته د روژو په کیفیت، شمیر او د وختونو په تعین کې به مسلمانان د نورو امتونو سره فرق لري.

**لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ:** په دې جمله کې اشاره ده چې د تقوی د صفت په حاصلولو کې روژو ته لوی دخـل دی ځکه په روژې سره په سړي کې دا ملکه پیدا کیږي چې دی به بیا په خپلو خواهشاتو باندې ولکه لرلی شي او د تقوی بنسټ هم دغه شی دی.

**فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا:** د مریض نه مراد هغه مریض دی چې هغه ته په روژه نیولو کې د زغملو نه زیات تکلیف رسیږي یا دا چې ده ته قوي خطره وي چې د روژې په نیولو یې مرض زیاتیږي او پـه ورپـسې راتلونکی آیت:﴿وَلاَ يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ﴾ کې هم دې خبرې ته اشاره ده او د جمهورو فقهاوو دغه مـسلک دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**أَوْ عَلَى سَفَرٍ**: د مسافر د لفظ په ځای د « أَوْ عَلَى سَفَرٍ » لفظ راوړل شوی معنا دا چې دا مسافر په سفر سپور وي. امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله او نورو ډیرو فقهاوو ددې سفر اندازه د نبي کریمﷺ د بیان او د صحابه وو د عمل له مخې درې منزله ښودل شوې ده یعنی دومره مسافه چې مسافر یې په آسانۍ سره په دریو ورځو کې پلی کولی شي او وروستنیو فقهاوو«۴۸» میله فاصله ټاکلې ده او د«أَوْ عَلَى سَفَرٍ» نه دا مسئله راوځي چې مسافر ته دا اجازه تر هغه وخته پورې حاصله ده ترڅو د هغه د سفر دغه سلسله جاري وي او دا ظاهره خبره ده چې د آرام کولو لپاره یا د یو څه کار لپاره په یو ځای کې ایساریدل ددغه سفر سلسله او لړۍ نه پرې کوي ترڅو چې دومره قدرې مودې پورې ایساریدل ونه شي چې په کوم د سفر سلسله پرې کیږي او دغه موده نبي کریمﷺ «۱۵» ورځې ښودلې ده یعنی که یو نفر د سفر په دوران کې د پنځلسو ورځو د پاتې کیدو نیت او اراده وکړي نو بیا دا سړی«أَوْ عَلَى سَفَرٍ» نه دی.

**فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ**: یعنی په مسافر او مریض د خپلو قضا شویو روژو د شمیر برابر په نورو ورځو کې روژې نیول فرض دي، خو په دې شرط چې دوی د سفر نه په واپس کیدو یا د مرض نه په جوړیدو سره سم دستي مړ نه شي او که فوراً مړ شو نو په ده قضا لازمه نده او له دې ذکر شوې جملې څخه د پرله پسې روژو نیولو قید هم نشته څرنګه چې ورته آسانه وي روژې دې ونیسي.

وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ : ددې آیت بې تکلفه معنا دا ده چې کوم خلک د مسافر او د مریض په شان د روژې نیولو څه تکلیف نه لري بلکې د نیولو طاقت یې لري خو د څه وجې نه یې زړه روژه نیول نه غواړي نو ددوی لپاره هم دا ګنجایش شته چې دوې دې د روژو په ځای فدیه د صدقې په بڼه کې ورکړي او ورسره یې دومره هم وفرمایل«وَأَن تَصُومُواْ خَيْرٌ لَّكُمْ» یعنی ستاسو لپاره غوره خبره دا ده چې روژه ونیسئ.

دا حکم د اسلام په پیل کې ؤ خو بیا دا حکم د عامو خلکو په حق کې په راتلونکي آیت﴿فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ﴾ سره منسوخ شو یوازې د هغو خلکو په حق کې د امت په اجماع سره باقي پاتې شو چې ډیر بوډاګان وي یا داسې بیماران وي چې د جوړیدو امید یې باقي پاتې نه وي.

د جمهورو صحابه وو او تابعینو هم دا وینا ده. د پاسنۍ جملې معنا دا ده: چې څوک له تاسو په رمضان کې موجود او حاضر وي په هغه د رمضان د ټولې میاشتې روژې نیول فرض دي نو په دې سره د فدیې ورکولو عام اختیار منسوخ شو.

**د فدیې اندازه:** د یوې روژې فدیه نیمه پیمانه غنم یا د هغه قیمت دی زموږ په رواجي اندازه پاوکم یو چارک غنم دي او باید یوه فقیر او مسکین ته په دې ډول ورکړی شي چې هغه ددې مالک جوړ شي او د مدرسې، جومات یا د بل څه خدمت په بدل کې نه وي لکه چې د هیواد په اکثرو سیمو کې یې د ملا د اجورې بدله ګرځوي، که څه هم ملا هرڅومره غني او بډای وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دا د رمضان میاشت ځکه غوره میاشت ده چې الله تعالی د خپلو وحیو او آسماني کتابونو د نازلولو لپاره همدا میاشت چن کړې ده چې قرآن کریم هم پکې نازل شو. یعنی رسول اللهﷺ فرمایلي دي: چې د حضرت ابراهیم علیه السلام صحیفې د رمضان په اوله نیټه، تورات په شپږمه، انجیل په دیارلسمه او قرآن کریم په څلیرویشتمه نیټه د رمضان نازل شوي دي.

البته قرآن کریم د رمضان په یوه شپه یعنی لیلة القدر کې ټول په یو ځل د لوح محفوظ نه ړومبني آسمان ته نازل خو بیا په نبي کریمﷺ په درویشتو کلونو کې برخه برخه نازل شو.

**د تدریس طریقې:** ډله ییز، مباحثوي، تشریحي.

**د تدریس مرستندویه توکی:** کتاب، تخته، تخته پاک، تباشیر....

| وخت | فعالیتونه |
|---|---|
| ۵دقیقې | ښا غلی ښوونکی د سلام او روغبړ، د ټولګي د تنظیم او کورنی دندې د کتلو څخه وروسته د تیر لوست په څو پوښتنو سره ارزونه کوي.<br>۱ـ څوک ویلی شي چې جهاد پر مسلمانانو ولې فرض دی؟ |
| ۲۵دقیقې | ۲ـ ښاغلی ښوونکی د بقرې د سورت مبارک آیتونه چې په دغه لوست کې راغلي په زده کوونکو باندې تلاوت کوي او تجویدي غلطۍ ورته اصلاح کوي.<br>۳ـ ښاغلی ښوونکی زده کوونکو ته دنده ورکوي چې لوست په پټه خوله ولولي.<br><br>۴ـ ښوونکی د روژې د فرضیت آیت په لنډه توګه ترجمه او تفسیر کوي.<br>۵ـ ښاغلی ښوونکی زده کوونکو ته دنده ورکوي څو د اسلام مبارک دین احکام چې په بغلي عنوانو کې راغلي یو بل سره پرې خبرې اترې وکړي.<br>۶ـ بیا د څو تنو زده کوونکو څخه غواړي چې ټولګی ې ته راشي د بحث او خبرو اترو نتیجه واوروي او هم د خپلو ټولګیوالو پوښتنو ته ځواب ووایي.<br>۷ـ له زده کوونکو څخه غواړی چې د روژه دارانو فضیلت، مقام او مرتبه د الله جل جلاله په نزد تشریح کړي. که چیرته د تشریح په جریان کې له ستونزو سره مخامخ شي ښاغلی ښوونکی ورسره کومک کوي او په پای کې مناسبه لنډه تشریح ورکوي. |
| ۱۰دقیقې | **ارزونه**:<br>۱ـ څوک ویلی شي چې دعاء څه وخت قبلیږي؟<br>۲ـ څوک ویلای شي د روژې په هکله د مخکینیو امتونو سره د اسلام د مبارک دین د پیروانو څه فرق دی.<br>۳ـ څوک د رمضان المبارک د روژو فرضیت په باره کې خپل نظر ښکاره کولای شي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ۵دقیقې | **دلوست لنډیز**:<br>لوست په لاندې ټکو سره لنډیږي:<br>۱ـ الله جل جلاله د رمضان المبارک میاشت غوره ګرځولې ده ځکه د قرآن کریم نزول هم په دې میاشت کې پیل شوی دی.<br>۲ـ روژه یوازې په محمدي امت فرض نده بلکې په مخکینیو امتونو هم فرض وه نو هر حکم چې عام وي دهغه ادا کول هم آسان وي.<br>۳ـ د رمضان المبارک روژه نیول د مسافرینو او مریضانو د تکلیف له وجې رخصت ده قضاء راوړل یې په(حضر) یعنی کور کې ضروري دي همدا رنګه د مریض د صحت په وخت کې. |
| | **کورنۍ دنده**:<br>ښاغلی ښوونکی د کتاب له کورنۍ دندې څخه زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکوي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دوولسم لوست**

## سر لیک: حج د مؤمنانو د نړیوال یو والي ځرګندوی

**مخ:** ۵۸ـ ۶۲

**وخت:** درې درسي ساعتونه

**موخې:** زده کوونکي باید:

۱ـ د کعبې شریفې عظمت او فضیلت و پیژني.

۲ـ په دې وپوهیږي چې کعبه د طواف کوونکو او لمونځ کوونکو لپاره جوړه شوې ده.

۳ـ د حج دحکمت په هکله معلومات حاصل کړای شي.

**د ښوونکي لپاره اضافي معلومات:**

د دوولسم لوست آیتونه د فرقان د سورت دي او په دې آیتونو کې د هغو مخصوصو او مقبولو بندګانو ذکر دی چی هم یې په رسالت مکمل ایمان دی او هم یی عقیدې، عملونه، اخلاق او عادات ټول د الله او رسول د رضا تابع او د شریعت د احکامو مطابق دي.

قرآن کریم داسې مخصوصو بندګانو ته د عِبَادُ الرَّحْمَنِ لقب ورکړی دی چی دا د دوی تر ټولو لوی اعزاز او احترام دی.

هسې خو ټول مخلوق په تکویني او جبري توګه د الله تعالی د بندګی او د هغه د مشیت او ارادې تابع دي، د هغه د ارادې نه پرته څوک هیڅ نشي کولای مګر دلته د بندګې نه مراد تشریعي او اختیاري بندګي ده.

په دې فرقان سورت کې د الله د مخصوصو بندګانو مخصوص صفتونه او نښې راغلې دي:

تر ټولو اول صفت یې عِبَاد والی دی: عباد د عبد جمع ده، معنا یې ده بنده، کوم چې د خپل مالك مملوك وي؛ دده وجود او دده ټول اختیارات او کارونه د مالك د حکم او خوښې مطابق وي. نو د الله د بنده ویلو مستحق هم هغه دی چې خپله عقیده، خیالات او خپله هره اراده او غوښتنه او هر حرکت او سکون یې د خپل رب د حکم او خوښی تابع وي او هر حکم یې په ځای کړي.

**دوهم صفت** یې:﴿يَمْشُونَ عَلَى الْأَرْضِ هَوْنًا﴾ یعنی په ځمکه باندې په عاجزی، تواضع او وقار سره روان وي نه په کبر او ویاړ، هدف دا چې نه باید ډیر ورو ورو روان وي او نه ډیر په تیزی او منډه.

حضرت عمر رضي الله عنه په یوه ځوان دُره اوچته کړه او ورته وېې ویل چې مریض نه یې نو ولې تیز نه ځې.

**دریم صفت:**﴿وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَلَامًا﴾ یعنی کله چې جاهلان خلك ورسره خبرې کوي نو دی ورته وایی: سلام.

مراد له جاهلانو څخه بی علمه سړي نه دي بلکې هغه دي کوم چې د جهالت کارونه او جاهلانه خبرې کوي و لو که په واقع کې عالم هم وي او مراد له سلام څخه عرفي سلام نه دی بلکې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلامتئ خبره ده چې نورو ته آزار پرې ونه رسيږي او دی ګنهګار نشي. يعنی د جاهلانو سره بايد انتقامي معامله ونه شي بلکې عفوه ورته غوره ده.

**څلورم صفت:**﴿وَالَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَقِيَامًا﴾ يعنی دغه خلك شپې سبا کوي د خپل رب په وړاندې په سجده کولو او قيام کولو. هو! د شپې لمونځ هغه لمونځ دی چې هم مشقت او تکليف پکې ډير دی او هم د ريا خطره پکې نشته. هدف دا چې دوی شپه او ورځ د الله په عبادت کې مشغول وي.

**پنځم صفت:**﴿وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا﴾ يعنی د الله د دربار مقبولين سره له دې چې شپه او ورځ د الله په عبادت کې مشغول دي خو بيا هم بې ويرې نه دي بلکې هر وخت د الله ويره ورسره وي او د الله نه دعاګانې هم غواړي.

**شپږم صفت:**﴿وَالَّذِينَ إِذَا أَنفَقُوا....﴾ يعنی دوې د مال لګولو په وخت کې نه اسراف او عبث خرڅ کوي او نه بخل او کوتاهي کوي بلکې د دواړو په منځ کې په اعتدال باندې قايم وي.

په آيت کې د اسراف او اقتار لفظونه راغلي دواړه منع دي.

**اووم صف:**﴿وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ﴾ په اولو شپږو کې د طاعت او فرمانبردارۍ اصول راغلي وو اوس د ګناه او نافرمانۍ د مهمو اصولو بيان دی، اولنی شی د عقيدې سره اړيکې لري چې دا خلك د الله سره په عبادت کې بل څوك نه شريکوي معلومه شوه چې شرك ډيره لويه ګناه ده.

**اتم صفت:**﴿وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ...﴾ دا په عملي ګناهونو کې د لويو لويو او سختو ګناهونو بيان دی چې د الله مقبول بندګان په ناحقه وژنه نه کوي او زنا ته نه نږدې کيږي ددې دريو عقيدوي او عملي ګناهونو بيانولو نه وروسته فرمايي﴿وَمَن يَفْعَلْ ذَلِكَ يَلْقَ أَثَامًا﴾ يعني چا چې دا ذکر شوي ګناهونه وکړل هغه به ددې سزا مومي.

ابو عبيده رضي الله عنه دلته د«اثام» تفسير د ګناهونو په سزا سره کړی دی او ځنې نور مفسرين وايي چې «اثام» د دوزخ د يوې کندې نوم دی چې د سختو عذابونو څخه ډکه ده، خو د آيتونو له فحوا څخه معلوميږي چې دا سزا د کفارو لپاره خاصه ده يعنی چې هم يې شرك او کفر کړی وي او هم يې ورسره قتل او زنا کړې وي. ځکه د﴿يُضَاعَفْ لَهُ الْعَذَابُ﴾ او د﴿وَيَخْلُدْ فِيهِ مُهَانًا﴾ ځکه دا دواړه الفاظ د مسلمانو ګنهګارانو لپاره نشي کيدای. يعنی نه د مسلمان لپاره عذاب دوه چنده کيږي او نه مسلمان پکې هميشه پاتې کيدای شي.

**لسم صفت:**﴿وَالَّذِينَ لَا يَشْهَدُونَ الزُّورَ﴾ يعني دا خلك په دروغو او باطلو مجلسونو کې نه شريك کيږي د ټولو نه لوی دروغ او باطل خو شرك او کفر دی يعنی د الله خاص بندګان د دروغو او ګناه او خرابو مجلسونو کې له شرکت څخه هم ځان ساتي. او ځنې مفسرين«لَا يَشْهَدُونَ» د شهادت په معنا اخلي يعنی دا خلك د دروغو ګواهي نه وايي. په يوه حديث کې د دروغو ګواهی ته اکبر کبائر ويل شوي دي. ځکه حضرت فاروق اعظم رضي الله عنه فرمايي چې په چا د دروغو شهادت ثابت شو هغه څلوېښت دُرې ووهئ، مخ يې ورتور او په بازارونو کې يې وګرځوئ او بيا دې ډيره زمانه بندي کړی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**یوولسم صفت:**﴿وَإِذَا مَرُّوا بِاللَّغْوِ مَرُّوا كِرَامًا﴾ یعني که چیرته اتفاقاً په لغوه او بیهوده مجلسونو راشي نو په سنجیدګۍ او شرافت سره تیر شي. مطلب دا دی چې په داسې مجلسونو کې دا خلك لکه څنګه چې په قصد او ارادې سره نه شریك کیږي دغه شان که چیرته په اتفاقي توګه په داسې مجلسونو باندې دوی راشي نو بیا هم ددې فسق او فجور له مجلس څخه په شرافت سره تیریږي.

یعنی د دوې دا کار بد او قابل نفرت ګني، نه په ګناهونو کې د اخته خلکو څه سپکوالی کوي او نه په خپله خپل ځان ددوي نه غوره ګڼي چې تکبر کوي. وايي اتفاقاً حضرت عبدالله بن مسعودﷺ یوه ورځ په همداسې عبث او لغوه مجلس تیر شو نو هلته هیڅ حصار نشو، کله چې نبي کریمﷺ ته دا خبره معلومه شوه نو وی فرمایل چې ابن مسعود کریم شو او د ذکرشوي آیت تلاوت یې وکړ.

**دوولسم صفت:**﴿وَالَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ لَمْ يَخِرُّوا عَلَيْهَا صُمًّا وَعُمْيَانًا﴾ یعني ددې مقبولو بندګانو دا شان دی چې کله دوې ته د الله آیتونه او آخرت وریاد کړ شي نو هغوی ددې آیتونو طرف ته د ړندو او کڼو په شان نه متوجه کیږي بلکې د اوریدونکو او لیدونکو انسانانو په شان په کې غور او عمل کوي، د غافلو خلکو په شان معامله نه کوي.

**دیارلسم صفت:**﴿وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا﴾ په دې آیت کې د خپل اولاد او بیبیانو لپاره د الله نه دعا ده چې دوی زما لپاره د سترګو یخوالی جوړ کړې د سترګو د یخوالي جوړولو نه د حضرت حسن بصري د تفسیر مطابق مراد دا دی چې دوی د الله تعالی په اطاعت مشغول وینې دا د یو انسان لپاره د سترګو یخوالی دی او که د اولاد او بیبیانو ظاهري صحت، عافیت او خوشحالی په دې کې شامله شي هم صحیح ده.

په دې دعا کې دیته اشاره ده چې دا مقبول بندګان یوازې د نفس په اصلاح او نیکو عملونو قناعت نه کوي بلکې د خپل اولاد او بیبیانو د عملونو او اخلاقو د اصلاح فکر هم کوي او ددوې لپاره کوښښ کوی او د دوې د صلاحیت لپاره د الله نه دعا غواړي.

**د تدریس لاره:** تشریحي، سوال ځواب، د خبرو اترو له لارې

| وخت | فعالیتونه |
|---|---|
| ۵دقیقې | ښاغلی ښوونکی د سلام، روغبړ او کورنی دندې له کتلو څخه وروسته د تیر لوست په اړوند د زده کوونکو ارزونه کوي. |
| ۲۵دقیقې | د حج د مبارك سورت آیتونه چې په دغه لوست کې راغلي په زده کوونکو باندې تلاوت کوي تجویدي غلطي او د حروفو تلفظ ورته اصلاح کوي.<br>ښاغلی ښوونکی زده کوونکو ته دنده ورکوي چې د لوست متن په پټه خوله ولولي بیا څه زده کوونکي د تختې مخې ته را غواړي چې د لوست مشکل کلمات په تخته ولیکي او له نورو زده کوونکو څخه غواړي چې حرکات او معنایې په خپلو کتابچو کې ولیکي.<br>ښاغلی ښوونکی د مبارك آیت لنډه ژباړه زده کوونکو ته وړاندې کوي بیا زده کوونکو |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| | ته دنده ورکوي چې د مبارکو آیتونو تفسیر او بغلي سرلیکونو او د کعبې د جوړولو په باره کې د یو بل سره خبرې اترې وکړي او خپل نظرونه وړاندې کړي، بیا د زده کوونکو له ډلې څخه څو تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته را غواړي او ور څخه غواړي چې د خبرو اترو نتیجه په خپل وار بیان کړي، بیا محترم ښوونکی د بغلي سرلیکونو او د حج د وختونو په باره کې مناسبه تشریح ورکوي. او که زده کوونکي په دې اړوند کومې پوښتنې لري په ډېره ډاډینه ورته ځواب ورکوي. |
| ۱۰دقیقې | **ارزونه**:<br>څوک کولای شی چې دغو لاندې کلماتو ته تشریحات ورکړي.<br>۱ـ بَوَّأْنَا - وأُذِّنَ - رِجالاً- ضَامِرٍ- فجٍّ- عمیقٍ- ثمَّ لیقضوُا |
| ۵دقیقې | ۱ ـ کعبه شریفه کومو کسانو جوړه کړې ده؟<br>۲ـ څوک کولای شي د مبارک حج دیني او دنیوي ګټې تشریح کړي؟<br>۳ـ څوک د حج د ارکانو څخه د یو رکن نوم اخیستلي شي؟<br>۴ـ د حج په سفر کې او د حج په وخت کې تجارت کول روادي او کنه؟<br>**د لوست لنډیز**:<br>ـ د کعبې شریفې د خرابیدو او نړیدو په صورت کې په مسلمانانو د هغې جوړول واجب دي.<br>ـ کعبه شریفه چې د طواف کوونکو او لمونځ کوونکو لپاره جوړه شوې باید پاکه وساتل شي او د هر ډول ګناه لکه جنګ،جګړه،کنځلې، شرک او داسې نورو څخه په امن کې وساتل شي.<br>ـ په حج کې د الله جل جلاله شکر او ذکر واجب ده.<br>ـ د حج د فریضې د اداکولو په وخت کې مسلمانان دیني او دنیوي ګټې سپمولي شي. |
| | **کورنۍ دنده**:<br>ښاغلی ښوونکی د درسي کتاب څخه زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکوي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دیارلسم لوست**

## **سرلیک**: د خلکو سره نیکی او ښېګڼه

**مخ:** ۶۳-۶۶

**وخت:** دوه درسي ساعتونه

**موخې:** زده کوونکی باید:

۱- دا خبره زده کړي چې د عبادت لایق یوازې او یوازې الله جل جلاله دی نور څوک په عبادت کې ورسره شریک نکړو.

۲- په دې لوست کې د قرآن پاک د هغو مبارکو آیتونو ذکر دی چې د الله جل جلاله د وحدانیت او دهغه د عبادت څخه دوهمه مرتبه او مقام د مور او پلار سره نیکی او احسان دی.

۳- پوه شي چې الله جل جلاله د ریا او ریا کوونکو عمل د تکبر او لویي کوونکو د عمل نه هم زیات بد بیان کړی دی.

**د ښوونکي لپاره اضافي معلومات:**

ددې لوست په آیتونو کې د الله توحید او د مور او پلار او نورو خپلوانو او دوستانو، ګاونډیانو او د عام مخلوق د حقوقو بیان دی او دا حقونه په بشپړه توګه هغه څوک اداء کولای شي چې په الله او په رسول الله ﷺ او قیامت باندې مضبوطه عقیده لري او له بخل، کبر او ریا څخه ځان ساتي.

د ښه وضاحت لپاره وایو چې د حقوقو د بیان څخه وړاندې د الله د عبادت او توحید ذکر کولو کې ډیر حکمتونه دي چې یو ورڅخه دا دی چې د کوم سړي سره د الله ویره او د هغه د حقوقو اهتمام نه وي نو له هغه څخه به ددنیا د بل چا د حقوقو اداء کولو څه امید ولرلی شو او هغه شی چې انسان د انساني حقوقو پوره کولو ته په پټه او ښکاره مجبوره کوي هغه یوازې د الله تعالی ویره او تقوی ده او دا د الله ویره او تقوی په توحید سره حاصلیدای شي، نو ځکه د مختلفو خپلوانو د حقوقو د تفصیل نه مخکې د الله توحید او د هغه د عبادت یادونه ضروري او مناسبه وه. او بیا په خپلوانو کې اول د مور او پلار د حقوقو په بیانولو کې دیته اشاره ده چې په حقیقت کې خو ټول احسانات او انعامات د الله له طرفه دي خو د ظاهري اسبابو په اعتبار سره که وکتل شي نو د الله تعالی نه وروسته د ټولو نه زیات احسانات په انسان باندې دده د مور او پلار دي ځکه په عامو اسبابو کې دده د پیدایښت سبب دوی دي.

په قرآن کریم کې د مور او پلار حقوق څو ځایه بیان شوي خو دا یې نه دي فرمایلي چې ددوی حقوق اداء کوئ یا ددوی خدمت کوئ بلکې د احسان لفظ یې راوړی چې په عامه معنا کې دوی ته د ضرورت مطابق نفقه ورکول او د ضرورت مطابق بدني خدمتونه اداء کول او له دوې سره په نرمۍ خبرې کول چې ددوې بې ادبي پکې ونه شي او نه یې زړه آزار شي او آن تردې چې ددوی له

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوستانو او آشنایانو سره هم داسې سلوک ونشي چې ددوې زړه پرې آزار شي بلکې دوې ته د آرام رسولو او خوشحاله ساتلو لپاره هر ممکن کوښښ باید وشي.

حضرت معاذ بن جبلﷺ فرمایي چې ماته نبي کریمﷺ لس وصیتونه کړي وو یو دا چې د الله تعالی سره شریک مه جوړوه اګر که تا څوک ووژني یادې په اور وسوځوي.

دویم دا چې د خپل مور او پلار نافرماني یا زړه آزارول مکوه اګر که هغه درته دا حکم وکړي چې ته خپل اهل او مال پریږده.

د بخاري او مسلم په یو حدیث کې دي چې نبي کریمﷺ فرمایلي دي چې کوم سړی دا غواړي چې دده په روزۍ او عمر کې برکت وي نو ده ته په کار دي چې صله رحمي وساتي یعنی د خپلوانو حقونه دې اداء کوي.

په آیت کې د مور او پلار نه وروسته د عامو خپلوانو سره د ښه سلوک تاکید راغلی دی.

حضرت سلمان ابن عامرﷺ وایي چې نبي کریمﷺ فرمایلي چې عامو مسکینانو او فقیرانو ته د خیر او خیرات په ورکولو کې صرف د خیرات ثواب حاصلیږي او که د خپلې صله رحمۍ واله ته یې ورکړي نو دوه ثوابونه دي یو د خیرات او صدقې، بل د صله رحمۍ یعنی د خپلوانو د حقوقو اداء کولو.

د خپلوانو له حقوقو وروسته یې د یتیم او مسکین بیان کړی، یو مفسر وایي اګر چې د النساء سورت په اول کې یې ددوی حقوق بیان کړي خو دوهم ځلي یې چې د خپلوانو سره یاد کړي په دې کې دیته اشاره ده چې د لا وارثه ماشومانو او بې کسه خلکو مرسته کول هم داسې ضروري وګڼئ لکه د خپلوانو مرسته چې کوئ.

وروسته یې د ګاونډي یادونه کړیده او دوه ډوله ګاونډیان یې بیان کړي، عام مفسرین وایي چې د الْجَارِ ذِي الْقُرْبَى نه هغه ګاونډی مراد دی چې ستا د کور سره یې متصل کور وي او د الْجَارِ الْجُنُبِ څخه هغه ګاونډی مراد دی چې ستا د کور نه په څه فاصله کې اوسیږي.

حضرت عبدالله بن عباسﷺ فرمایي چې د الْجَارِ ذِي الْقُرْبَى نه هغه سړی مراد دی چې هم ګاونډی وي او هم خپل او الْجَارِ الْجُنُبِ هغه دی چې یوازې ګاونډی وي.

ځنې مفسرین وایي چې الْجَارِ ذِي الْقُرْبَى هغه ګاونډی دی چې په اسلامي وروروولۍ کې داخل او مسلمان وي او الْجَارِ الْجُنُبِ غیر مسلمان ګاونډی وي.

د قرآن کریم الفاظ دا ټولې معناوې راښیي او په دې د ټولو اتفاق دی چې ګاونډی نږدې وي او که لرې، خپل وي او که پردی، مسلمان وي او که غیر مسلمان په هر حا ل دده حق شته د طاقت په اندازه دده سره مرسته او خبر اخستل یې لازم دي.

د نبي کریمﷺ ارشاد دی چې جبرائیل امین همیشه ماته د ګاونډي سره د مرستې دومره تاکید کوي تردې چې زما دا ګمان شوی دی چې شاید ګاونډی هم د خپلوانو په شان په میراث کې شریک کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته د ملګري حق بیان شوی:﴿وَالصَّاحِبِ بِالجَنبِ﴾ یعني ملګری چې د سفر ملګری پکې هم داخل دی چې په موټر، ریل یا طیاره او نورو کې څنګ ته ناست وي او هغه سړی هم پکې داخل دی چې په عام مجلس کې څنګ ته ناست وي؛ په دې کې هم مسلمان او غیر مسلمان، خپل او پردي ټول داخل دي، ددوی سره یې هم د ښه سلوک کولو لارښوونه کړې ده چې ادنی درجه یی دا ده چې ستا د څه خبرې یا کار نه، ده ته څه آزار ونه رسیږي مثلاً چې سګرټ څکوي نو لوګی یې ستا مخ ته و نه شړي.

څنو مفسرینو د کار یا کسب شریك یا د کار او مزدورۍ او د دفتر شریکان ټول په صاحب الجنب کې داخل کړي دي.

وروسته یې د مسافرو حق بیان کړی یعني قرآن کریم د اسلامي بلکې د انساني اړیکو په وجه د مسافر حق هم لازم کړی چې د طاقت او وس په اندازه ورسره ښه سلوک وشي.

وروسته د غلامانو او وینځو د حقوقو بیان دی اما د علت د شریکوالي او د نبي کریمﷺ د لارښوونه په بنا دا حکمونه په نوکرانو او خادمانو هم حاوي دي جې له دوې سره هم باید ښه سلوک وشي.

او بالآخره د آیتونو څخه څرګندیږي چې کوم خلك دا حقوق نه اداء کوي نو یا په دوې کې تکبر وي چې د چا څه پروا نه ساتي او یا بخیلان وي چې چاته یې په څه ورکولو ساه خیږي او یا یې د نبي کریمﷺ په خبرو عقیده نشته او دا کفر دی او یا دا چې دوی ریاکاران دي چیرته چې د ځان ښودلو موقع وي هلته مال لګوي اګر که حق نه وي او چیرته چې د ریا او ښودنې موقع نه وي نو هلته یې نه لګوي اګر که حق وي. او یا یې په الله او د قیامت په ورځ عقیده نشته او دا هم کفر دی.

د تکبر او فخر په هکله حضرت ابن مسعودﷺ د نبي کریمﷺ څخه روایت کوي هغه سړی به جهنم ته(د همیشه لپاره) ځي چې دده په زړه کې د اوري د دانې برابر ایمان وي او جنت ته به داسې سړی داخل نشي د چا په زړه کې چې د اوري ددانې برابر تکبر وي.

د حضرت ابن عباسﷺ د روایت نه معلومیږي چې دا آیت د مدینې د یهودو په باره کې نازل شوی ؤ، دوی ډیر مغروره او بې حده بخیلان او کنجوسان وو، په مال خرڅ کولو کې یې هم بخل کاوه او کوم علم یې چې د آسماني کتابونو څخه حاصل کړی ؤ په هغه کې یې هم د بخل او شومتیا څخه کار اخیست.

د حضرت اسماء رضی الله عنها څخه روایت دی چې نبي کریمﷺ فرمایلي دي: ای اسماء! د نیکۍ په لاره کې خرڅ کوه او په شمارلو یې مه ورکوه ورنه الله به هم ستا په باره کې شمار شروع کړي.

او د خرڅ کولو نه د ځان ساتلو لپاره ډیر زیات حفاظت مه کوه ورنه الله تعالی به هم حفاظت کول شروع کړي او کم نه کم څومره چې ستانه کیدی شي خرڅ کوه، منع مکوه.

او په بل حدیث کې نبي کریمﷺ فرمایلي دي چې دوه عادتونه هیڅکله په مؤمن کې نشي جمع کیدای: بخل او بد اخلاقي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د تدریس لارې:**

**د تدریس مرستندویه توکي:**

**د تدریس بهیر:**

| وخت | فعالیتونه |
|---|---|
| ۵دقیقې | ښاغلی ښوونکی دسلام او روغبړ، د ټولګي د تنظیم او ترتیب او د کورنۍ دندې د کتلو څخه وروسته د تیر لوست ارزونه کوی:<br>د نساء د سورت مبارک آیتونه چې په دې لوست کې ذکر شوي دي په زده کوونکو باندې تلاوت کوي د تجوید او تلفظ له لحاظه که کومې غلطي وي هغه ورته اصلاح کوی.<br>بیا زده کوونکو ته لار ښوونه کوي چې د لوست متن په پټه خوله ولولي او کافي وخت دې ورته ورکړي، له زده کوونکو څخه دې وغواړي چې په پټه خوله لوستلو څخه ئې څه اخیستي په ساده ژبه په لنډ ډول بیان کړي څو زده کوونکي نور هم تشویق شي.<br>زده کوونکي دې د ښوونکی په لار ښوونه د ګاونډیانو ډولونه او دهغوی د حقوقو په باره کې هر یو خبرې اترې وکړی او د ټولګي په وړاندې یې یاید تشریح کړي |
| ۲۵دقیقې | ښاغلی ښوونکی دې زده کوونکو ته لار ښوونه وکړي چې د بخل او تکبر او بغلي عنوانونو په باره کې له دوی سره خپل نظرونه شریک کړي که زده کوونکو ته د دې موضوع په اړوند که څه پوښتنې ور پیښې شي ډیر په حوصله سره دې ورته ځواب ووایي |
| ۱۰دقیقې | **ارزونه**:<br>څوک ویلای شی مراد له ریا کوونکو څخه کوم کسان دي چې په پورته مبارکو آیتونو کې ذکر شوي دي؟<br>د دې لوست په لومړی آیت کې مسلمانانو ته د لسو حقونو ادا کولو امر شوی هغه لس حقوق کوم کوم دي؟<br>په ذکر شوي مبارک آیت کې د شیطان ملګري کوم خلک بلل شوي دی. |
| ۵دقیقې | **د لوست لنډیز**:<br>د غه لوست په لاندی ټکو سره لنډیږي:<br>۱ـ د عبادت لایق یوازې او یوازې الله جل جلاله دی هیڅوک باید ورسره په عبادت کې شریک نکړو.<br>۲ـ دمور او پلار سره نیکي او احسان په دغه مبارک آیت او د قرآن کریم په نورو |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| آیتونو کې د الله جل جلاله د وحدانیت او عبادت څخه وروسته ذکر شـوی دا د مـور او پلار د حقوقو په ارزښت دلالت کوي<br>**۳**ـ د نورو خلکو سره نیکي کول د ټولو مسلمانانو شرعي وجیبه او مسئولیت دی. الله جل جلاله لویي کوونکي او ریا کوونکي او د بدو خلکو سره ملګرتیا کوونکي بد ګڼي. | |
| **کورنۍ دنده**:<br>ښاغلی ښوونکی د درسي کتاب څخه زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکوي. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**څوارلسم لوست**

## سر لیک: د حلالې روزۍ خوړل او له حرامو ډډه کول

**مخ:** ۶۷ـ۷۰

**وخت:** دوه درسي ساعتونه

**موخې:** زده کوونکی باید:

۱ـ په دې پوه شي چې حرامه وینه څو قسمه ده ـ

۲ـ حلال رزق وپیژني.

۳ـ د حلالو او حرامو تر مینځ فرق وکولای شي

۴ـ باید پوه شي چې دوه وینې او دوه پخپله مړه شوي شیان په اسلام کې حلال دي.

**د ښوونکي لپاره اضافي معلومات:**

په دې آیتونو کې لکه څنګه چې د حرام خوراک نه منع شویده همدارنګه د حلا ل څیزونو په خوراک او په هغه د شکر د اداء کولو ترغیب ورکړی شوی دی. دا ځکه چې د حرام مال په خوړلو سره بد اخلاقي پیدا کیږي، د عبادت خوند ختمیږي، دعا نه قبلیږي همدا وجه ده چې الله تعالی خپلو ټولو پیغمبرانو ته لارښوونه کوي او فرمایي:﴿یَا أَیُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّیِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا﴾ یعنې ای پیغمبرانو! پاک څیزونه خورئ او ښه عملونه کوئ.

معلومه شوه چې په ښو او نیکو کارونو کې د حلال رزق ډیر لوی اثر دی، همدارنګه په دعا قبلیدو کې حلال خوراک لویه مرسته کوي، او حرام خوراک دعا د قبلیدو څخه منع کوي. نبي کریمﷺ وایي: چې ډیر داسې خلق دي چې هغوی اوږده اوږده سفرونه کړي وي او ډیر پریشان حاله وي او الله ته ددعا کولو لپاره خپل لاسونه اوږدوي او د یا رب! یا رب! چغې وهي خو ددوی خوراک حرام وي، څښاک یې حرام وي، لباس یې حرام وي نو په داسې حالت کې کله ددوې دعا قبلیدای شي[1].

په آیت کې څلور شیان حرام شوي دي: ۱ـ مرداره ۲ـ وینه ۳ـ د خنزیر غوښه ۴ـ هغه حیوان چې په هغه باندې د الله پاک د نامه څخه پرته د بل چا نوم اخستل شوی وي. دا څلور شیان په لنډه توګه بیانیږي:

**۱ـ میته(مرداره):** دا هغه حیوان دی چې د هغه د حلالولو لپاره د شریعت له مخې ذبح کول ضروري دي خو هغه د ذبحې نه پرته په خپله مړ شي یا یې مرۍ خفه کړی شي، یا په څه بلې طریقې سره مړ کړی شي نو دغه حیوان مردار او حرام دی.

خو د قرآن کریم د یو بل آیت له مخې:﴿أُحِلَّ لَكُمْ صَیْدُ الْبَحْرِ﴾ څخه معلومیږي چې د ماهي لپاره ذبح کول شرط نه دي او د حدیث له مخې هم ماهي او ملخ د مردارې څخه جلا کړی شوي دي او پرته له ذبحې حلال وي.

---

[1] ابن کثیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه د حديث له مخې دوه وينې حلالې دي يو ينه او بل توری خو دا خبره هم د يادولو وړ ده چې کوم ماهي د اوبو په سر مړ راشي هغه مردار او حرام دی. همدارنګه د ښکار هغه حيوان چې په قابو کې نه راځي ځو ذبح کړی شي که چيرې دغه حيوان د بسم الله له ويلو وروسته په غيشی يا بل تيره شي وويشتلی شي ځو د هغه سره زخمي شي او د زخمي کيدو نه وروسته مړ شي نو دا حيوان که څه هم ذبح شوی نه وي خو حلال دی.

نن سبا د ټوپک ځنې ګولی ځوکې داري جوړې شوې دي او دداسې ګوليو په هکله ځنې علماء وايي چې دا د غشو په حکم کې داخلې دي خو د عامو علماوو په نزد دا هم د غشو په شان نه دي يعنی جارحه نه دي، دا د باروتو په زور غوښه شلوي په خپله پکې څه تيزوالی نشته چې حيوان زخمي کړي نو دداسې ګوليو ښکار هم پرته له ذبح حلال نه دی.

**۲ـ وينه:** د وينې سره د انعام سورت په آيت کې د مسفوح يعني بهيدونکې شرط لګول شوی دی نو ځکه کلکه وينه لکه ينه، توری او يا د غوښې وينه پاکه او حلاله ده.

**۳ـ د خنزير حراموالی:** دريم شی چې په آيت کې حرام کړی شوی دی هغه د خنزير غوښه ده، په آيت کې د خنزير د حراموالي سره د لحم يعني غوښې قيد لګول شوی دی.

امام قرطبی وايي چې ددې څخه غرض دا خبره ده چې د غوښې په ګوته کول مقصود نه دي بلکې د هغه ټول شيان لکه هډوکي، څرمن، ويښته، پلې او داسې نور ټول د امت په اجماع سره حرام دي، خو د«لحم» لفظ زياتولو کې دې خبرې ته اشاره ده چې خنزير د نورو حرامو ځناورو په شان نه دی چې هغه په ذبح کولو سره پاکيږي او خنزير نجس العين يعني په اصل کې پليت هم او حرام هم دی يوازې د څرمنې د ګنډلو لپاره دده د ويښتو استعمال په حديث کې روا ښودل شوی دی.

**۴ـ ما اهل به لغير الله:** څلورم شی چې کوم په آيت کې حرام کړی شوی دی هغه حيوان دی چې د الله پاک نه پرته د بل چا په نوم ټاکل شوی وي ددې دری شکلونه مشهور دي:

اول دا چې حيوان د الله پاک نه پرته د بل چا د نږديکت او رضا حاصلولو لپاره ذبح کړی شي او د ذبحې په وخت پرې ددغه غير الله نوم واخستل شي. دا شکل په اتفاق او اجماع حرام دی. او دا حيوان مردار دی دده د څه جزء نه ګټه اخستل روا نه دي ځکه دا صورت او شکل د﴿وَمَآ أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللّٰهِ﴾ په ډاګه معنا ده او په دې کې د چا اختلاف نشته.

دوهم شکل او صورت دا دی چې يو حيوان د غير الله د نږديکت او رضا حاصلولو لپاره ذبح کړی شي يعني د هغه د وينې تويولو غرض دا وي چې دا غير الله خوشحاله شي خو د ذبحې کولو په وخت کې په هغه باندې د الله نوم واخستل شي لکه چې ډير ناخبره مسلمانان د بزرګانو او پيرانو په نوم د هغوی د رضا د حاصلولو لپاره پسه، چرګ او داسې نور ذبح کوي خو د ذبحې په وخت کې په هغه د الله پاک نوم اخلي دا شکل هم د فقهاوو په اتفاق حرام دی او ذبح شوی حيوان مردار دی. او په **مَـــا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ** کې هم داخل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم صورت او شکل دا دی چې د يو حيوان غوږ پرې کړی شي يا څه بله علامه پرې ولګول شي، د غير الله د تعظيم او رضا حاصلولو لپاره پرېښودل شي، چې نه ترې بيا څه کار اخلي او نه يې ذبح کوي، بلکې بيا د هغه ذبح کول حرام ګڼي نو دا حيوان په ﴿وَمَآ أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللّهِ﴾ او ﴿مَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ﴾ دواړو کې داخل نه دی. داسې حيوان ته بحيره يا سائبه ويل کيږي او حکم يې دا دی چې دا کار د قرآن په نص سره حرام دی. چې دا به په آيت ﴿مَا جَعَلَ اللّهُ مِن بَحِيرَةٍ وَلاَ سَآئِبَةٍ﴾ کې ان شاء الله تعالی راشي.

لاکن ددې خلکو دا حرام کار او ددې حيوان په حرام ګڼلو سره دا حيوان نه حراميږي بلکې د نورو عامو حيواناتو په شان حلال دی او د شرعي اصولو مطابق دا حيوان د خپل مالک د ملک څخه نه وځي اګر چې هغه په خپله باطله عقيده کې دا ګڼي چې دده د ملک نه وتلی او د غير الله ملک ګرځيدلی دی.

اوس که دغه سړی په خپله دغه حيوان په چا باندې خرڅ کړي يا يې چاته وبښي نو د هغه لپاره دا حيوان حلا ل دی مثلاً د منجو رانو څخه د دغه حيوان اخستل جائز دي.

څلورم صورت دا دی چې د هغه تعلق د حيواناتو څخه علاوه د نورو شيانو سره هم وي مثلاً خوږ ديګ او داسې نور چې هغه د غير الله په نوم د نذر په توګه هندوان د خپلو بتانو په نوم مني يا نا پوهه مسلمانان يې د بزرګانو د مزارونو په نوم مني نو دغه صورت هم فقهاء د تقرب الی الله د علت په وجه د﴿وَمَآ أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللّهِ﴾ په حکم کې شريکوي او حرام ورته وايي.

په آيت کې د څلورو څيزونو د حراموالي نه وروسته يو استثنايی حکم ذکر دی﴿فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ...﴾ په دې حکم کې دومره آساني شويده چې کوم سړی د لوږې نه ډير بی تابه شي او شرط دا دی چې دا سړی نه په خوراک کې د لذت حاصلولو غوښتونکی وي او نه د حاجت د قدر نه تجاوز کوونکي وي نو په داسې حالت کې ده ته په دغه حرامو څيزونو خوړلو کې څه ګناه نشته، او مضطر يعني مجبور د شريعت په ژبه کې هغه سړي ته ويل کيږي چې د هغه ژوند په خطر کې وي. په معمولي تکليف يا ضرورت سره مجبور نشي ګڼل کيدای.

البته قرآن کريم د مجبورۍ په حالت کې هم حرام څيزونه خوړل حلال بللي نه دي بلکې «فَلا إِثْمَ عَلَيْهِ» يې ويلي دي مطلب دا چې دا شيان اوس هم په خپل ځای حرام دي خو خوړونکي ته د مجبورۍ له وجې د حرامو د استعمال ګناه معاف کړی شوې ده. په حلاليدو او په ګناه معاف کيدو کې ډير فرق دی. همدارنګه د ژوند د خطر په صورت کې حرام څيزونه د دارو په توګه استعمالولی شي خو يو به د مجبورتيا او د ژوند خطره وي او بل به د حرامو نه پرته څه بل شی د علاج لپاره مؤثر نه وي يا موجود نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم دا چې ددغه حرامو په استعمال سره د ژوند بچ کېدل یقیني وي او ورسره هغه دوه شرطونه چې په آیت کې ذکر شوي تر نظر لاندې وي. یعني لذت حاصلول غرض نه وي او د ضرورت له اندازې زیات استعمال نه شي.

**د تدریس لارې:**

په پټه خوله مطالعه، تشریحي، پوښتنې او ځوابونه...

| وخت | فعالیتونه |
|---|---|
| ۵دقیقې | ښاغلی ښوونکی دسلام، روغبړ او د ټولګي له تنظیم او ترتیب څخه وروسته د تیر لوست ارزونه کوي. |
| ۲۵دقیقې | په دغه لوست کې د بقرې د مبارک سورت آیتونه په زده کوونکو لولي او د تجوید په لحاظ چې کومې غلطۍ لري هغه ورته اصلاح کوي، زده کوونکو ته دنده ورکوي چې لوست په پټه خوله ولولي بیا له زده کوونکو څخه غواړي هغه څه چې د آیت له تفسیر او ژباړې څخه یې اخیستي په خپله خوښه د ټولګي په مخکې ټولګیوالو ته واوروي تر څو زده کوونکي نور هم تشویق شي.<br>دریو تنو زده کوونکو ته دې دنده ورکړل شی چې په خپل وار تختې ته راشي د یو نفر څخه غواړي هغه مشکلې کلمې ولیکي چې د آیت څخه پرته راوړل شوې وي.<br>او له دوهم څخه غواړي چې هغه مشکلو کلمو ته حرکت ورکړي، له دریم زده کوونکي څخه غواړي چې د مشکلو کلمو معنا ولیکي.<br>زده کوونکو ته لار ښوونه کوي څو د لوست د مبارکو آیتونو د تفسیر په اړوند خبرې اترې وکړي بیا د زده کوونکو په استازیتوب څو تنه زده کوونکي د تختې مخې ته را غواړي چې د خبرو اترو نتیجه زده کوونکو ته واوروي.<br>او ښاغلی ښوونکی د لوست په آخر کې د مرستې او همکارۍ څخه وروسته زده کوونکو ته لازمه او مناسبه تشریح وړاندې کوي. |
| ۱۰دقیقې | **ارزونه**:<br>۱ـ کوم څیزونه په مبارکو آیتونو کې حرام ګڼل شوي دي؟<br>۲ـ هغه حیوانات کوم دي چې په خپله مړه شوي او حکم د مردارې ورباندې هم نه کیږي او حلا ل ورته ویل شوي حدیث شریف په دلیل کې راوړئ؟<br>۳ـ کوم وخت کې او په کومو شرایطو سره مسلمان کولی شي د حرامو شیانو څخه ګټه واخلي؟ |
| ۵دقیقې | **د لوست لنډیز**: په لاندې ټکو سره لوست لنډیږي.<br>۱ـ الله جل جلاله د خپلو بنده ګانو لپاره ډول ډول نعمتونه پیدا کړي چې د حلالې روزۍ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| په څېر ورڅخه ګټه واخلي او د الله جل جلاله شکر او ستاینه وکړي.<br>۲ـ «المیتة» د هغه حیوان څخه عبارت دی چې خپله مړ شوی وي پرته له ذبحې څخه لکه خفه کړای شوی یعني له ستوني نیول شوی.۲ـ یا ټکول شوی یعني ستونی یې ورته ټکولی وي.۳ـ یا له یو لوړ ځای څخه غورځیدلي وي، دا په خپله مړه شوي حیوان کې شامل دي خوراک یې حرام دی.<br>۳ـ دوه نور حیوانات لکه ماهي یا د غره وچ ملخ بغیر د ذبحې څخه یې خوراک روا دی او دوهویني لکه توری،جیګر« ینه » هم روا دي. رسول الله صلی الله علیه وسلم وایي حرامه وینه هغه وینه ده چې د ژوندي حیوان څخه لاړه شي یا په ذبحې سره لاړه شي.<br>او د ضرورت په وخت کې د مردارې او حرامو شیانو خوړل چې د مرګ خطر ورته وي پروا نه لري ځو ځان ور باندې د مرګ څخه وژغوري. د خوګ له پوستکي او غوړیو او ټولو اجزاو څخه ګټه اخیستل حرامه دي. | |
| **کورنۍ دنده**:<br>زده کوونکي دې د مبارکو آیتونو او نبوي احادیثو او علمي حقایقو نه په ګټې اخیستلو سره د دین په لحاظ ضررونه، د صحت په لحاظ ضررونه، اجتماعي ضررونه او هغه څه چې په دې لوست کې حرام بلل شوي دي په خپلو کتابچو کې ولیکي. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پنځلسم لوست**

## **سرلیک**: د الله جل جلاله په لار کې انفاق(مال لګول)

**مخ:** ۷۱ـ۷۵

**وخت:** درې درسي ساعتونه

**موخې:** زده کوونکی باید:

۱ـ دا خبره زده کړي چې الله جل جلاله کوم ډول لګښت او صدقې قبلوي.

۲ـ پوه شي هغه صدقه کوونکي چې په خلکو احسان باروي الله جل جلاله له جنت څخه محروم ګرځولي دي.

۳ـ ددې مبارک آیت( مَّثَلُ الَّذِينَ يُنفِقُونَ ) د شان نزول او تشریح کولو وس او توان باید ولري.

**د ښوونکي لپاره اضافي معلومات:**

**د الله په لاره کې انفاق**

په قرآن کریم د الله په لاره کې مال لګولو ته کله د انفاق لفظ استعمال شوی او کله د اطعام او کله د صدقې او کله د ایتاء الزکاة. د قرآن کریم دې الفاظو ته که وکتل شي معلومیږي چې د انفاق، اطعام او صدقې الفاظ عام دي چې هر ډول صدقو او خیراتونو او د الله د رضا حاصلولو لپاره مال خرڅولو ته ویل کیږي که هغه فرض او واجب وي یا نفلي او مستحب وي. او د فرض زکات لپاره قرآن کریم یو ممتاز لفظ"ایتاء الزکاة" استعمال کړی دی.

په دې کې دېته اشاره ده چې ددې خاصې صدقې لپاره د مال حاصلولو او خرڅ کولو دواړو لپاره څه خصوصیات دي.

نو دلته په اول آیت کې الله فرمایي: چې کوم خلک د الله په لاره کې خرڅ کوي یعني په جهاد کې یا په حج کې یا په فقیرانو او مسکینانو او په کونډو یتیمانو یا د مرستې په نیت په خپلو خپلوانو او دوستانو ددې مثا ل داسې دی لکه چې یو سړی د غنمو یوه دانه په ښه مځکه کې وکري ددې دانې نه یو بوټی زرغون شي او په هغه کې اوه وږي پیدا شي او په هر وږي کې سل دانې وې چې نتیجه یې دا شوه چې د یوې دانې نه(۷۰۰) دانې حاصلې شوې.

نو مطلب دا شو چې د الله په لار کې د خرڅ کوونکي اجر او ثواب د یو نه واخله تر اووسو پورې رسیږي یعني چې یوه روپۍ خرڅ کړي نو د اووسو روپو خرڅ کولو ثواب به ورته حاصل شي، همدا مطلب کټ مټ د عبدالله ابن عباس رضي الله عنه په حدیث کې هم راغلی دی.

هو! دهقان په هغه صورت کې د غنم د یوې دانې څخه اوه سوه دانې حاصلولی شي چې دا د غنم دانه سالمه او ښه وي، خرابه نه وي او دا کرونکی هم د کرنې په فن کې ماهر او مځکه هم ښه مساعده وي ځکه که له دې شیانو یو هم کم وي نو دانه به ضایع شي یوه دانه به هم ترې حاصله نکړی شي او یا به داسې حاصل ونکړي چې ۷۰۰ دانې ترې حاصلې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه شان د عامو نیکو عملونو او خصوصاً د الله په لار کې د خرڅ کولو د قبولیت او د زیات اجر لپاره هم دا شرطونه دي چې کوم مال د الله  په لار کې خرڅ کوي هغه باید پاك او حلا ل وي، څکه په حدیث شریف کې راځي چې الله تعالی د پاك او حلال مال نه پرته بل څه شی نه قبلوي.

دویم ـ خرڅ کوونکی هم نیک نیته او صالح وي، بدنیته یا د نوم ښودلو لپاره خرڅ کوونکی د هغه ناپوه دهقان په شان دی چې دانه په داسې ځای کې وکري چې هغه ضایع شي.

دریم ـ چاته چې صدقه ورکوي هغه هم د صدقې اخستو مستحق وي کوم غیر مستحق ته یې ورنکړي چې ضایع به شي.

د صدقې د قبولیت دوه منفي شرطونه هم شته یو دا چې صدقه ورکړي بیا پرې زباتنه او احسان بار نکړي. دویم دا چې هغه صدقه اخستونکی خوار او سپك ونه ګڼي او څه داسې سلوك ورسره ونه کړي چې په هغه سره دی خپل سپکاوی او ذلت محسوس کړي یا ده ته څه ضرر په دې سره ورسیږي.

په بل  آیت کې الله فرمایي: چې د غریبۍ یا معذورۍ په حالت کې د سوال کوونکي په ځواب کې څه معقول او مناسب عذر پیش کول. او که سوال کوونکی د بد تمیزئ په وجه څه غصه در ولي نو معاف کول ورته بې حده غوره دي له داسې خیرات یا زکات ورکولو نه چې وروسته پسې ضرر ورسولی شي. الله تعالی په خپله غني(بی حاجته) او برُدباره دی د چا مال ته حاجت نه لري څوك چې څه خرڅ کوي د خپلې ګټې لپاره یې کوي. یعنی هوښیار سړي ته د خرڅ کولو په وخت کې ددې خبرې لحاظ ساتل په کار دي چې زما په چا احسان نشته زه د خپلې ګټې د پاره خرڅ کوم او که د خلکو له طرفه څه ناشکري هم محسوس کړي نو د الهي اخلاقو په رنګ کې دی د معافۍ او تیریدنې څخه کار اخلي.

په ورپسې آیت کې فرمایي چې د صدقې او خیرات نه وروسته زباتنه او یا ضرر رسونه او یا د ریا لپاره صدقه ورکول صدقه او خیرات داسې بربادوي لکه په یوه صافه او هواره تیره باندې چې څه ګرد او خاوره پرې وځي او په هغه کې څوك څه تخم وکري بیا د باران شیبه پرې راشي او دغه تیره بالکل صفا او پاکه کړي، نو داسې خلکو ته به هم د خپلې صدقې هیڅ په لاس ور نه شي.

او په بل آیت کې د﴿لاَ يُؤْمِنُونَ﴾ په زیاتولو سره شاید دې ته اشاره وي چې ریا کاري او د نوم او ښودنې لپاره کار کول د داسې سړي نه تصور هم نشي کیدای چې په الله او د آخرت په ورځ باندې ایمان لري، ریا کاري دده په ایمان کې د خلل نښه ده، په ورپسې آیت کې د اخلاص او خاص د الله د رضا حاصلولو لپاره د صدقه کولو مثال داسې بیان شوی لکه چې یو باغ وي په اوچته او لوړه مځکه باندې او په دې باغ باندې په شیبو باران راشي بیا هغه خپله میوه دوه چنده ونیسي او که داسې په شیبو باران پرې ونه شي نو معمولي پرخه هم ددې لپاره کافي ده او الله تعالی ستاسو کارونه ښهویني او پرې پوهه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په وروسته آیت کې په صدقه او خیرات کې د ذکر شوو شرطونو نه په خلاف کولو د صدقې د باطلیدو او رد کیدلو بیان هم په یو مثال سره داسې ښکاره شوی چې آیا په تاسو کې د چا دا خبره خوښه ده چې دده د خرماوو او انګورو باغ وي او د لاندې ترې نهرونه او ویالې بهیږي او ددې سره په دې باغ کې هر ډول میوې وي او دا سړی بوډا شوی هم وي او دده اهل او عیال هم وي چې هغوی هم واړه او ضعیف وي او په دې حالت کې په ده باندې د سیلی یوه چپه راشي چې اور پکې وي بیا دغه باغ وسوځوي.

هدف دا چې ددې شرطونو څخه د خلاف صدقه کوونکي مثال داسې دی چې په ظاهره خو صدقه کوي د آخرت لپاره ډیره پنګه جمع کوي خو د الله په نزد دا ذخیره او پانګه په هیڅ کار هم نه راځي.

او په آیت کې یې دده د بوډاوالي او دده د اولاد هغه هم واړه بچي او کمزوري قیدونه زیات کړي ددې قیدونو مقصد دا دی چې که د ځوانۍ په حالت کې د چا باغ یا فصل وسوځي نو دا هیله کیدای شي چې بیا به باغ ولګوي او د کوم سړي چې اولاد نه وي او د دوباره باغ لګولو امید یې هم نه وي نو د باغ سوځیدو نه پس هم دده سره د معاش څه خاص فکر نه وي یوازې سړی هرڅنګه چې وي په لنډه او تنګه کې ګذاره کولی شي او چې اولاد یې هم وي خو ځوانان او صالحان وي هم امید ترې کیدای شي چې د پلار کار به هم روان کړي او مرسته به ورسره وکړي په داسې صورت کې هم انسان ته د باغ په سوځیدو څه خاص فکر او پریشاني نه وي ځکه چې د اولاد فکر ورسره نه وي بلکې اولاد دده بوج هم اوچتولی شي.

لنډه دا چې په دې قیدونو سره دده ډیر احتیاج بیان شو چې داسې سړی چې هغه خپل مال او طاقت خرڅ کړی وي او یو باغ یې لګولی وي او هغه باغ تیار شي میوه هم ونیسي او په دې حالت کې بیا ده ته بوډا والی راغلی وي کمزوری شوی وي او ددې سړي اولاد هم وي خو هغوی هم واړه او کمزوري وي نو په دې حالت کې دده دغه رسیدلی باغ وسوځیږي نو څومره سخت غم او څومره لوی تکلیف به وي، همدارنګه کوم سړی چې په ریا کارۍ سره صدقه او خیرات ورکوي نو دا ګواکی ده یو باغ ولګاوه بیا د مرګ نه وروسته دده حال ددغه بوډا په شان شو چې د ګټې او دوباره باغ لګولو قدرت نلري ځکه چې د مرګ نه پس بیا هیڅ عمل هم نشي کولی او لکه څنګه چې عیالدار بوډا دې خبرې ته زیات محتاج وي چې تیره ګټه دده محفوظه وي چې اوس یې په کار راشي نو چې یو طرف ته په ده دا حالت راشي او بل طرف ته دده باغ او مال هر څه وسوځیږي نو دده د غم او درد خو به څه انتها نه وي، دغه شان دا صدقه او خیرات چې د ریا او ښودنې لپاره شوی وي عین په داسې وخت کې به له لاسه ولاړ شي چې دغه وخت به ورته دی ډیر زیات محتاج وي.

نو په ټولو آیتونو د نظر اچولو نه وروسته معلومیږي چې د الله په لاره کې د مال خرڅولو شپږ شرطونه دي:

۱. دا چې کوم مال د الله په لار کې خرڅوي هغه حلال وي.
۲. د سنتو د طریقې مطابق یې خرڅ کړي.
۳. په صحیح ځای کې یې خرڅ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

٤. د خیرات ورکولو نه وروسته احسان او زباتنه پرې ونه کړي.
٥. چاته يې چې ورکوي د هغه سپکاوی ونکړي.
۶. د اخلاص په نیت سره وي یعنی خاص د الله د رضا حاصلولو لپاره وي.

**د تدریس لارې:** د خبرو اترو له لارې، ډله ییز او سوال ځواب.

| وخت | فعالیتونه |
|---|---|
| ۵دقیقې | ـ ښا غلی ښوونکی د سلام او حال احوال او پوښتنې کولو او د ټولګي د تنظیم، د کورنی دندې له کتلو څخه وروسته د تیر لوست ارزونه کوي<br>ـ څوک ویلی شي چې د مر دارې او حرامې وینې څخه کومه وینه مراد ده؟<br>ـ له ځواب ویلو وروسته د بقرې د سورت مبارک آیت په خپله تلاوت کړي.<br>ښاغلي ښوونکی دې له زده کوونکو څخه وغواړي چې په خپله خوښه تختې ته راشي د مبارک آیت سختې کلمې چې د کتاب څخه په تخته لیکل شوې دي دغو لیکل شوو کلماتو ته حرکتونه ورکړي.<br>بیا یو تن زده کوونکي ته دنده ورکړي چې د همدغو سختو کلماتو معنا ولیکي. |
| ۲۵دقیقې | بیا به زده کوونکی په مناسبو ډلو ویشي او دنده به ورکړي چې ددې لوست مبارک آیت د تفسیر او ژباړې په اړوند خپل نظرونه شریک کړي.<br>بیابه د هرې ډلې استازي د تختې مخې ته راشي او له هغوی څخه به وغواړي چې د خپلو ډله ییزو کارونو لنډیز ووایي ترڅو نور هم زده کوونکي تشویق شي.<br>ـ زده کوونکو ته دې لار ښوونه وکړی چې دوه نفره د بغلي عنوانو په اړوند چې د خدای جل جلاله په لار کې د لګښت کولو دوه برابره اجر او بدلې په باره کې د یو بل سره خبرې اترې وکړی.<br>بیا دلوست د نتیجې په باره کې له څو تنو زده کوونکو څخه د بېلګې په توګه پوښتنې کوي او غلطي ورته اصلاح کوي.<br>همدارنګه د بغلي عنوانو په اړوند چې د الله جل جلاله په لار کې لګښت کول دي او بیا په لګښت ورکونکی باندې احسان کول یا ضرر ورته رسول دغه رنګه لګښت دې شخص ته هیڅ ګټه نه لري.<br>او زده کوونکو ته دې لازمې لار ښوونې وشي که زده کوونکو کومه ستونزه لرله په پوره حوصله دې ستونزه ورته حل کړي او بیا دې د پورته موضوع په اړوند زده کوونکو ته نظریات واوروی. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ۱۰دقیقې | **ارزونه**:<br>څوک کولای شي د لاندې کلمو معنا تشریح کړي؟ یُضاعفُ، مناً، مغْفِرةٌ، وَابلٌ، صـلدً، صُفْوانٍ،<br>څوک ویلای شي چې د فقیر یا سوال کوونکي سره څنګه چلند وشي؟<br>ـ الله جل جلاله کوم ډول لګښت پخپله لار کې قبلوي؟<br>ـ ددې لوست په آخر کې په صدقې کوونکو باندې احسان څنګه تشبیه شوي دی؟<br>ـ صدقه د الله جل جلاله په لار کې د زړه له کومې مال لګولـو تـه وایـي خـو ضـر ر او احسان یې باطلوي<br>ـ د الله جل جلاله په لار کې صدقه چـې د زړه پـه اخـلاص او پـاک مـال نـه وي او پـه مناسب ځای کې ولګول شي ثوابونه او بدله یرې پوره ورکوي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپاړسم لوست

# سر لیک: په قران کریم کې انساني مساوات (برابروالی)

**مخ:** ۷۶ـ۷۹

**وخت:** دوه درسي ساعتونه

**موخې:** زده کوونکی باید:

۱ـ د لوست د مبارکو آیتونو په ژباړه ښه وپوهیږي ـ.

۲ـ د ایمان او اسلام نعمت وپیژني ـ.

۳ـ انساني برابر والی وپیژني او د هغې مطابق عمل وکړي ـ.

**د ښوونکي لپاره اضافي معلومات:**

د لوست لومړنی آیت کې د انساني مساوات یو جامع تعلیم دی او فرمایي چې هیڅ انسان د بل انسان څخه کمتر یا ذلیل او سپک مه ګڼئ او د خپلې کورنی، نسب یا مال او پانګې او داسې نورو په بنا فخر او ویاړ مه کوئ ځکه دا څیزونه په حقیقت کې د فخر او ویاړ لپاره نه دي او بل ویاړ او فخر په خپلو منځو کې د نفرت او دښمنی لامل ګرځي نو فرمایي چې ټول انسانان د یو مور او پلار نه پیدا شوي او ټول سره ورونړه دي او د کورنیو او قومونو په اعتبار چې کوم فرق الله تعالی ایښی دی هغه د فخر او ویاړ لپاره نه دی بلکې د تعارف لپاره دی.

د آیت د شأن نزول په هکله وایي چې دا آیت هغه وخت نازل شو چې کله نبي کریمﷺ حضرت بلال حبشيؓ ته د آذان حکم وکړ نو د مکې قریشو چې هرکله لا تر اوسه مسلمان شوي نه وو یوه تن وویل چې د الله شکر دی چې زما پلار وړاندې وفات شوی دی چې دا بده ورځ یې ونه لیده. او حارث بن هشام وویل چې آیا نبي کریمﷺ ته ددې تور کارغه نه پرته بل څوک نه پیدا کیده چې په مسجد حرام کې یې آذان کړی وای، ابوسفیان وویل چې ما هیڅ ونه ویل ځکه چې زه ویریدم چې که څه ووایم نو د آسمانونو مالك به نبي کریمﷺ ته خبر ورکړي، لکه څنګه چې جبرائیل امین تشریف راوړ او نبي کریمﷺ یې ددې خبرو نه خبر کړ، نبي کریمﷺ خلك راوغوښتل او پوښتنه یې ترې وکړه چې تاسو څه ویلي وو؟ هغوی اقرار وکړ نو دا آیت شریف نازل شو او دا یې په داګه کړه چې د فخر او ویاړ څیز په

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقیقت کې ایمان او تقوی ده د کومو نه چې تاسو خالي او حضرت بلال پرې ښایسته دی او له تاسو څخه افضل او غوره دی.

د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی چې د مکې د فتح په ورځ نبي کریمﷺ په خپله اوښه سپور شو، طواف یې وکړ(چې خلک یې ټول ووینې) د طواف نه چې فارغ شو نو دا خطبه یې وویله: الحمد لله الذی اذهب عنکم غبیة الجاهلیة و تکبُّرَها الناسُ رجـلان بـرٌّ تقي کریم علی الله و فاجر شقي هین علی الله ثم تلا ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم﴾ الآیه.

کامله صفات او شکر د الله تعالی دی چې د جاهلیت فخر او تکبر یې ستاسو نه لرې کړ، اوس د ټولو انسانانو صرف دوه ډولونه دي یو ډول نیک او متقي انسانان دي چې د الله په وړاندې شریف او محترم دي. بل ډول فاجر او بدبخت انسانان دي چې د الله په وړاندې ذلیل او حقیر دي. له دې نه وروسته یې د لوست ذکر شوی آیت تلاوت کړ.

حضرت ابن عباسؓ فرمایي: د خلکو په وړاندې عزت د مال او دولت نوم دی او د الله په وړاندې د عزت او کرامت څیز تقوی ده.

**شُعُوبًا وَقَبَائِلَ**: شعوب د شعب جمع ده، هغه لوی جماعت ته وایي چې په یوه اصل باندې مجتمع وي او بیا مختلفې قبیلې او کورنۍ پکې وي، هدف دا چې تر ټولو لویه برخه شعب او تر ټولو وړوکې برخه عشیرة ده.

هو! د قرآن کریم دې آیت واضحه کړه چې الله تعالی که څه هم ټول انسانان د یو پلار او مور نه پیدا کړل او ټول یې ورونه سره جوړ کړي خو بیا یې په مختلفو قومونو او قبیلو کې د تقسیم حکمت دا دی چې د خلکو تعارف او پیژندګلوي آسانه شي مثلاً دوه سړي په یو نامه دي نو د کورنۍ او خاندان په تفاوت سره په دوی کې فرق کیدای شي.

او بل د نسبي لریوالي او نږدې والي په مقدار ددوی شرعي حقوق اداء کیدای شي. د عصباتو لرېوالی او نږدې والی معلومیږي چې ضرورت یې د میراث په تقسیم کې پیښیږي.

**د تدریس لاره:**

په پټه خوله مطالعه، پوښتنه او ځواب

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فعالیتونه | وخت |
|---|---|
| ښاغلی ښوونکی د سلام او روغبړ څخه وروسته د تیر لوست په اړوند د زده کوونکو ارزونه کوي.<br>څوک کولای شي د تیر لوست د آیتونو شان نزول بیان کړي؟<br>څوک ویلی شي چې الله جل جلا له کوم ډول صدقه او انفاق خو ښوي او قبلوي یې؟<br>ښاغلی ښوونکی د نوي لوست عنوان د تختې پر مخ لیکي او نوی لوست د ا لله جل جلاله په نوم پیل کوي.<br>د قرآن کریم مبارك آیتونه د تجوید په مرعاتولو سره زده کوونکو ته د بېلګې په توګه تلاوت کوي بیا له زده کوونکو څخه غواړي چې لوست په پټه خوله ولولي.<br>د لوست په بهیر کې عنوانونه ورته په تخته لیکي او بیا له یو تن زده کوونکي نه غواړي چې د لوست متن په اوچت اواز ولولي .<br>ښاغلی ښوونکی د هر یو بغلي عنوان څخه د بشریت اصل وحدت او ایمان او اسلام په باره کې لازمه تشریح وړاندې کوي.<br>د لوست د تشریح په پای کې دې زده کوونکو ته وخت ورکړي چې خپلې پوښتنې مطرح کړي او ځوابونه ورته ووایي.<br>ښاغلی ښوونکی چې کوم زده کوونکي غوره کړي له هغوی څخه دې وغواړي چې هر یو په خپل وار د ټولګی مخې ته راشي او نوی لوست په ښه طریقه تشریح کړي. | ۵دقیقې<br>۲۵دقیقې |
| **ارزونه**:<br>څوک ویلای شی چې انسان الله جل جلاله د کوم اصل څخه پیدا کړی دی؟<br>څوک کولای شي چې په لوست کې یاد شوی حدیث شریف له یاده ولولي؟ | ۱۰دقیقې |
| **د لوست لنډیز**:<br>دغه لوست په لاندې ټکو سره لنډیږي.<br>ټول انسانان له یو مور او پلار څخه پیدا شوي دي چې ادم او بي بي حوا دي.<br>انسانان یې د مختلفو قومونو او ډلو په څیر پیدا کړي څو یو بل سره وپیژني.<br>د انسانانو غوره والی په یو بل باندې د تقوا او پر هیز ګاری په وجه سره دی. ټول انسانان د نسب په اعتبار سره ورونه دي، انساني کرامت او عزت یې ساتل شوی دی.<br>ایمان د اسلام په نسبت خاص دی دا دیو او بل مکمل کوونکي دي یو دبل څخه پرته نشي راتللی او ویاړنه په اصلیت حرامه ده. | ۵دقیقې |
| **کورنۍ دنده**:<br>ښاغلی ښوونکی زده کوونکو ته د کتاب څخه کورنۍ دنده ورکوي. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اوولسم لوست**

## سرليک: د الله جل جلاله د خاصو بندگانو صفتونه

**مخ:** ۸۰ـ ۸۴

**وخت:** دوه درسي ساعتونه

**موخې:** زده کوونکی باید:

۱ـ دلوست د آیتونو په ژباړه ښه وپوهیږي.

۲ـ د الله جل جلاله دخاصو بنده گانو صفتونه وپیژني.

۳ـ د لوست آیتونه چې څه حکم کوي هغه باید په ژوند کې عملي کړای شي.

**د ښوونکي لپاره اضافي معلومات:**

**حج د مسلمانانو د یووالي سمبول دی**

الله تبارك و تعالی خپل پیغمبرﷺ په داسې حال کې په پیغمبرۍ مبعوث کړ چې جهان خصوصاً عرب د ډیرو زیاتو دښمنیو، نفرتونو او اختلافونو په حال کې ؤ او زړونه یې له کینو او حسدونو څخه ډك وو او ورځ په ورځ یې د جنگونو شغلې تازه کیدلې، نو الله ﷻ وغوښتل چې په زړونو کې یې الفت او مینه واچوي او ټول د یوه قانون او یو بیرغ تر سیوري لاندې راټول کړي او د اتفاق لارې او د ائتلاف اسباب ورته وضع کړي.

نو کله چې ولیده شوه چې دا طریقه د ټولو مسلمانانو د توحید او یووالي او یو د بل سره د الفت او فایدې رسولو لپاره کافي نده ځکه مسلمانان له یوې خوا په شرق او غرب کې سره میشت او تیت دي او له بلې خوا په عناصرو او ژبو کې هم سره متفاوت دي نو الله ﷻ د حج رکن ورته وټاکه ترڅو د ټولې نړۍ مسلمانان د هر جنس او هر مذهب څخه چې وي په یوه میدان کې سره راجمع شي لکه چې په دې آیت کې ورته اشاره کوي:﴿وَأَذِّن فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَى كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ﴾ الحج/۲۷.

ژباړه: او په خلکو کې د حج اعلان وکړه هغوی به تاته پیاده او په سفر وهلو خوارو اوښانو سپاره د ډیرو لرې ځایونو او لارو څخه راځي.

هو! په حج کې له یوې خوا په خپلو منځو کې تعارف او پیژندگلوي منځ ته راځي او له بلې خوا یو د بل له حال او احوال او یو د بل د تجارت، صنعت، زراعت او نورو نیکو او بدو څخه خبریږي څو یو د بل څخه دفاع او یو د بل سره مرسته او خواخوږي وکړي او هم یو د بل څخه د هغه ډول ډول منافعو اقتباس وکړي چې دلته د ټولو ذکر کول د اصلاً موضوع نه وتل دي.

لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ... الآیه.

په لنډه توگه ویلای شو چې په حج کې د ټولو مسلمانانو ترمنځ د دنیوي او اخروي مصلحتونو او گټو تبادله راځي او دا هغه د اسلامي ټولنې معنا ده چې شرق او غرب ورځنې ویریږي خو د افسوس خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ده چې د اسلام دښمنان دا فريضه د اسلامي ټولنې تائيد او مضبوطيا ګڼي او له همدې خبرې څخه په ويره کې پراته دي او مسلمانان ددې مؤثره ګټو څخه غافل او بی خبره دي او که د اداء کولو قصد يې هم وکړي په ظاهري بڼه يې په دې خاطر اداء کوي چې دا يوه فريضه ده او ادا يې واجب ده، ذکر شويو ګټو او حکمتونو ته يې هيڅ پاملرنه نه لري.

هو! حاجي د احرام او طواف په حالت کې هر ډول د ښايست او سنګار اسباب په ځان بندوي او خپل ځان د يوه داسې غلام په توګه تمثيلوي چې مولا او بادار يې پرې په قهر وي او د خپل مولی او بادار پاملرنه او مهرباني ځانته راجلبوي، يعنی حاجي د عرفات په ميدان کې(چې په حقيقت کې حج د همدې عرفات نوم دی) خپل ځان د الله په وړاندې دداسې ګنهګار غلام په توګه ښکاره کوي چې الله ﷻ ته عاجزي کوونکی، حمد او ستاينه ويونکی، د خپلو ښوييدنو او نافرمانيو څخه استغفار غوښتونکی، د خپل مولی په حضور کې خپل عذرونه وړاندې کوونکی، د تير ضايع شوي ګران عمر تلافي او جبرانوونکی، د خپل الله سره د نوې ژمنې تړونکی او بالآخره په راتلونکي ژوند کې د اطاعت او فرمانبردارۍ او په نيکيو توفيق غوښتونکی وي.

د عرفات په ميدان کې ودريدل د يوې خوانه د اسلام د شان او شوکت يو ډير عظيم الشان نندارتون وي او له بلې خوا دا لويه ټولنه او اجتماع انسان ته د حشر ورځ ور په يادوي، همدا سبب دی چې د حج سورت د حشر په بيان شروع کيږي. او ددې اجتماع بی نظيره اغيزناکه منظره په زړونو کې د الله څخه د ښښنې او رحمت جذبې په جوش راولي او ټول عمر دغه خوند او مزه په زړونو کې د تيرې د نقش په څير محفوظ پاتې کيږي.

هو! مکه په دنيا کې د الله د رحمتونو او برکتونو د نازليدو مرکز دی، دا هغه هنداره ده چې په دې هنداره کې د رحمت او ښښنې صفتونه خپلې وړانګې خپروي او له دغه ځايه څخه د هغو وړانګې د ځمکې په ټوله کره کې تيتيږي او دغه کُره ورباندې روښانه کيږي دا هغه سرچينه ده چې له دې ځای څخه د حق پرستی، توحيد او انساني کرامت چينه راوخوټيدله او د ځمکې ټول مخ يې خړوبه او ځلانده کړ.

دا هغه ځای دی چې د ابراهيمي ملت ابتدايي دعوت او د محمدي امت وروستنی آواز د زرګونو کلونو وړاندې د نشنلستی تنګې کړۍ وشلولې او ټول مسلمانان يې د وروړګلوۍ په پراخه کړۍ کې داخل کړل.

دا هغه ځای دی چې د پيړيو پيړيو راپديخوا په دغه ځای کې هر کال عالمګير مجلس منعقد کيږي چې دا مجلس د علم، تمدن، مذهب او اخلاقو د وحدت ترجماني کوي.

دا هغه ځای دی چې په دې کې د هميشه لپاره يوه مشترکه عدالتګاه قايمه ده او ددې محکمې او عدالت حقيقي آمر په خپله احکم الحاکمين ذات دی چې د هغه د فيصلې نه هيڅوک د غاړې غړولو او سرکشی مجال نلري خصوصاً په هغه وخت کې چې مسلمانان تر ۱۵۰ کلونو پورې د يوه خلافت او

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو حکومتي نظام لاندې پاتې وو نو په دغه وخت کې د حج موسم د سياسي او تنظيمي ادارې ډېر لوی عنصر ؤ او د مختلفو هيوادونو حکام او واليان به په دغه ځای کې راټوليدل او د خليفه په حضور کې به يې په مهمو مسئلو بحث کاوه او ټولې مهمې معاملې به يې فيصله کولې.

او هم په دغه ځای کې لوی لوی صحابه کرام، عالمان، محدثين، مفسرين او فقهاء چې د اسلامي فتوحاتو په لړۍ کې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې خپاره شوي وو کامل په کامل په دغه ابراهيمي درسګاه کې سره راغونډېدل او يو د بل څخه به يې استفادې کولې او يو د بل سره يې تعارف کاوه.

مکه په عربي کې«سُرة» يعنی نوم ته ويل کيږي سُرّه(نوم) د بدن نيماني او منځ دی همدارنګه د جغرافيې پوهانو ثابته کړيده چې مکه معظمه هم د بلادو د طول په اعتبار او هم د بلادو د عرض په اعتبار او د ټولې نړۍ مرکز او منځ دی، نو ځکه الله پاک د خپل آخري پيغمبر، آخري کتاب او حج لپاره دا منځ وټاکه څو دا نور هرې خواته خپور شي.

هو! دا چې حاجي ناګنډلې جامې اغوندي او خپل سر نه پټوي دا دده په آخري درجه خضوع او عاجزۍ دلالت کوي او په دې کې خپله بندګي او غلامي ښکاره کوي، او بالآخره حاجې ته په دې حالت کې د محشر ورځ ور ياديږي چې هلته به هم د الله په حضور کې لوڅ او بربنډ ولاړ وي او دنيوي جاه او جلال او پانګه به هيڅ ګټه او فايده نشي ورکولی.

هو! د احرام په حالت کې د ابراهيمي ملت ټول پيروان بادشاه او ګدا، امير او خادم، غني او فقير، د مختلفو تمدنونو او مختلفو ژبو او مذهبونو خلک ټول په يوه لباس يوه حالت او هيئت د يوه قوم په شان بلکې د يوې کورنۍ د سکه وروڼو په څير په يوه کور کې دريږي او په يوه ژبه د الله سره خبرې کوي همدا وضع د مساوات، وحدت او يووالي هغه رنګ دی چې ټول هغه مادي او فطري امتيازونه چې هغه په خلکو کې د جنګ او جدل، فتنې او فساد علتونه دي له منځه وړي او په خپلو کې ورونه ګرځي.

**د تدريس طريقه:**

تشريحي، پوښتنې او ځوابونه، ډله ييز او مباحثوي

| وخت | فعاليتونه |
|---|---|
| ۵دقيقې | ښا غلی ښوونکی د سلام او روغبړ او د زده کوونکو د کورنۍ دندې له کتلو څخه وروسته د تير لوست ارزونه په لاندې پوښتنو سره کوي:<br>۱ـ څوک کولای شی چې د تير لوست ګټې ولولی؟ |
| ۲۵دقيقې | ۲ـ څوک کولای شي چې د تير لوست کې د ذکر شوي حديث ژباړه په ياد ووايي؟<br>۳ـ څوک کولای شي چې ووايي د انسانانو غوره والي په څه کې دي؟<br>ښاغلی ښوونکی د نوي لوست عنوان په غټ ليک سره د تختې پر مخ ليکی او نوي لوست د الله جل جلاله په نوم پيل کوي لومړی يو مبارک آيت د ښيلګې په توګه قرأت کو] بيا له زده کوونکوڅخه غواړي چې هر يو په خپل وار د ټولګي مخې ته راشي او ددې لوست مبارک |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| | آیتونه د تجوید په لحاظ ساتلو سره قرائت کړي او د لوست متن په مناسب اواز سره ولولي. او د لوست په بهیر کې د لوست بغلي سر لیکونه او مهم ټکي د تختې پر مخ لیکي بیا یو تن زده کوونکی د ټولګي مخې ته را غواړي چې د لوست څخه یې څه اخیستي او زده کړي یې دي خپلو ټولګیوالو ته وړاندې کړي. ښاغلي ښوونکی د لوست د تشریح په وړاندې کولو سره د لوست مهم او اساسي ټکي لولي ښاغلي ښوونکی زده کوونکي په دوه ډلو ویشي او هغوی ته لارښوونه کوي چې هره ډله په خپل منځ کې دتکبر او لویئ په باره کې خبرې اترې وکړي د خبرو اترو په پای کې دې د هرې ډلې استازي د ټولګي مخې ته راشي او خپلو ټولګیوالو ته دې د خبرو اترو پایله ولولي. |
| ۱۰دقیقې | **ارزونه**: څوک کولای شي د الله جل جلاله د ځانګړو بنده ګانو اته صفتونه بیان کړي؟ څوک کولای شي دا وروستي مبارک آیت وژباړي(الَّـذِينَ يَمْـشُونَ عَلَـى الْـأَرْضِ هَوْنًـا) سورة فرقان آیت( ۶۳). څوک دلوست درې ګټې ویلای شي؟ |
| ۵دقیقې | **د لوست لنډیز**: دغه لوست په لاندې ټکو سره لنډیږي.<br>۱ـ د الله جل جلاله د ځانګړو بنده ګانو صفتونه په لاندې ډول دي:<br>۲ـ د الله جل جلاله سره شریک نه جوړوي۲ـ په لار ډیر په عاجزي درومي.<br>۳ـ د جاهلانو سره چې مخامخ شي وایي سلام پر تاسو.<br>۴ـ د الله جل جلاله څخه د خپلو ګناهونو ښښنه غواړي او د جهنم د اور څخه لرې والی ـ .<br>۵ـ د مال د لګښت په وخت کې اسراف نه کوي.<br>۶ـ په ټولو کارونو کې اعتدال او انډول غوره کوي<br>۷ـ د بخل څخه ځان ساتي.<br>۸ـ په ژوند کې دخلکو سره ښه او نیک چلند کوي.<br>۹ـ شپه په دعا او عبادت او لمونځ کې رڼوي دا د الله جل جلاله په نزد خوښ کار دی.<br>۱۰ـ په لار کې په تکبر او غرور سره تلل د الله جل جلاله په نزد حرام او نا خوښ عمل دی. |
| | **کورنۍ دنده**: ښاغلی ښوونکی له درسي کتاب څخه زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکوي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اتلسم لوست**

## سر لیک: د ټولنې په تهذیب کې د مؤمنانو ونډه

**مخ:** ۸۵ـ ۸۹

**وخت:** درې درسي ساعتونه

**موخې:** زده کوونکی باید:

۱ـ پردیو ښځو ته کتل ممنوع او منعه دي باید ویې پېژني ـ.

۲ـ د اسلامي حجاب معنا او مفهوم وپېژني او عمل ور باندې وکړي ـ.

۳ـ د مبارک آیت سمه ژباړه زده کړي ـ.

**د ښوونکي لپاره اضافي معلومات:**

د ټولنې په تهذیب او اخلاقو کې یو اهم باب د ښځو پرده ده، چې لومړني څلور آیتونه یې د احزاب په سورت کې هغه وخت نازل شول چې حضرت زینب بنت جحش رضی الله عنها د نبي کریمﷺ په نکاح کې راغله له همدې وخت څخه د پردې احکام پیل شول.

البته د شهوت د فتنې د ټولو نه لومړنی سبب او مقدمه نظر کول او کتل دي او آخري نتیجه یې زنا ده، ددې لوست په آیتونو کې یې ددې دواړو ذکر په وضاحت سره وکړ او حرام یې کړل او ددوی په منځ کې چې کومې حرامې مقدمې دي مثلاً خبرې کول، لاسونه یو بل ته ور وړل او داسې نور د نفس د خواهشونو پوره کولو څومره نا جایزې طریقې او صورتونه ټول په دې کې داخل دي چې باید شرمګاهونه ورځنې وساتو، البته په دې طریقو کې زنا، لواطت، د دوو ښځو یو د بل سره سحاق چې شهوت پرې پوره شي، په لاس سره شهوت پوره کول او ددې ټول مقدمات ممنوع دي.

ابن کثیر د حضرت عبیده نه نقل کړي چې:«کل ما عصی الله به فهو کبیرة و قد ذکر الطرفین».

یعنی په کوم شی چې د الله تعالی د حکم مخالفت کیږي دغه ټول کبیره ګناهونه دي خو په آیت کې یې د هغو دوه طرفونو د ابتداء او انتها ذکر وکړ چې ابتداء یې نظر پورته کول او انتها یې زنا ده.

د نبي کریمﷺ څخه ابن مسعودؓ روایت کړی او فرمایي: نظر یو زهري غشی دی د شیطان د غشو نه کوم سړی چې سره د زړه د غوښتنې خپل نظر واپس کړي نو هغه ته به په بدله کې داسې پوخ ایمان ور په برخه شي چې خوند به یې په زړه کې محسوس کړي.

په صحیح مسلم کې د حضرت جریر بن عبدالله بجلیؓ څخه روایت دی فرمایي چې که په غیر ارادي طور سره نظر په غیر محرمه ښځه باندې پریوځي نو څه کول په کار دي؟ نبي کریمﷺ حکم وکړ چې خپل نظر دغه وخت واپس کړئ. (ابن کثیر).

د حضرت علیؓ په حدیث کې چې راغلی: اول نظر معاف دی دویم ګناه ده.

د هغه مطلب هم دا دی چې اولنی نظر کوم چې بې ارادې ناڅاپه پریوزي دغه د غیر اختیاري کیدو په وجه معاف دی ورنه په قصد سره اولنی نظر هم معاف نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابن کثیر لیکلي دي چې ډیرو مشرانو د امت بې ګیرې هلك طرف ته د کتلو نه ډیره په سختی سره منع کوله او ډیرو عالمانو ورته حرام ویلی دی، غالباً دا په هغه صورت کې دي کله چې په بد نیت او د نفس په غوښتنې سره نظر وکړی شي. و الله اعلم.

د لوست په اولي آیت کې سړیو ته حکم دی چې خپل نظرونه ښکته وساتئ یعنی واپس کوئ یې، د سړیو په حکم کې خو ښځې هم داخلې وي مګر ددوې ذکر یې جدا د تاکید لپاره کړی نو معلومه شوه چې ښځو ته هم د خپلو محرمانو نه پرته بل سړي ته کتل حرام دي، حتی ډیر عالمان وایي چې د ښځې لپاره غیر محرم سړي ته کتل قطعاً حرام دي خواه په شهوت او بد نیت سره ګوري او که پرته د څه نیت او شهوت نه په دواړو صورتونو کې حرام دي، دلیل یې د حضرت سلمه حدیث دی: څکه یوه ورځ حضرت ام سلمه او حضرت میمونه رضی الله عنهما د نبي کریمﷺ سره ناستې وې چې ناڅاپه عبدالله بن ام مکتوم ړوند صحابي راغی او دا واقعه د پردې د احکامو د نازلیدو څخه وروسته راپیښه شوې وه، نو نبي کریمﷺ موږ ته حکم وکړ چې دد نه پرده وکړئ، ام سلمه عرض وکړ چې یا رسول الله دا خو ړوند دی نه موږ لیدلی شی او نه موږ پیژندلی شي، نبي کریمﷺ وفرمایل چې تاسو خو ړندې نه یئ تاسو خو هغه لیدلی شئ. (رواه ابو داود و ترمذی).

نورو څینو فقهاوو ویلی دي چې پرته له شهوته پردي سړي ته په کتلو کې د ښځې لپاره باك نشته او دوی د حضرت صدیقی عایشې په هغه حدیث دلیل نیولی چې د نبوي مسجد په احاطه کې څینو حبشیانو ځوانانو د اختر په ورځ د سپاهی ګیرت لوبه کوله نبي کریمﷺ یې تماشه کوله او صدیقه عایشه رضی الله عنها هم ددوی نه پناه ولاړه وه لوبه یې کتله او ترهغه وخته پورې یې کتله ترڅو چې خپله ترې ستړې شوه، نبي کریمﷺ دا نه وه منع کړې او په دې د ټولو اتفاق دی چې د شهوت نظر حرام دی او له شهوته پرته نظر کول هم خلاف اولی دي او د یوې ښځې د بلې ښځې د ستر ځایونو ته کتل پرته له خاصو ضرورتونو څخه دا هم ددې آیت په الفاظو سره حرام دي او نه یو سړي د بل سړي ستر ته کتلی شي، حتی په آیت کې له هر داسې شي نه نظر ښکته کول او اړول مراد دي د کوم طرف ته چې کتل شریعت منع کړي دي.

په بل آیت کې راغلي﴿وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا﴾ زینت په لغت کې هر هغه شی ته ویل کیږي په کوم سره چې انسان خپل ځان ښایسته کوي هغه ښو جامو ته هم ویل کیږي او زیوراتو ته ه، اما کله چې دا شیان د ښځې په بدن باندې نه وي نو د امت په اتفاق لیدل یې سړیو ته روا دي، اما جمهور مفسرین په دې آیت کې د زینت نه مراد محل د زینت مرادوي یعنی هغه ځایونه کومو ته چې د زینت دا شیان او زیورات ور اچول کیږي.

﴿**إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا**﴾ یعنی د ښځې لپاره د خپل زینت څه څیز د سړیو په وړاندې ظاهرول جایز نه دي پرته له هغو شیانو څخه چې خود به خود ظاهریږي یعنی د کار او ګرځیدو راګرځیدو په وخت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې کوم شيان عادتاً ښکاره کيږي او پټول يې عادتاً مشکل وي هغه مستثنا دي د هغو په ښکاره کيدو کې ګناه نشته.
اوس په دې استثنا کې د حضرت عبدالله بن مسعودﷺ تفسير دا دی چې هغه څادري او لوی څادر ورځنې مراد وي چې د هغو ليدل او ښکاره کول جايز دي. او حضرت عبدالله بن عباسﷺ مخ او ورغوي ورځنې مرادوي، په دې وجه د امت فقهاوو هم په دې هکله اختلاف کړی دی خو د ټولو اتفاق دا دی چې که په مخ او ورغويو د نظر اچولو نه د فتنې ويره وه نو هغو ته کتل هم جايز نه دي او نه ښځو ته يې ښکاره کول روا دي.
اما په دې هم د ټولو اتفاق دی چې ستر د عورت کوم چې په لمانځه کې اجماعاً او خارج د لمانځه نه په صحيح روايت سره فرض دی ددې نه مخ او ورغوي مستثنا دي که دا ښکاره وي او لمونځ کوي نو په اتفاق سره صحيح او درست به شي.
قاضي بيضاوي او خازن ددې آيت په تفسير کې فرمايي چې د آيت له مقتضا څخه دا معلوميږي چې د ښځې لپاره اصل حکم دا دی چې دا دې خپل زينت هيڅ شی هم نه ظاهروي پرته له هغو نه چې په ګرځيدو او راګرځيدو او کار روزګار کې عادتاً ښکاره کيږي لکه څادري او څادر يا مخ او ورغوي، خو دا خبره هيڅ ثابته نده چې سړي دې ددوی مخ او ورغوو ته پرته له ضرورته وګوري بلکې سړيو ته خو حکم دی چې نظر ښکته وساتي.
په دې کې هم شک نشته چې د حسن او زينت ټول مرکز د انسان مخ دی اوس د فتنې او فساد او د نفساني خواهشاتو غلبه ده نو پرته د مخصوصو ضرورتونو څخه لکه علاج او معالجه يا څه سخته خطره او داسې نور ښځې ته د غير محرم په وړاندې قصداً نظر کول هم د شرعي ضرورت نه پرته جايز نه دي.
﴿وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ﴾ دا د آيت صريح حکم دی چې ښځه دې په خپله سينه لوپټه اچولې ساتي جيوب د جيب جمع ده معناېې ده ګريوان او ځرنګه چې د پخوا زمانې څخه ګريوان په سينه باندې وی نو د ګريوان څخه سينه مراد ده.
او دا هم بايد ووايو چې د خاوند نه پرته د نورو محارمو استثنا د پردې او حجاب د احکامو نه ده د ستر عورت نه استثنا نده، د ښځې چې کوم بدن په ستر کې داخل نه دی د کوم ښکاره کول چې په لمانځه کې جايز نه دي هغه ته کتل د محرم لپاره هم جايز نه دي حتی ميړه ته هم د خاص اندام ښکاره کولو په باره کې صديقه عايشه رضی الله عنها فرمايي: ما راى منّي و لا رأيتُ منه. يعنی نه زما خاص اندام ده ليدلی دی او نه ما دهﷺ.
په بل آيت کې فرمايي: چې ښځې دې خپله پښه په ځمکه داسې په زوره نه وهي چې د زيوراتو شرنګ يې نامحرمه واوري، نو چې کله يې د زيوراتو آواز منع شو نو ددې خپل آواز اوريدل خو په اولی صورت منع دی، خو په هر صورت فقها کرام پکې مختلف دي: امام ابو حنيفه د ښځې آذان

(c) ketabton.com: The Digital Library

مکروه بولي، امام شافعي د ښځې آواز په ستر کې نه دی داخل کړی او ازواجو مطهراتو به د پردې له نازلیدو وروسته هم د خلکو سره د پردې څخه خبرې کولې، نو د خبرې نچوړ دا دی چې کوم ځای د فتنې خطره وي هلته یې آواز اوریدل منع دي او که دا خطره نه وه بیا منع نه دی خو د احتیاط خبره داده چې بې د ضرورت نه د پردې نه اخوا هم د غیر محرمو سره خبرې کول منع دي.

د آیت په آخر کې الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایي چې﴿وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ یعنی تاسو ټول په ګډه الله ته توبه وباسئ ای مؤمنانو! څرنګه چې د نفساني شهوتونو معامله ډیره باریکه ده، نورو ته په دې باندې خبریدل مشکل دي مګر الله تعالی د هر پټ او ښکاره نه خبر دی، نو که د چا څخه څه کوتاهي شوې وي نو په ده لازم دي چې توبه ورځنې وکړي په تیر باندې پښیمانه او د الله نه ښنه وغواړي او د راتلونکی لپاره پخه اراده وکړي څو بیا تکرار نشي.

**د تدریس لارې:**

تشریحي، پوښتنې او ځوابونه، ډله ییز، مباحثوي

| وخت | فعالیتونه |
|---|---|
| ۵دقیقې | ښاغلی ښوونکی د سلام او روغبړ څخه وروسته د تیر لوست ارزونه کوي په څو پوښتنو سره. |
| ۲۵دقیقې | ۱ـ څوک کولای شي چې د الله جل جلاله خاصو بنده ګانو څلور صفتونه ووایي؟<br>۲ـ څوک کولای شي چې د تیر لوست د ګټو څخه دوه ګټې ووایي؟<br>۳ـ ښاغلی ښوونکی د نوي لوست سر لیك او په ټولنه کې د مؤمنانو د اخلاقو رول په غټ او ښایسته لیک سره د تختې پر مخ لیکي او نوی لوست د الله جل جلاله په نوم پیل کوي، لومړی به مبارک آیتونه د تجوید په لحاظ ساتلو سره د زده کوونکو لپاره د نمونې په شکل تلاوت کړي، بیا به له یو تن زده کوونکی څخه وغواړی چې د نوي لوست متن په در میانه اواز سره خپلو ټولګیوالو ته ولولي، او یو بل زده کوونکی ته لار ښوونه کوي چې د لوست بغلي سر لیکونه په تخته ولیکي.<br>ښاغلی ښوونکی زده کوونکو ته مبارک آیت ژباړي او د لوست متن ورته تشریح کوي او نامحرمو ته د کتلو او د ښځو د ښایست او سینګار ځایونو په هکله زده کوونکو ته معلومات ورکوي، بیا دوه نفره زده کوونکي غوره کوي او له هغوی څخه غواړي چې هر یو پخپل نوبت سره تختې  ته راشي دلوست بغلي سر لیکونو څخه یو سر لیک تشریح کړي.<br>ښاغلی ښوونکی زده کوونکوته وخت ورکوي تر څو خپلې پوښتنې د ښوونکي سره شریکې کړي. لومړی به د لایقو زده کوونکو څخه وغواړي چې پوښتنو ته ځواب ووایي او که چیرته هغوی ونشو کولای بیا به ښوونکی په خپله زده کوونکو پوښتنو ته ځواب |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| | وايي. |
| ۱۰دقيقې | **ارزونه**: شاغلی ښوونکی دې د ښه اطمنان حاصلولو لپاره د زده کوونکو څخه د درسي کتاب د پوښتنو کولو په وجهې سره د دوی ارزونه کوي. |
| ۵دقيقې | **دلوست لنډيز**:<br>۱ـ ددې لوست په مبارکو آيتونو کې الله جل جلاله ذکر کړي چې زنا د مسلمانانو لپار حرامه ده.<br>۲ـ الله جل جلاله مسلمانان د نا محرمې ښځې د کتلو څخه منع کړې او د نظر د حفاظت امر يې کړی دی.<br>۳ـ مهم حواس چې انسان يې د جنسي غريزې په خاطر استعمالوي هغه باصره يعني کتل يا ليدل دي او بل حس شامه يعني بوی کول دي.<br>۴ـ د قرآن کريم مبارک آيتونه مسلمانو ښځو ته امر کوي چې خپل د عورت ځايونه او خپلې سينې په ټکري پټې کړي.<br>۵ـ د زينت د ځايونوښکاره کېدل خپلو محرمانو ته پروا نه لري البته چې شرعي محرم وي.<br>۶ـ الله جل جلاله مسلمانې ښځې د داسې حرکت څخه منع کړې چې هغه حرکت د زينت د ښکاره کولو سبب او لامل کيږي.<br>۷ـ الله جل جلاله  مسلمانو ښځو ته امر کړی چې کله د کور څخه د باندې وځي په داسې اسلامي حجاب او اسلامي اخلاقو سره ووځي چې د نورو خلکو نظرونه ځان ته جلب نکړي.<br>۸ـ الله جل جلاله مسلمانانو ته د تيرې ګناه څخه په توبه ايستلو امر کړی دی.<br>۹ـ الله جل جلاله ښځو ته د حجاب او ستر او پټوالي امر کړي. |
| | **کورنۍ دنده**:<br>ښاغلی ښوونکی دې زده کوونکو ته له درسي کتاب څخه کورنۍ دنده ورکړي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نولسم لوست:**

## سرلیک: په اسلام کې د معیوبو او فقیرو مؤمنانو مرتبه

**مخ: ۹۰ـ ۹۴**

**وخت:** درې درسي ساعتونه

**موخې:** زده کوونکی باید:

۱ـ عبدا لله ابن ام مکتوم وپیژني.

۲ـ د مبارک آیت په ژباړه او مفهوم ځان پوه کړي.

۳ـ د غریبانو او محتاجو مرتبه په اسلام کې وپیژني.

**د ښوونکي لپاره اضافي معلومات:**

ددې لوست د آیتونو د نزول قصه دا ده چې یو ځل نبي کریمﷺ د مشرکانو ځنې سرداران او مشران لکه: ابوجهل بن هشام، عتبه بن ربیعه، ابی بن خلف، امیه بن خلف او شیبه په اسلام پوهه کول، په دې وخت کې حضرت عبدالله بن ام مکتوم ړوند صحابي راغی او څه پوښتنه یی وکړه او د نبي کریمﷺ خبره یې پریکړه او د نبي کریمﷺ دا کار خوښ نه شو او د ناخوښی په وجه یې مبارک تندی تریو کړ، هرکله چې ددې مجلس نه وزګار شو کور ته د راتلو په وخت دا آیتونه پرې نازل شول.

په دې هکله امام بغوي زیاتوي چې حضرت عبدالله ته د نابینا والي په سبب دا معلوم نشوه چې نبي کریمﷺ د نورو سره په خبرو کې مشغول دی، کله چې مجلس ته داخل شو نبي کریمﷺ ته یی آوازونه شروع کړل او بار بار یې آواز ورکاوه.

د ابن کثیر په یوه روایت کې دا هم دي چې عبدالله د نبي کریمﷺ څخه د یو آیت په هکله پوښتنه وکړه او ددې پوښتنې په فوري ځواب ورکولو یې ټینګار کاوه او نبي کریمﷺ دغه وخت مکې د کفارو سردارانو ته ددین په تبلیغ او پوهه کولو مشغول ؤ.

او هر کله چې عبدالله بن ام مکتوم پوخ مسلمان ؤ او هر وخت حاضریدای شوای، ده په نورو وختونو کې هم پوښتنه کولای شوای په خلاف د قریشو د سردارانو چې نه هر وخت دا خلک په خدمت کې حاضریدل او نه دوی ته د الله دین رسول کیدای شوای.

نو کله چې مجلس ختم شو د عبس سورت ذکر شوي آیتونه نازل شول او د نبي کریمﷺ دا کړنلاره او عمل یی ناخوښه وګاڼه او ده مبارک ته یې لارښوونه وکړه چې د مسلمانانو تعلیم او اصلاح او روزنه او له دوی څخه پاخه مسلمانان او قوي مؤمنان جوړول د غیر مسلمو په اسلام کې د داخلولو د فکر نه زیات اهم او مقدم کار دی، یا په بله وینا یو مسلمان ته تعلیم او د هغه تکمیل او زړه لاس ته راوړنه د غیر مسلمو د هدایت څخه مقدم کار دی.

په دې کې د عامو علماوو لپاره هم لارښوونه ده چې د غیر مسلمو د شبهاتو لرې کولو او دوی د اسلام سره د آشنا کولو په خاطر داسې کارونه کول چې د عامو مسلمانانو په زړونو کې شکوک او

(c) ketabton.com: The Digital Library

شبهات یا شکایتونه پیدا کیږي، ددې قرآنـي هـدایت مطـابق دوې تـه د مـسلمانانو حفاظـت او د حالـ اصلاح ساتل په کار دي، یو اردو ژبی شاعر وایي: ژباړه یـې دا ده: ددې خبـرې نـه ځـان وسـاته چې مسلمانان دې بی وفا ونه ګڼي که کافران درته بی سلوکه او بی رواجه ووایي خیر دی دا بده نده.
همدارنګه عالم او رهبر او هر مشر ته دا لارښوونه وشوه چې خپلو ټولـو مـا تحتـانو تـه پـه یـوه سـترګه وګوري او تقوی، لیاقت او پوهه په نظر کې ونیسي.
او یوه نکته بله پکې دا ده چې د عبدالله بن ام مکتوم نه چې کومه د مجلس د آدابو خلاف خبره وشوه د هغه عذر قرآن د اعمی په لفظ ویلو سره وښوده چې هغـه ړونـد ؤ هغـه نـه پوهیـده چې د چا سـره خبرې رواني دي، په دې وجه هغه معذوره د اعراض مستحق نه ؤ، ددې نـه معلومـه شـوه چې د کـوم معذور سړي نه که په بی خبرۍ کې څه خبره د مجلس د آدابو نه خلاف وشي نو هغه د ملامتیا وړ نـه دی.

**د تدریس لارې:**

سوال او ځواب، تشریحي، مباحثوي...

| وخت | فعالیتونه |
|---|---|
| ۵دقیقې | ښاغلي ښوونکی د سلام او روغبړ او کورنۍ دندې له کتلو وروسته د تیر لوست په اړوند د څو پوښتنو په کولو سره د زده کوونکو ارزونه کوي.<br>۱ـ څوک ویلای شي چې د ښځې محرمان څوک دي؟<br>۲ـ څوک کولای شي چې ددغو لاندې کلمو باقي کلمې ووایي؟ |
| ۲۵دقیقې | اَذزکی لهم، وَلَا یُبدِیْنَ، بِخُمُرِهِنَّ.<br>۳ـ څوک کولای شی چې ووایي د ښځې د زینت څخه مراد څه دي.<br>ښاغلي ښوونکی د تیر لوست د ارزونې څخه وروسته د نوي لوست سر لیک چې په اسلام کې د معیوبو او محتاجو مؤمنانو مرتبه ده په غټ لیک سره لیکي او نوی لوسـت د خـدای جل جلاله په نوم سره پیل کوي. د نمونې په شکل لـومړی د قـرآن کـریم مبـارک آیتونـه زده کوونکو لپاره د تجوید په لحاظ ساتلو سره تلاوت کوي بیا پـه یـو تـن زده کـوونکي باندې مبارک آیتونه تلاوت کوي، بیا یـو تـن زده کـوونکي تـه لارښـوونه کـوي چـې د لوست متن په در میانه اواز سره ولولي، یو بل زده کوونکي نه غواړي چـې بغلـي عنوانونـه په لاندې ډول د تختې پر مخ ولیکي.<br>۱ـ شان نزول.<br>۲ـ عبد الله ابن ام مکتوم څوک ؤ.<br>۳ـ د ځمکې پر مخ انساني معیارونه ـ.<br>۴ـ په اسلام کې د فقیرانو او غریبانو مرتبه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ۵ـ د علم د يادولو ګټې<br>بيا ښوونکی د وړاندې شوي لوست د تشريح او توضيح وروسته د لوست مهم او اساسي ټکي زده کوونکو ته دوباره تکراروي او د لوست په پای کې د زده کوونکو پو ښتنو ته ځواب وايي. | |
| **ارزونه**:<br>ښاغلی ښوونکی د درسي کتاب له سوالونو نه د زده کوونکو ارزونه کوي. | ۱۰دقيقې |
| **د لوست لنډيز**:<br>لوست په لاندې ټکو سره لنډيږي.<br>۱ـ شان نزول، پيغمبر صلی الله عليه وسلم يوه ورځ د قريشو مشران را جمع او هغوی د اسلام مبارک دين ته را بلل، په دغه وخت کې عبدالله ابن ام مکتوم مجلس ته داخل شواو پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته ئې وويل ماته ښودنه وکړه؟ پيغمبر صلی الله عليه وسلم د عبد الله ابن ام مکتوم خبرو ته توجه ونکړه او له ده څخه يې مخ وګرځوه او په خپل دعوت کې مشغول ؤ په دغه وخت کې د قرآن کريم مبارک آيتونه نازل شول. اصلي نوم د عبد الله ابن ام مکتوم عمرو ابن قيس ؤ او د خديجة الکبری د ماما زوی ؤ او د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د مؤذنانو له جملې څخه ؤ په جهاودونوکي به يې شرکت کاوه په پای کې د قا دسيې په جنګ کې شهيد شو، د قرآن کريم د آيتونو له جملې د انسان فضيلت او غوره والي په ايمان او تقوا کې دی د دې آيت د نزول څخه وروسته پيغمبر صلی الله عليه وسلم به د عبد الله ابن ام مکتوم زيات قدر کاوه او خپل څادر به يې ورته غوړاوه او د هجرت څخه وروسته يې د مسلمانانو په منځ کې د ورور ولۍ فضا جوړه کړه. | ۵دقيقې |
| **کورنۍ دنده**:<br>ښاغلی ښوونکی زده کوونکو ته دنده ورکوي چې د لوست ګټې په خپلو کتابچو کې وليکي. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**شلم لوست:**

## **سرلیک**: **د مؤمنانو یو والي**.

**مخ: ۹۵ـ ۹۹**

**وخت:** درې درسي ساعتونه

**موخې:** زده کوونکی باید:

۱ـ د مبارک آیت په ژباړه او مفهوم باندې ځان پوه کړي.

۲ـ د دښمنانو له دسیسو او فریبونو څخه ځانونه خبر کړي.

۳ـ د حق او خلاصون د رسۍ وپیژني او په هغه عمل وکوي.

**د ښوونکي لپاره اضافي معلومات:**

د آیتونو تړون: په تیرو آیتونو کې یې مسلمانان په دې خبردار کړل چې اهل کتاب او نور خلک غواړي تاسو په ګمراهۍ کې اخته کړي نو د خپل ځان د بچاو کوښښ کوئ، په ورپسې آیتونو کې یې د مسلمانانو د ټولنیز قوت د مضبوطیا دوه ډیر مهم اصول ښودلي چې یو تقوی او بل اتفاق او یووالی دی.

اولنی اصل دا دی چې د الله تعالی نه ویره او د هغه د ناخوښو څیزونو څخه د ځان ساتلو پوره کوښښ کول دي چې د الله تعالی د حق مطابق وي.

د تقوی لفظ په عربي ژبه کې د بچ کیدو او پرهیز کولو په معنا کې راځي او د تقوی څو درجې دي، ادنی درجه یې د کفر او شرک نه ځان ساتل دي، ددې معنا په لحاظ هر مسلمان ته متقي ویلی شو که څه هم په ګناهونو کې مبتلا وي ددې معنا لپاره هم په قرآن کریم کې څو ځایه د متقین او تقوی لفظ راغلی دی.

دویمه درجه چې په اصل کې مطلوب ده او الله تعالی یې غواړي، هغه د هغو شیانو څخه ځان ساتل دي کوم چې د الله تعالی او د هغه د رسول په نزد خوښ نه وي، د تقوی کوم فضیلتونه او برکتونه چې په قرآن او حدیث کې راغلي دي هغه هم ددې درجې د خلکو لپاره دي او ددوی لپاره یې وعده شویده.

دریمه درجه د تقوی اعلی مقام دی چې انبیا علیهم السلام او ددوی خاصو نائبینو اولیاوو ته په برخه کیږي چې خپل زړه د هر غیر الله نه بچ کول او د الله په یاد او رضا لټولو سره یې آباد ساتل دي، د آیت په آخر کې الله د«اتَّقُواْ اللّهَ» نه وروسته«حَقَّ تُقَاتِهِ» کلمه زیاته کړیده هدف دا چې د تقوی هغه درجه حاصله کړئ کومه چې د تقوی حق دی.

او د تقوی حق حضرت عبدالله بن مسعود، ربیع، قتاده رضی الله عنهم او حسن بصری رحمه الله چې د رسول اللهﷺ څخه هم مرفوعاً نقل شوی دی دا دی:حق تقاته هو أن یطاع فلا یعصی و یذکر فلا یُنسی و یُشکر فلا یُکفر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعنى د تقوى حق دا دى چې د الله اطاعت په هر كار كې وشي يو كار هم د هغه د اطاعت نه خلاف نه وي او هميشه الله ياد ساتي هيڅكله يې هم نه هيروي او شكر يې هميشه اداء كوي او هيڅكله يې ناشكري نه كوي. دا مطلب د تفسير امامانو په نورو عنوانونو هم اداء كړى دى لكه چې ځنو ويلى دي چې د تقوى حق دا دى چې د الله تعالى په معامله كې د چا د ملامتولو او بدو ويلو پروا نه كوي او هميشه په انصاف قايم وي كه څه هم په انصاف كولو كې په خپله د خپل نفس يا خپل اولاد يا د خپل مور او پلار نقصان هم وي. او ځنې علما وايي څوك تر هغه وخته پورې د تقوى حق نه شي حاصلولى ترڅو چې خپله ژبه محفوظ ونه ساتي. او حضرت ابن عباس او طاووس رضى الله عنهما وايي چې د الله وينا«اتقوا الله ما استطعتم» د حق تقاته خاصه تشريح او تفسير دى. يعنى له الله تعالى څخه دومره وويريږئ څومره چې ستاسو په طاقت كې ده.

وروستې آيت كې الله تعالى فرمايي:﴿فَلاَ تَمُوتُنَّ إَلاَّ وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ﴾ ددې جملې نه معلومه شوه چې تقوى په حقيقت كې پوره پوره اسلام دى، نو كوم سړى چې پخه اراده لري خپل ژوند په اسلام تيروي او د خپل طاقت مطابق پرې عمل كوي نو ان شاء الله تعالى چې دده مرګ به هم خاص په اسلام راځي.

او دا خبره ددې منافي نده چې د ځينو خلكو ټول عمر په نيكو عملونو كې تير شوى وي په آخر كې به يو داسې كار وكړي چې ټول عملونه به يې ابته او برباد شي، داسې حالت هغو خلكو ته پيښيداى شي چې په عمل كې يې د اول نه اخلاص او پوخوالى نه وي.

د مسلمانانو د اجتماعي او ټولنيز قوت دويم اصل د يو بل سره اتفاق او يووالى دى:

په﴿وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللّهِ جَمِيعًا﴾ كې په ډير بليغ او حاكمانه انداز سره بيان دى يعنى د ټولو نه اول يې هغه اصول وښودل كوم چې بني آدمو ته د يو بل سره د تړلو او متفق كولو لپاره د اكسير كار وركوي او بيا يې يو د بل سره د متفق كيدو حكم وكړ او بيا يې يو د بل سره د اختلاف او جدا كيدو څخه منع وفرمايله.

اتفاق او يووالى داسې شى دى چې ددې په ښه والي او ددې په غوښتلو د دنيا ټول بني آدم كه هغه د هر ملك او هرې زمانې وي، د هر مذهب او هرې طريقې سره اړيكې ولري د ټولو اتفاق دى. په دنيا كې به شايد يو سړى هم داسې پيدا نشي چې جنګ او جګړې فايده منې او غوره وبولي، همدا وجه ده چې ددنيا هره ډله او هره پارټۍ خلكو ته د متفق كيدو بلنه وركوي، خو ددنيا د حالاتو تجربه دا ښيي چې كه څه هم د اتفاق په مفيد كيدو او ضروري كيدو د ټولو اتفاق دى خو بيا هم داسې كيږي چې ټول مخلوق(انسانيت) په فريقو، ډلو او پارټيو كې تقسيم دى او بيا په هره ډله كې نورې ډلې او په پارټيو كې نورې پارټۍ جوړې شوې دي چې په حقيقت كې ددوه تنو يو كيدل او اتفاق هم عُنقى ګرځيدلى دى، د وختي غرضونو لپاره يو څو كسان په يوه خبره باندې اتفاق كوي او كله چې د دوى غرضونه پوره شي يا پكې كامياب نشي نو بيا نه يوازې اتفاق ختم شي بلكې دښمنيو ته خبره رسيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که فکر وکړئ نو سبب یې دا معلومیږي چې هر ډله او هره فرقه او هر سړی خلک په خپل جوړ کړي پروګرام باندې متفق او یو کول غواړي او که نور خلک ځانله خپل څه نظام یا پروګرام لري نو دوی د هغو سره د متفق کیدو په ځای هغوی خپل پروګرام ته رابولي او د یو کیدو بلنه ورکوي چې زموږ سره یو شئ او خپل پروګرام پریږدئ نو په دې وجه دا لازمي خبره ده چې د هرې بلنې د یو کیدو نتیجه به د یو ډول خلکو او یو ټولګي په کسانو کې د جدا جدا کیدو او ګډوډ کیدو په صورت کې راوځي او اختلافات به حتماً انسانیت ته راځي او همغه خبره به کیږي: مرض زیاتیږي څومره چې علاج کوي.

په دې وجه قرآن حکیم نه یوازې د یو کیدو، اتفاق، تنظیم او اجتماع وعظ وفرمایه بلکې ددې د حاصلولو او باقي پاتې کولو داسې منصفانه او عادلانه اصول یې هم وښودل چې ددې په منلو سره د یوې ډلې هم اختلاف نه شي راتلی، هغه دا چې د انسان د دماغ یا د یو څو کسانو جوړ شوی نظام او پروګرام په نورو خلکو ورتپل او د هغوی نه دا امید ساتل چې دا ټول به په دې متفق شي، د عقل او انصاف خلاف او د ځان غولولو نه پرته نور هیڅ نه دي، البته د رب العالمین ورکړی شوی نظام او پروګرام ضرور داسې شی دی چې په دې ټول مخلوق ته متفق کیدل په کار دي، یو عاقل سړی ددې نه په اصولو سره انکار نشي کولای.

نو لنډه دا چې اتفاق په یوه طریقه راتلی شي چې د انبیاوو خاتم نبي کریمﷺ د الله تعالی آخري پیغام د قرآن کریم په صورت کې راوړی دی نن د هغه نه پرته بل یو نظام هم د الله په نزد مقبول نه دی او الله یې د ساتلو ذمه هم منلې ده او تر قیامته پورې په دې کې د څه بدلون او تغیر امکان هم نشته، نو که غیر مسلمې ډلې پریږدو او یوازې د مسلمانانو مختلفې پارټۍ د قرآن کریم په نظام باندې متفقې شي نو په زرګونو ډلییز نسلي او وطني اختلافونه به په یو ساعت کې ختم شي کوم چې د انسان د ترقی په لاره کې بندیزونه جوړ شوي دي.

دا چې الله ﷻ فرمایي:﴿وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللّهِ جَمِيعًا﴾ یعنی د الله رسۍ ټول په جمع سره مضبوطه ونیسئ. د الله د رسۍ نه مراد قرآن مجید دی. عبدالله بن مسعودؓ د نبي کریمﷺ څخه روایت کوي چې فرمایلی یې دي: کتاب الله هو حبل الله الممدود من السماء الی الارض.

یعنی د الله تعالی کتاب د الله تعالی رسۍ ده چې د آسمان نه مځکې ته را ځوړنده شوې ده.

په عربي محاوره کې د حبل نه مراد عهد او ژمنه هم ده او مطلق هر هغه شی چې د ذریعې یا وسیلې کار ورکوي، د قرآن یا دین څخه یې په رسۍ سره ځکه تعبیر وکړ چې دا هغه رشته ده چې یو طرف ته د ایماندارو اړیکې د الله سره قایموي او بل طرف ته ټول ایمان راوړونکي د یو بل سره یوځای کوي او یو جماعت ترې جوړوي.

حاصل دا دی چې د قرآن ددې یوې جملې څومره حکیمانه اصول ښودلی دي، یو دا چې هر بنده ته لازم دي چې د الله تعالی په رالیږل شوي د ژوند په نظام او کړنلاره یعنی په قرآن باندې په کلکه عمل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوونکی وي، دویم دا چې ټول مسلمانان یو شي او په دې عمل وکړي نو لازمي نتیجه یې دا کیږي لکه چې یوې ډلې په جمع سره یوه رسۍ نیولې وي نو دغه ټوله ډله یو بدن جوړ شي چې هیڅوک به یې د ځایه نشي خوځولی او نه به یې له منځه وړلی شي.

لنډه دا چې په قرآن شریف منګلې نښلول هغه شی دی چې خواره واره قوتونه پرې جمع کیدای شي او یو مړ قوم پرې تازه ژوند حاصلولی شي.

او دا هم باید ووایو چې د یووالي او اتفاق لپاره ضروري ده چې ددې یووالي یو خاص مرکز وي مرکزونه په مختلفو لارو متصور کیدای شي خو قرآن کریم ټول پریښودل د مرکز یووالی یې د الله تعالی رسۍ(قرآن کریم) محکم نظام وټاکه او دوه ټوکه فیصله یې وکړه چې مؤمن یو قوم دی چې د الله تعالی په رسۍ سره تړل شوی او کافر بل قوم دی چې ددې رسۍ سره نه دی تړل شوی.

**د تدریس لارې:**

تشریحي، سوال او ځواب، ډله ییز، خبرې اترې...

| وخت | فعالیتونه |
|---|---|
| ۵دقیقې | ښاغلی ښوونکی د تیر لوست د مقدماتي موضوعاتو له سرته رسولو نه وروسته د تیر لوست ارزونه کوي په څو پوښتنو سره:<br>څوک ویلي شي چې عبد الله ابن ام مکتوم څوک ؤ؟<br>څوک کولای شي چې د تیر آیت شان نزول ووایي؟ |
| ۲۵دقیقې | ښاغلی ښوونکی د نوي لوست عنوان په غټ لیک باندې د تختې پرمخ لیکي او نوی لوست د الله جل جلاله په نوم شروع کوي بیا لومړی د مبارکو آیتونو قرائت د تجوید په لحاظ ساتلو سره کوي بیا زده کوونکو ته لار ښوونه کوي چې د لوست متن په پټه خوله ولولي د لوست د لوستلو په بهیر کې د لوست مهم ټکي د تختې پرمخ لیکي بیا له یو تن زده کوونکی نه غواړي چې د ټولګي مخې ته راشي د لوست څخه یې چې څه زده کړي وي خپلو ټولګیوالو ته واوروي.<br>ښاغلی ښوونکی د وړاندې شوي لوست د تشریح په وخت کې د لوست مهم او اساسي ټکي زده کوونکو ته بیانوي کړي.<br>او بیا ورته ځوابونه ورکوي او بیا له یو تن زده کوونکي څخه غواړي چې د ټولګي مخې ته راشي او د لوست لنډیز په خپله طریقه تشریح کړي. |
| ۱۰دقیقې | **ارزونه**:<br>ښاغلی ښوونکی د درسي کتاب نه د ګټې اخیستلو په منظور د زده کوونکو ارزونه کوي. |
| ۵دقیقې | **د لوست لنډیز**:<br>په لاندې ټکو سره لوست لنډیږي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ۱ـ مبارک آیت د دوه کسانو انصارو په باره کې نازل شوی چې یو اوس بن قبظي او بل جبار بن صخر و.<br>۲ـ د مسلمانانو د شان سره مناسب ندي چې د یهودو او نصارو خبرو ته لبیک ووایي.<br>۳ـ الله جل جلاله مؤمنانو ته ارشاد فرمایلي یواځنی وسیله چې د یهودو او نصاراوو له فریبونونه پرې خلاصیدی شي هغه الله جل جلاله او د الله جل جلاله دین ته رجوع کول او منګولې وربانديې لګول دي. الله جل جلاله مسلمانانو ته امر کوي چې له ده څخه وویریږي او د اسلام د مبارک دین پابند واوسیږي.<br>مطلب له رسی د حق نه د الله جل جلاله کتاب دی چې عمل وربانديې وکړو د الله جل جلاله په دین منګولې لګول واجب دي اختلاف پکې حرام دی. | |
| **کورنۍ دنده**:<br>ښاغلی ښوونکی د درسي کتاب څخه زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکوي. | |

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library